# اسلام څه شی دی؟

لیکنه: مولانا محمد منظور نعماني

ژباړه: استاد امان الله اماني

Download from:aghalibrary

سریزه:

اسلامي لاربنووونو ته دهرمسلمان اړتیا اوددین دزده کولو غوره والی:

ورونړو! په دومره خبره خو تاسو ټول پوهیږئ چې اسلام د کوم قوم او قبیلې نوم نه دی چې په هغې کې دې پیداکیدونکی هرانسان پخپله مسلمان وي او د مسلمان کیدودپاره دې پرهغه څه کول لازم نه وي،لکه څنګه چې دشیخ یا سید (سادات) په کورنی کې زیږیدونکی هرماشوم پخپله سید یا شیخ وي او هغه ته دشیخ یا سید کیدو لپاره څه کول لازم نه وي بلکه اسلام د هغه دین او پرهغه تګ لارې دژوند تیرولو نوم دی چې دالله جل جلاله ریښتوني رسول (ص) دالله تعالی له لورې راوړی دی او هغه په قرآن مجید اود رسول الله ﷺ په مبارکو احادیثو کې ښودل شوی دی، هرهغه څوک چې دغه دین ومني اوپر همدې تګ لارې (طریقې) باندې روان شي نوهغه اصلي مسلمان دی او کوم وګړي چې نه په دغه دین باندې پوهیږي او نه وربانده تګ کوي هغه اصلي مسلمان نه دی، معلومه شوه چې داصلي مسلمانۍ لپاره دوه خبرو ته اړتیا ده!یوه داچې مونږ داسلام سپیڅلی دین وپیژنو او لږترلږه دهغې د اړینو اوبنسټیزو خبرو په هکله پوهه او علم ولرو او دوهمه داچې دادین ومنو اوقبول یې کړو،اوددې سره سم د عمل کولو پریکړه وکړو. دهمدې نوم اسلام دی اودمسلمان کیدو همدا مطلب دی، نود اسلام

Download from:aghalibrary

پوهه اوعلم تر لاسه کول یعنې ددین په ضروري اواړینو خبرو پوهیدل د مسلمان کیدو لپاره ترټولو لومړنې شرط دی. لکه څنګه چې په حدیث شریف کې راغلي دي:

**طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ (سنن ابن ماجه - (1 / 260)**

یعنې ددین دعلم دلاسته راوړلو لپاره کوښښ او هلې ځلې کول پر هرمسلمان فرض دي.

اوداخبره تل په یاد ساتل په کار دي چې په دین کې کوم شیان فرض دي دهغو سرته رسول عبادت دی. نو له دې کبله دین زده کول او ددین په خبرو دپوهیدلو کوښښ کول هم عبادت دی، د الله جل جلاله په وړاندې دا ډیر اجر اوثواب لري او رسول الله ﷺ ددې ډیر زیات غوره والی اوفضیلتونه بیان کړې دی، په یوحدیث شریف کې راغلي دي:

**مَنْ خَرَجَ فِي طَلَبِ الْعِلْمِ كَانَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ حَتَّى يَرْجِعَ ( ترمذي)**

(څوک چې ددین دزده کړې لپاره له کوره ووځي ترهغې پورې چې بیرته خپل کورته نه وي راغلی نو هغه دالله په لاره کې دی.

په یوبل حدیث شریف کې راغلي دي:

**وَمَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللَّهُ لَهُ بِهِ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ (مسلم)**

(څوک چې ددین دپوهې په طلب اوددین دخبرو دزده کولو لپاره په کومه لاره روان شي نو الله جل جلالهبه هغه ته د جنت لاره اسانه کړي )

په یو بل حدیث شریف کې راغلي دي:

**مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ كَانَ كَفَّارَةً لِمَا مَضَى (ترمذي)**

(ددین دعلم طلب کول اوددې دلاسته راوړلو لپاره کوښښ کول دمخکینو ګناهونو کفاره ده (یعنې په دې سره د انسان ګناهونه بښل کیږي)

لنډه داچې ددین زده کول اود اسلام

Download from:aghalibrary

دضروري او اړينو خبرو دعلم او پوهې دلاسته راوړلو لپاره هڅې او کوښښ کول پرهر مسلمان فرض دي.

که هغه شتمن وي يا بيوزله، زلمی وي يا بوډا، دليک لوست خاوند وي يا نالوستی اوبيسواده، ښځه وي يا سړی د پورتنيواحاديثو څخه داهم معلومه شوه چې په دې کار کې کوم وخت لګيږي اوددې لپاره چې څومره ستونځې اوکړاوونه ګالل کيږي دالله تعالی په دربار کې دهغې ډير لوی اجراوثواب ورکول کيږي نو ځکه مونږ ټول بايد ددې هوډ او عزم وکړو چې ددين دزده کولو اوداسلام دضروري خبرو د پوهې د لاس ته راوړلو لپاره به هرومرو کوښښ کوو.

کوم مسلمان ورور چې دعمردزياتوالې ياپه کاروبارکې دبوختياله کبله په کومه اسلامي مدرسه کې چې منظم ډول دزده کوونکي په توګه دداخليدلو اوددين د زده کړې توان نه لري نودهغه لپاره ددين د زده کړې اود دين د ضروري خبرو معلومولو آسانه طريقه داده: که چيرې نوموړی دليک لوست خاوند وي نو ددين معتبر کتابونه دې ولولي او څوک چې دليک لوست څخه برخمن نه وي نو هغه دې دښو پوهواستاذانوڅخه دغه راز کتابونه واوري. که چيرې په کورونو، حجرو، ټولنيزو ځايونو، اوجوماتونو کې ددې ډول کتابونو لوستل، اوريدل او اورول رواج ومومي نودهر پوړ طبقې په مسلمانانو کې ددين علم اوپوهه عمومي بڼه مونده لای شي. دا وړوکی اوکوچنی کتاب په ځانګړي ډول دهمدې موخې اومقصدلپاره ليکل شوی دی، په دې کې ددين ټولې هغه اړينې اوضروري خبرې اود رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه لارښوونې چې دهرمسلمان پوهيدل پرې اړين دي په ډيره

ساده اوسانه ژبه ليکل شوي دي، راشئ دغه خبري پخپله هم زده کړئ اونوروته يې هم وروښاياست او په نورى کې د دغوديني لارښوونو دخپرولو کوښښ دخپل ژوند موخه وګرځوئ.

په حديث شريف کې راغلي دي :

**« مَنْ جَاءَهُ الْمَوْتُ وَهُوَ يَطْلُبُ الْعِلْمَ لِيُحْيِىَ بِهِ الإِسْلاَمَ فَبَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّبِيّينَ دَرَجَةٌ وَاحِدَةٌ فِى الْجَنَّةِ »** **(سنن دارمي)**

(چې څوک ددين د زده کولو لپاره له دې کبله کوښښ کوي چې ددې په وسيله اسلام ژوندې کړي (يعنې په نورووګړو کې يې خپور کړي اوخلک ددې سره سم روان شي) اوپه دغه وخت کې ورته مرګ راشي نو په آخرت کې به هغه پيغمبرانو ته دومره نږدې وي چې دده او پيغمبرانو په مينځ کې به يوازې ديوې درجې توپيروي.

الله جل جلاله دې مونږ ټولوته ددې توفيق راکړي چې پخپله دين زده کړو نوروته يې وښايو، پخپله ددين په لاره روان شو اود الله جلاله نور بندګان په دې لاره دروانولو کوښښ وکړو.

**محمد منظور نعماني**

## لومړی څپرکې

# کلمة طيبه

**( لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ )**

دالله جل جلاله څخه پرته بل کوم معبود نشته (يعنې بل هيڅوک دعبادت او بندګی لايق نشته) اومحمد صلی الله عليه وسلم دالله رسول دی.

ورونړو! همدا کلمه داسلام دروازه او ددين اوايمان اساس اوبنسټ دی. ددې په منلو اوپه اخلاص سره ويلو دډير عمر کافر اومشرک هم مومن اومسلمان دژغورنې نجات مستحق او وړ ګرځي خو داشرط دی چې په دې کلمه کې دالله تعالی دتوحيد اودحضرت محمد صلی الله عليه وسلم درسالت کوم اقرار دی دايې په پوهه منلی اوقبول کړي وي،نوکه چيري کوم انسان په توحيد اورسالت بيخي نه پوهيږي اوپرته له معنی او مطلب پوهيدلو هغه داکلمه ويلې وي نو هغه به دالله په وړاندې مومن اومسلمان نه وی،نوله دې کبله اړينه ده چې مونږددې کلمې په معنی او مطلب ځان ښه پوه کړو.

ددې کلمې دوه برخې دي، لمړی برخه يې **لااِلٰه الاالله** ده.

په دې کې دالله تعالی دتوحيد اقرار دی اوددې مطلب دادی چې دالله تعالی څخه پرته بل کوم ذات اوهستي نشته چې هغه دې دعبادت اوبندګۍ لايق وی،يواځې يوالله هغه ستر ذات دی چې دعبادت اوبندګۍ لايق دی ځکه چې يواځې الله

تعالی زمونږ اودټولوخالق پیداکوونکی اومالک دی، همغه پالونکې اوروزي ورکوونکی دی، دمېره کولو اوژوندي کولو واکدار اوڅښتن دی، ناروغي او روغتیا، شتمني اوبیوزلي اوهر ډول جوړول او ورانول، ګټه اوتاوان یواځې دهغه په واک او قدرت کې دی، او له هغه پرته چې په ځمکې اواسمان کې کوم څوک دي که انسان وي یا ملایک داټول دهغه بنده ګان اودهغه پیدایښت دی، دهغه په خدایي کې هیڅوک ورسره برخه لرونکې اوشریک نشته اونه هم دهغه په حکمونوکې څوک دکمښت اوزیاتوالي یابدلون توان او اختیار لري، اونه دهغه په کارونو کې څوک دمداخلې واک اوتوان لري، نو له دې کبله یواځې هغه اوپه کامله توګه ددې لایق دی چې دهغه عبادت اوبندګې وکړای شي اوپه ستونځو، کړاوونو اوخپلو ټولوحاجتونو کې په ژړا اوزاری سره دهغه څخه دعا اوغوښتنه وشي،یواځې الله تعالی حقیقي مالک الملک اواحکم الحاکمین دی،یعني دټولې دنیا نړی اوکایناتو پادشاه دی، اودټولو حاکمانو څخه ستر او لوی حاکم دی، نو له دې کبله اړین دي چې دهغه هر حکم ومنل شي اوپه کامله اوپوره وفاداری سره دهغه پرحکمونو تګ وشي اودهغه دحکم په مقابله کې دبل چا حکم هیڅکله ونه منل شي.که هر څوک وي،خپل پلار وي، دوخت حاکم وي، یادقوم اوقبیلې مشر وي یاخپل خوږملګری اودوست وي یا خپله دخپل زړه غوښتنه اودخپل ځان خوښې اوهوس وي. لنډه دا چې مونږ پوه شو اوومومنله چې یوازې یو الله تعالی دعبادت اوبندګی لایق دی، اومونږ یواځې دهغه ذات بنده ګان یو نو لازمه ده چې زمونږ کړه وړه هم ددې سره سم وي چې د نړی وګړي زمونږپه لیدلو وانګیري

چـــې دا دیـوخـــدای بـنـــدګـان دي، دالله تـعـــالـی پـرحکمـونـو روان دي اودالله لـپـاره ژونـــدکـوي اومـــره کـیـږي.

لـنـډه داچې:

**لاالــــــــــــــه الاالله محمــــــــــــــــد رســــــــــــــول الله**

زمـونـږ اقـرارا واعلان وي

**لاالــــــــــــــه الاالله محمــــــــــــــــد رســــــــــــــول الله**

زمـونـږ عقـیـده او ایـمـان وي

**لاالــــــــــــــه الاالله محمــــــــــــــــد رســــــــــــــول الله**

زمـونـږ کـړه وړه اوزمـونـږشـان وي

ورونـو! **(لااله الاالله)** ددین دبـنسټ لـومړنـی خښتـه اودټـولـو پـیغمبرانـوعلیهم الـسـلام تـــر ګـــردو زیـات مهم اولـومړنـی بـلـنـه اوسبق دی اود دیـن پـه ټـولـو خبـروکـې ددې درجه تـــر ټـو لـو لـــوړه اوهسکه ده. د رسول الله صلی الله علـیـه وسلم مـشـهـور حدیـث دی چې فـرمـایـلـي یـې دي:

**الْإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ أَوْ بِضْعٌ وَسِتُّونَ شُعْبَةً فَأَفْضَلُهَا قَوْلُ لَا إِلَـهَ إِلَّا اللَّهُ (بخاري)**

(ایـمـان څـه دپـاسه اویـا څـانـګې لـري اوپـــه دې ټـولـو کـې تـرټـولـو زیـاتـه غوره او اعلـــی د **لااِلـه اِلاالله** ویـل دي.

لـه دې کـبـلـه پـه ذکـرونـــوکـې هـــم تـــر ټـولـــو زیـات غوره ذکـر**لااله الاالله** ذکـرکـول دي څـنـګـه چې پـه یـوبـل حدیـث شریـف کـې دي .

**أَفْضَلُ الـذِّكْرِ لَا إِلَـهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَفْضَلُ الـدُّعَاءِ الْحَمْدُ لِلَّهِ (سنن النسايي)**

پـه ټـولـو ذکـرونـوکـې تـرټـولـــو غـــوره اولـــوړ **دلااله الاالله** ذکـردی اوغوره دعا **الحمدلله** ده.

پـه یـو حدیـث شریـف کـې راغلـي دي :ِ

**قَـالَ : يَـا مُوسَـى لَـوْ أَنَّ السَّمَوَاتِ السَّبْعَ وَعَـامِرَهُنَّ غَيْـرِي ، وَالأَرَضِينَ السَّبْعَ وُضِعْنَ فِي كِفَّةٍ ، وَلا إِلَهَ إِلا اللَّهُ فِي كِفَّةٍ ، لَمَالَتْ بِهِنَّ لا إِلَـهَ إِلا اللَّهُ ". (شرح النسة)**

الله تعالی دموسی علیه السلام دیوې پوښتنې په ځواب کې وفرمایل یا موسی: که چیرې اووه آسمانونه او اووه ځمکې اوڅه چې په دې کې دي دتلې په یوه پله کې کیښودل شي او **لااله الاالله** په بله پله کې نو د **لااله الاالله** پله به درنه شي.

ورونو! د **لااله الاالله** داغوره والې اووزن له دې کبله دی چې په دې کې دالله تعالی دتوحید ژمنه اواقرار دی یعنې یواځې دهغه دعبادت اوبندګی کولو اودهغه دحکمونو دپیروی اوهغه خپل هدف اومقصد ګرځولو او دهغه سره دخپل زړه تړون او پریکړه ده، اوهمدا د ایمان اواسلام روح دی، له همدې کبله رسول الله ﷺمسلمانانو ته حکم کړی دی چې دا کلمه دې پرلپسې وایې اوخپل ایمان دې پرې تازه کوي. ډیرمشهور حدیث دی چې یوه ورځ نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**جَدِّدُوا إِيمَانَكُمْ قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَكَيْفَ نُجَدِّدُ إِيمَانَنَا قَالَ أَكْثِرُوا مِنْ قَوْلِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ** **( مسنداحمد)**

(ای خلکو! خپل ایمانونه تازه کوئ ځینو اصحابوکرامو پوښتنه وکړه !مونږ څنګه خپل ایمانونه تازه کړو؟ نبي علیه السلام وفرمایل: **لااله الاالله** ډیرډیر (په کثرت سره) وایي.

د **لااله الاالله** په ویلو سره دایمان دتازه کیدو لامل دادی چې په دې کې دالله تعالی توحید یووالی یعنې یواځې دهغه دعبادت اوبندګی اوترتولو زیات د هغه سره دوفاداری، مینې اودهغه داطاعت ژمنه او اقرار دی اوڅنګه چې یادونه وشوه همدا د ایمان روح دی. په خومره غوراوتوجه سره چې مونږداکلمه ولولو په هماغه کچه به زموږ ایمان تازه اوزمونږ ژمنه به پخه وي اوانشاءالله تعالی چې بیابه

د **لااله الاالله** سره سم عمل اوکړه وړه کوو. ورونو! داپریکړه وکړئ چې درسول الله صلی الله علیه وسلم دحکم اولارښوونې سره سم به مونږ داکلمه په غوراوپوهې سره وایو ترڅو زمونږ ایمان تازه وي اوزمونږ ټول ژوند د **لااله الاالله** په قالب کې برابرشي..

تردې ځایه دکلمې شریفې یواځې دلمړنی برخې **لااله الاالله** بیان وشو.

## دکلمې دوهمه برخه
## (محمد رسول الله)

په دې کې دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم درسالت اوپیغمبرۍ اقرار اواعلان دی. درسول الله ﷺ درسالت مطلب دادی چې الله تعالی هغه دنړۍ دلارښوونې اوهدایت لپاره رالیږلی دی اوهغه چې کوم څه ښودلي او د کوم شي په هکله یې چې خبر ورکړی دی هغه ټول سم، صحیح اوپه کامل ډول حق دي.

دبیلګې په توګه قرآن مجید دالله له لوري نازلیدل، دملایکو شتون، دقیامت راتلل، له مرګه وروسته په دوهم ځل دمړو ژوندي کیدل اودخپلو خپلو کړو وړو سره سم جنت یا دوزخ ته تلل اوداسې نور.

لنډه داچې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم درسول کیدو مطلب دادی چې هغه کومې خبرې په دې ډول خلکو ته ښودلي دي هغه ټولې په کامل ډول سمې اوحق دي چې هیڅ شک اوشبهه پکې نشته اوهمدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم چې وګړوته کومې لارښونې کړې دي اوکوم احکام یې ورکړي دي هغه ټول په اصل کې دخدای تعالی لارښوونې اوخدایي احکام دي چې دوحې په وسیله ورته ښودل شوي دي. له دې څخه به تاسې پخپله پوه شوي یاست چې

دیوانسان درسول په حیث له منلو څخه پخپله دالازمیږي چې دهغه هره لارښوونه اوحکم باید ومنل شي، ځکه چې الله تعالی یوغوره انسان له دې کبله دخپل رسول په توګه ټاکي چې دهغه په ذریعه خپلو بندګانو ته خپل هغه احکام ور ورسوي چې پرهغو باندې دبندګانوڅخه دتګ کولو غوښتنه کوي، الله تعالی په خپل مبارک کتاب کې فرمایلي دي :

﴿ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ ﴾ النساء: ٦٤

مونږ هیڅ رسول نه دی استولې مګر ددې لپاره چې دالله په حکم یې منته وشي.

لنډه داچې په رسول الله صلی الله علیه وسلم دایمان راوړلو اوباور کولو موخه اومطلب دادی چې دهغه هره خبره په کامله توګه حق منل،دهغه په لارښوونو اوتعلیم باندې ځان پوهول اودهغه په حکمونو دعمل کولو پریکړه کول. نوکه چیرې کوم انسان کلمه لولي خو دخپل ځان په هکله یې داهوډ اوعزم نه وي کړی چې زه به درسول الله صلی الله علیه وسلم هره خبره په کامل ډول حق اوددې پرخلاف به ټولې خبرې ناسمې، اودهغه دشریعت اوحکمونوسره سم به چلن نه کوم، نودغه انسان په اصل کې مومن اومسلمان نه دی اوکیدای شي چې هغه دمسلمان کیدو په مطلب نه وي پوهیدلی. داڅرګنده خبره ده کله چې مونږ کلمه وویله اورسول الله صلی الله علیه وسلم مو دالله تعالی برحق رسول ومنلو نودازمونږ لپاره اړین دي چې دهغه دحکمونو پیروي وکړو، دهغه ټولې خبرې ومنو اودهغه په راوړي شریعت باندې په کامل ډول عمل وکړو.

## کلمه په اصل کې یوه ژمنه او اقرار دی

دکلمې شریفې ددواړو برخو **(لااله الاالله محمدرسول الله)** دمطلب تشریح او وضاحت پورته بیان شو. له دې څخه به تاسو پوهیدلې یاست چې کلمه په اصل کې ددې خبرې اقرار، ژمنه اوتعهد دی چې زه یوازې یو الله تعالی دعبادت اوبندګۍ لایق اومالک بولم اود دنیا او اخرت هرشی یوازې دهغه په واک اواختیار کې ګڼم نوله دې کبله به زه یوازې دهغه ذات عبادت اوبندګي کوم اوبنده چې څنګه دخپل مولا او اقا پر حکمونو چلیږي نو زه به هم دهغه پرتېولو حکمونو عمل کوم اودهر شي څخه زیات به له هغه سره مینه اومحبت لرم، او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دخدای تعالی ریښتوني اوبرحق رسول منم، اوس به زه دیو امتي په توګه دهغه اطاعت اوپیروي کوم، اودهغه په راوړې شریعت باندې به عمل کوم، په اصل کې ایمان دهمدې ژمنې اواقرار نوم دی اودتوحید او رسالت د شاهدی ورکولو مقصد اومطلب همدا دی، نو ځکه هرکلمه ویوونکي مسلمان ته پکار دي چې خپل ځان دغه ژمنې او شاهدی ته ژمن وګڼي اودهغه ژوند دهمدې اصولو سره سم تیر شي ترڅو هغه دالله تعالی په وړاندې یو ریښتونی مومن اومسلمان اود ژغورنې نجات اوجنت حقدار وي. د داسې نیکمرغه وګړولپاره ډیر ستر زیري اوبشارتونه راغلي دي چې دپاکې کلمې دواړه اجزاء (توحید او رسالت) په ریښتوني زړه او اخلاص منې اوپه زړه، ژبې اوعمل سره ددې ګواهي ورکړي. له حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت معاذ رضی الله عنه ته وفرمایل:

**مَا مِنْ أَحَدٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ صِدْقًا مِنْ قَلْبِهِ إِلَّا حَرَّمَهُ اللَّهُ عَلَى النَّار ِ(بخاري)**

(څوک چې په ریښتوني زړه سره د **لااله الاالله محمدرسول الله** شاهدي ورکړي نو الله تعالی د دوزخ په آورحرام کړی دی.

ورونو! د **(لااله الاالله محمدرسول الله)** حقیقت اوددې په ارزښت باندې ځان ښه پوه کړئ، په زړه اوژبه ددې ګواهي ورکړئ اوداپریکړه وکړئ چې خپل ژوند به دهمدې شاهدی سره سم تیروئ.

ترڅوزمونږ شاهدي دروغ ونه خیژي، ځکه چې پرهمدې شاهدی زمونږ ایمان، اسلام اوزمونږ ژغورنه اونجات تړاو لري.

نوپکارده چې:

**لااله الاالله محمد رسول الله** زمونږ پوخ ایمان اویقین وي

**لااله الاالله محمد رسول الله** زمونږ اقرار او اعلان وي

**لااله الاالله محمد رسول الله** زمونږ دژوند اصول اوتولو نړیوالوته زمونږ پیغام وي، ددې دخپرولو اوپورته کولو لپاره مونږ ژوند وکړو اومړه شو.

دوهم څپرکې

# لمونځ

## دلمانځه اهمیت او اغیزې:

پرالله تعالی اورسول الله صلی الله علیه وسلم دایمان راوړلو اوپه توحید اورسالت د شاهدۍ ورکولو څخه وروسته ترټولو لومړی اوتر ټولو ستر فرض په اسلام کې لمونځ دی. لمونځ دالله تعالی ځانګړی او خاص عبادت دی چې په شپه او ورځ کې پنځه ځله فرض کړای شوی دی. دقرآن مجید په سلګونو آیتونو اود رسول الله صلی الله علیه وسلم په ډیرو زیاتو احادیثو کې دلمانځه په هکله ډیر ټینګاراوتاکید شوی دی او لمونځ ته د دین ستن او د دین بنسټ ویل شوی دی.

لمونځ ځانګړې اغیزې لري، که چیرې په سمه طریقه اداکړای شي، اودالله تعالی په حاضراو ناظر ګڼلوپه پوره توجه،پاملرنې، خشوع، خضوع اوعاجزۍ سره ولوستل شي نوپه دې سره دانسان زړه پاک او سپیڅلی کیږي، ژوندې سمېږي،ګناهونه ورځینې لیرې کیږي،دنیکی اوریښتنولی مینه اودالله تعالی ویره اوخوف دهغه په زړه کې پیدا کیږي. نوله دې کبله په اسلام کې دنوروټولو فرضونوڅخه زیات په همدې باندې ټینګاراوتاکید شوی دې اوپه همدې خاطرد رسول الله ﷺ دافرمان ؤ چې هرکله به هغه ته د اسلام منلو لپاره څوک راغی نوهغه به ورڅخه دتوحید دلارښوونې څخه وروسته لومړنی ژمنه دلمانځه اخستله. لنډه داچې دکلمې څخه وروسته لمونځ داسلام بنسټ دی.

## دلمانځه ترک کوونکې د رسول الله ﷺ په نظر کې:

له مبارکو احاديثو څخه معلوميږي چې رسول الله ﷺ دلمونځ نه کول دکفر خبره اودکافرانو طريقه او تګ لاره ګرځولې ده، اودابه يې فرمايل چې څوک لمونځ ونه کړي نو دهغه په دين کې هيڅ برخه نشته لکه څرنګه چې دصحيح مسلم په يو حديث کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

**بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلَاةِ** (مسلم)

(دبنده او اسلام ترمنځ دلمونځ پريښودلو فاصله ده)

مطلب دادی که چيرې انسان لمونځ پريږدي نو کفر ته رسيږي.

په يو حديث شريف کې راغلي دي :

" **بيننا وبينهم ترك الصلاة فمن تركها فقد كفر** " . (مسند بزار)

څمونږاوهغوی ترمنځ بس دلمانځه پريښودل دي،څوک چې هغه پريږدي نوکفريې وکړ.

لمونځ اداکول ډير ستر دولت اوډيره لويه نيکمرغي ده اود لمونځ پريښودل لوی هلاکت او ستره بدمرغي ده. ددې دمعلومولوپاره رسول الله صلی الله عليه وسلم پرلمانځه دتاکيد اوتينګار په لړکې فرمايلي دي:

**مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا كَانَتْ لَهُ نُورًا وَبُرْهَانًا وَنَجَاةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهَا لَمْ يَكُنْ لَهُ نُورٌ وَلَا بُرْهَانٌ وَلَا نَجَاةٌ وَكَانَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ قَارُونَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَأُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ** (مسنداحمد)

(څوک چې لمونځ په سمه طريقه اوخپل ټاکلي وخت باندې اداکوي نودهغه لپاره به (دغه لمونځ) په قيامت کې نوراورڼا وي، اودهغه لپاره به د(ايمان او اسلام) دليل وي، اودنجات ذريعه به وي. اوڅوک چې (لمونځ) په ښه طريقه اوخپل ټاکلي وخت ادانه کړي نودهغه لپاره به نه نور وي او نه به ورته دليل وي، اونه به يې له عذاب څخه وژغوري اودغه انسان به دقيامت

په ورځ دقارون، فرعون، هامان، او ابی بن خلف سره وي.
ورونو! مونږهريو ته سوچ اوفکرکول اړين دي،که چيرې مونږ په سمه طريقه پرخپل ټاکلي وخت اوپابندی سره دلمانځه پرادا کولو ځانونه عادت نه کړونوبيا به زموږ حشر او راپورته کيدل له قبرونوڅخه ښنګه وي.

## دمحشرپه ميدان کې سپکاوې اورسوايي:

دلمانځه پريښودونکي اونه اداکوونکي چې دقيامت په ورځ دکوم سخت ذلت اورسوايي سره مخامخ کيږي نو دادقرآن مجيد په يوآيت شريف کې داسې بيان شوي دي.

﴿ يَوۡمَ يُكۡشَفُ عَن سَاقٖ وَيُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ ٤٢ خَٰشِعَةً أَبۡصَٰرُهُمۡ تَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۖ وَقَدۡ كَانُواْ يُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ وَهُمۡ سَٰلِمُونَ ٤٣ ﴾ القلم: ٤٢ - ٤٣

((په کومه ورځ چې الله پاک خپله پونډۍ بربنډه اودوی سجدې ته را وبلل شي نوتوان به يې نه وي چې سجده وکړي. سترګې به يې ټيټې اوسپکاوي به خوارکړي وي. هو! هغه وخت چې دوی روغ رمټ وو سجدې ته بلل شوي وو))
دپورتني آيت شريف مطلب اولنډيز دادی چې دقيامت په ورځ به (حال داچې ډيرسخت ساعت به وی اود دنيا له پيل څخه نيولې ترقيامته پورې ټول انسانان به په محشر کې راغونډ وي) نو الله تعالی يوه ځانګړې اوخاصه تجلي به ښکاره شي،په دغه وخت کې به آواز وکړای شي چې ټول خلک دې دالله پاک په وړاندې سجده وکړي نوکومو نيکمرغو مومنانو چې په دنيا کې لمونځونه اداکول او الله تعالی ته يې سجدې کړې وي نو هغوی به

په بیره ژر سجده وکړي خو کومو وګړو چې د روغ رمټ بدن درلودلو سره یې لمونځونه نه اداکول نودهغوی ملاګانې به په دغه وخت کې دتختوپه څېرسختې کړای شي اوهغوی به دکافرانوسره ولاړپاتې شي.

سجده به ونه شي کړای اوپرهغوی به دسخت سپکاوي اوخوارئ عذاب خپورشوی وي، دهغوی سترګې به ټیټې اوخوارې وي، پورته به دکتلو توان نه لري، د دوزخ له عذاب څخه مخکې به دسپکاوي اوخوارئ دغه عذاب په محشرکې دټولوانسانانو په وړاندې وګوري. الله تعالی دې موږ ټول له دغه عذاب څخه وساتي.

په اصل کې دلمونځ پرېښودونکې اونه اداکوونکې انسان په پوره ډول دخپل خدای څخه باغي دی اوهغه چې څومره خوار او رسوا کړای شي اوهرڅومره عذاب چې ورکړای شي نوبیې له شکه هغه ددې وړ او مستحق دی.

داسلامي امت دځینو امامانو په وړاندې دلمانځه پرېښودونکي وګړي له دین څخه وتلي خارج اودمرتدینو په شان دوژلووړدي.

ورونو! مونږ ټول باید په دې باندې په سمه توګه څانونه پوه کړو چې دلمانځه څخه پرته داسلام دعوا بې ځای اوبې بنسټه ده.

دلمانځه اداکول هغه ځانګړې اسلامي کړنه اوعمل دی چې دالله تعالی سره زموږ تړاؤ ټینګوي اومونږ دهغه دمهربانئ اورحمت مستحق اووړوي.

## دلمانځه برکتونه:

کوم بنده چې پنځه وخته دالله تعالی په

وړانـــدي حاضـــر اولاس تـړلـــی ودریـــږي، دهغـــه ستـاینه اوسپیڅلتیا یـادوي، حمدوثـنا وایـــي، دهغه پـه وړانـدي سرښکته کـوي،پـرسجده پـریـوځي اولـه هغه نـه دعاګـاني غواړي نـودغه بـنده دالله تـعـــالـی دڅـــانـګړي مینـــې او رحمـــت مســـتحق ګـرځي،دهروخت پـه لـمانـځه سره دهغه ګناه بـښل کـیږي،دهغه پـه زړه کـې روښـــنایـي اونـورانـیـــت پـیـــداکیږي اوژونـــد یـــې دګنا هونـولـــه خیـــرو اوچټلـیو څخه پـاکـیږي. پـه یـو حدیث شریف کـــې راغلـي دي چې رسول الله صلی الله عليـه وسلم دیـــو ډیـر غوره مثـال پـه بـیانـولـو سره وفـرمـایـل:

**أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهَرًا بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ فِيهِ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسًا مَا تَقُولُ ذَلِكَ يُبْقِي مِنْ دَرَنِهِ قَالُوا لَا يُبْقِي مِنْ دَرَنِهِ شَيْئًا قَالَ فَذَلِكَ مِثْلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ يَمْحُو اللَّهُ بِهِ الْخَطَايَا (بخاري)**

(وواېـاست! کـه چیرې پـه تـاســو کـــې دکـــوم یـود کـور مخې تـه یـو نـهر بـهیـــږي اوهغـــه پـــه دغه نـهرکـې هره ورځ پـنځه ځلـه لامبـــي نـوایـــا دهغـــه پـــه بـــدن بـــه خیـــره پـــاتې شـــي؟ اصحابـوکـرامـو وویـل: دالله رسولـه! هیڅ بـــه یـــې پـربـــدن پـــاتـې نـــه شـــي! نـبـــي علـیـــه الـسلام وفـرمـایـل: نـود پـنځو لـمونځونـومثـال همدغه شان دی الله تـعالـی ددې پـه بـرکـــت ګـناهونـــه اوخطاګـــانـې لـیرې کـوي.

## دجماعت په لمانځه تاکید اود هغې غوره والې:

درسول الله صلی الله علیـه وســـلم لـــه احادیـثو څخه دا هم مـعلـومـیږي چې دلـمانـځه داصل غوره والـي اوبـرکت د لاسته راوړلـولـپاره پـه جماعت سره لـمونځ اداکـول هـم شــرط دي. او پـــه دې بـانـدي دومره زیـات تـاکیـــد اوټـینګارشــوی دی چې کـوم خلـک بـــه دغفلـــت یـاسستـی لـــه املـــه جمـاعت تـه نـه حاضریـدل،دهغوی پـــه بـاره کـــې رسول الله صلی الله علـیـه وسلم یـوځل وفـرمـایـل:

فَيُحَرِّقُوا عَلَيْهِمْ بِحُزَمِ الْحَطَبِ بُيُوتَهُمْ (مسلم)

(زما زړه غواړي چې ددغوکسانو کورونه وسوزوم .

نو يواځې له همدې يو مبارک حديث څخه جوتېږي چې دجماعت لمونځ پريښودل دالله تعالی اورسول الله صلی الله عليه وسلم په وړاندې څومره ناخوښ دي.

او په صحيح حديث کې راغلي دي چې:

صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلَاةَ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً (بخاري)

(په جماعت سره دلمونځ ادا کولو ثواب د يواځې لمونځ ادا کولوڅخه اووه ويشت درجې زيات دی)

څرګنده دې وي چې دجماعت دلمانځه دغه تاکيد اوغوره والی يواځې دنارينوو لپاره دی، په حديث شريف کې ښکاره ويل شوي دي چې دښځو په خپلو کورونو کې دلمونځ کولو ثواب په جومات کې له اداکولوڅخه زيات دی.

په منظم ډول اوپابندی سره په جومات کې دجماعت لمونځ اداکولو اجراوثواب په آخرت کې دورکولو سربېره په دنيا کې هم ډيرې ستري ګټې اوفايدې لري، دمثال په ډول داچې دجماعت له پابندی څخه په انسان کې دوخت دپابندی وړتيا او عادت پيداکيږي، په شپه ورځ کې پنځه ځله دکلي مسلمان ورونه په يو ځای کې سره راغونډيږي چې له دې څخه ستري او لويې ګټې اوفايدې ترلاسه کوي، دجماعت له پابندی څخه دلمانځه پوره پابندی په برخه کيږي اوکوم وګړي چې دجماعت پابندي نه کوي زيات لمونځونه يې قضاء کيږي. اويوه ستره ګټه يې داده چې په جماعت سره دلمونځ کوونکي هرمسلمان لمونځ دټول جماعت دلمانځه برخه ګرځي چې په هغوي کې دالله تعالی داسې صالح اونيک بنده ګان هم وي چې

لمونځونه یې دخشوع اوخضوع درلودونکي وي او الله تعالی هغه قبلوي. او الله تعالی دمهربانۍ اوکرم څخه داهیله کیدای شي چې کله هغه ذات دجماعت دځینو وګړو لمونځونه قبول کړي نودهغوی سره په جماعت کې لمونځ کوونکو نورو خلکو لمونځونه به هم قبول کړي، سره له دې چې لمونځونه یې دهغه درجې ته نه وي رسیدلي.

بدان رابه نیکان به بخشدکریم

نومونږ هریوباید دافکر او سوچ وکړو چې پرته له سختې مجبورتیا دجماعت لمونځ دلاسه ورکول دڅومره ستر ثواب او لویو برکتونو څخه خپل ځان بې برخې کول دي.

## دخشوع اوخضوع اهمیت:

په خشوع اوخضوع سره دلمانځه اداکولو مطلب دادی چې د الله تعالی په حاضراو ناظر ګڼلو سره لمونځ په داسې ډول وکړای شي چې زړه یې دهغه ذات له مینې څخه ډک وي او دهغه دوېرې، لویوالي اوعظمت فکر یې پر زړه اوبدن مسلط وي. لکه څنګه چې کوم مجرم دیو ډیرستر حاکم اوباداشاه په وړاندې ودریږي نو داسې فکر وکړئ چې زه دخپل خدای په وړاندې حاضریم اودهغه دتعظیم لپاره ولاړیم،درکوع پروخت داسې وانګیرئ چې زه دهغه په وړاندې شکته کیږم، په همدې ډول کله چې سجده کوي نو همدا خیال وکړي چې زه دهغه په وړاندې سجده کوم اودهغه په وړاندې خپله خواري اوعاجزي څرګندوم. ډیره ښه اوغوره خو داده چې ددریدو اوقیام په حالت کې اوپه رکوع اوسجده کې چې څه لولي دغه ټول په پوره پوهه اوغورسره ولولي. په اصل کې دلمانځه اصلي لذت اوخوند هغه مهال

موندلی شي چې څه په لمانځه کې ویل کیږي دهغو په معنی اومطلب دپوهیدو سره ولوستل شي، په لمانځه کې چې کوم اذکار لوستل کیږي دهغو دمعناګانو زده کول ډیر آسان دي. په لمانځه کې خشوع اوخضوع اوداﷲ په لوري دزړه توجه په اصل کې دلمانځه روح اوساه ده اوداﷲ تعالی کوم بنده ګان چې په دغه ډول لمونځ ادا کوي نودهغوی ژغورنه ،نجات،بریالیتوب اوکامیابي باوري اویقیني ده، ﷲ تعالی فرمایي:

﴿ قَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ۝١ ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي صَلَاتِهِمۡ خَٰشِعُونَ ﴾ المؤمنون: ١ - ٢

(( په باوري ډول مؤمنان بریمن دي، هغوی چې په خپل لمانځه کې خشوع اوعاجزي کوي.))

اوپه یو مبارک حدیث کې دي چې رسول ﷲ ﷺ وفرمایل:

**(( يَقُولُ خَمْسُ صَلَوَاتٍ افْتَرَضَهُنَّ اللَّهُ تَعَالَى مَنْ أَحْسَنَ وُضُوءَهُنَّ وَصَلَّاهُنَّ لِوَقْتِهِنَّ وَأَتَمَّ رُكُوعَهُنَّ وَخُشُوعَهُنَّ كَانَ لَهُ عَلَى اللَّهِ عَهْدٌ أَنْ يَغْفِرَ لَهُ وَمَنْ لَمْ يَفْعَلْ فَلَيْسَ لَهُ عَلَى اللَّهِ عَهْدٌ إِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُ وَإِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ )) (سنن ابو داؤد)**

(ﷲ تعالی پنځه لمونځونه فرض کړي دي څوک چې په سمه توګه ددې لپاره اودس وکړي اوپه ټاکلې وخت یې ادا کړي اورکوع او سجدې هم په سمه توګه وکړي اوپه پوره خشوع اوعاجزی سره یې ادا کړي نو ددغه بنده لپاره داﷲ تعالی ژمنه اووعده ده چې ﷲ تعالی به یې وبخښي، اوڅوک چې داسې ونه کړي (یعنې په دغه ډول لمونځ ادا نه کړي) نودهغه لپاره داﷲ تعالی ژمنه نشته که وغواړي نو وبه یې بخښي اوکه وغواړي نوعذاب به ورکړي.

که چیرې مونږ داغواړوچې داخرت له عذاب څخه نجات ومومو او ﷲ تعالی مونږه وبخښي

نو پرمونږ لازم دي چې دپورتني حديث شريف دلارښوونې سره سم پنځه وخته لمونځونه په ډيره ښه طريقه اداکړو.

## دلمانځه د ادا کولو طريقه:

کله چې دلمانځه وخت راشي نو مونږ بايد لومړې په ښه ډول اودس وکړو اوداسې فکروکړو چې د الله تعالى په دربار کې دحاضرۍ اودهغه دعبادت لپاره پاکوالې او سپيڅلتيا اړينه او ضروري ده، دادالله تعالى ښکينه اواحسان دی چې په اوداسه کې يې هم زمونږ لپاره ډير رحمتونه اوبرکتونه ايښي دي. په حديث شريف کې راغلي دي:

**مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ جَسَدِهِ حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِهِ (صحيح مسلم - (2 / 46)**

((چاچې په ښه او غوره توګه اودس وکړ،دبدن څخه به يې ګناهونه ووځي ان چې دنوکانو لاندې ګناهونه به يې هم ووځي )).

يعنې د ګناهونو ناوړه اغيزې داوداسه په اوبو سره وينځل کيږي.داودس څخه وروسته چې کله مونږ دلمانځه دپاره ودريږو نو اړينه ده چې په سمه اوښه توګه په خپل زړه کې داتصور پوخ او ژور کړو چې مونږ ګناهګار اومختورن بنده ګان دخپل هغه مالک او معبود په وړاندې دريږو چې زمونږ دظاهر، باطن، پټ اوښکاره حالاتو څخه په کامل ډول خبردی اود قيامت په ورځ دهغه ذات په وړاندې ودريدل حتمي دي، نو د کوم وخت لمونځ چې اداکوئ په ځانګړې ډول دهمغه وخت نيت وکړئ اودسنت طريقې سره سم ترغوږونو پورې لاسونه پورته کړئ په زړه او ژبه ووايا ست:

الله اکبر: (الله ډير لوی دی)

بیا لاسونه وتړئ اود الله تعالی په وړاندې دپوره حاضریدو سوچ اوفکر وکړئ اوداثنا ولولئ:

**سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ تَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلَا إِلَـهَ غَيْرُكَ (بخاري)**

(سُبْحَانَکَ اللهم) ای زما خدایه پاک دی ذات ستا
(وبحمدک) ستاینه اوثنا ده تالره
(وتبارک اسمک) اوبرکت لرونکی دی نوم ستا
(وتعالی جدک) هسک اولوړ دی شان ستا
(ولا اله غیرک) اونشته بل معبود پرته له تانه

أَعُوذُ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ﴿بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝١ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝٢ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝٣ مَٰلِكِ يَوْمِ ٱلدِّينِ ۝٤ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝٥ ٱهْدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ۝٦ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ ٱلْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ۝٧﴾

الفاتحة: ١ - ٧

(اعوذ) پناه غواړم
(با الله) په الله سره
(من الشیطن) له شیطان
(الرجیم) مردود رټل شوي
(بِسْمِ اللهِ) شروع کوم په نوم د الله
(الرَّحْمنِ) چې ډیر زیات مهربان
(الرَّحِیم) اوښه ښونکی دی
(الْحَمْدُ للهِ) ټولې ستاینې خاص الله لره دي (دخدایتوب ټول صفتونه یوازې الله لره دي).
(رَبِّ الْعَالَمِینَ) چې پالونکې دټولو کایناتو دی.
(الرَّحْمنِ الرَّحِیمِ) ډیر زیات مهربان اوښه

بښونکی دی
(مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ) خښتن دورځې دجزاء دی
(إِيَّاكَ نَعْبُدُ) يوازې ستا عبادت کوو
(وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ) او يوازې له تا کومک اومرسته غواړو
(اهدِنَا) وښايه مونږ ته
(الصِّرَاطَ المُستَقِيمَ) ليا ره سمه
(صِرَاطَ الَّذِينَ) ليا ره دهغوکسانو
(أَنعَمتَ عَلَيهِمْ) چې لورينه کړې تاپر هغوی
(غَيرِ المَغضُوبِ عَلَيهِمْ) نه چې غضب شوی پرهغوي (نه ليار دغضب شوو خلکو چې يهود دي).
(وَلاَ الضَّالِّينَ) اونه ليار ورکي اوګمراهان، (او نه ليار دګمراهانو چې نصاراد ي).
( آمين ) ای الله دغه دعا زما قبوله کړی.
له دې څخه وروسته کوم سورت ياد يو سورت څه برخه (آيتونه) ولولئ ، مونږ دلته دقرآن شريف څو لنډ سورتونه دژباړې سره ليکو:

﴿إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ وَٱلۡفَتۡحُ ١ وَرَأَيۡتَ ٱلنَّاسَ يَدۡخُلُونَ فِي دِينِ ٱللَّهِ أَفۡوَاجٗا ٢ فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَٱسۡتَغۡفِرۡهُۚ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابَۢا ٣﴾ النصر: ١ - ٣

(وَالْعَصْرِ) لوړه اوقسم په زمانې
(إِنَّ الإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ) بې شکه انسان خامخا په تاوان کې دی
(إِلاَّ الَّذِينَ آمَنُوا) پرته له هغو کسانوچې ايمان يې راوړی
(وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ) او نيک عملونه يې کړي دي.
(وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ) او وصيت يې کړی يوتربله په حق

(وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ) او وصيت يې کړی يوتربله په صبر.

﴿ قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝١ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ۝٢ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ۝٣ وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ ۝٤ ﴾ الإخلاص: ١ ــ ٤

(قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ) ووايه هغه الله يو دی

(اللَّهُ الصَّمَدُ) الله بې نيازه دی

(لَمْ يَلِدْ) نه يې دې زيږولې (نه ترې څوک پيدا دي).

وَلَمْ يُولَدْ) اونه زيږول شوې (او نه دچانه پيدا دی).

(وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ) او نشته لپاره دهغه سيال هيڅوک (او نه څوک دده برابر دی)

﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلْفَلَقِ ۝١ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ۝٢ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ۝٣ وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّـٰثَـٰتِ فِى ٱلْعُقَدِ ۝٤ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ۝٥ ﴾ الفلق: ١ - ٥

(قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ) ووايه! د تيارو څيرونکي سهار په رب پناه غواړم.

(مِن شَرِّ مَا خَلَقَ) دهغه دټولو پيداکړو څيزونو له شر څخه

(وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ) اود شپې دخورې اودرنې تيارې له شر څخه

(وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ) اوپه غوټو پوکې کوونکو کوډګرو ښځو له شرڅخه

(وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ) اود حسد او رخه کوونکي د حسد او رخې له شرڅخه

﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ۝١ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ۝٢ إِلَـٰهِ ٱلنَّاسِ ۝٣

مِن شَرِّ ٱلْوَسْوَاسِ ٱلْخَنَّاسِ ﴿٤﴾ ٱلَّذِى يُوَسْوِسُ فِى صُدُورِ ٱلنَّاسِ ﴿٥﴾ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ﴿٦﴾ ﴾ الناس: ١ - ٦

(قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ) ووايه پناه غواړم په رب دخلکو
(مَلِكِ النَّاسِ) په واکمن دخلکو
(إِلَهِ النَّاسِ) په معبود دخلکو
(مِن شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ) دهغو هميشني وسوسه اچوونکو له شرڅخه.
(الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي) هغه چې وسوسه اچوي
(صُدُورِ النَّاسِ) په زړونو دخلکو کې
(مِنَ الْجِنَّةِ وَ النَّاسِ) له پيريانو او انسانانو.

په هر حال د الحمد شريف څخه وروسته دقرآن مجيد کوم سورت يا دکوم سورت يوه برخه (څو آيتونه) لوستل لا زم دي او په هرلمانځه کې دومره قراءت يعنې دقرآن مجيد لوستل اړين دي. کله چې قراءت وکړئ نو دالله تعالی د عظمت او لويوالي په هکله فکروکړئ، په زړه اوژبه الله اکبر ووايي، رکوع ته ولاړ شئ اوطاق ځله ووايې:

( سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ ) پاک دی رب زما چې ډيرلوی دی
( سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ ) پاک دی رب زما چې ډيرلوی دی
( سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيم ) پاک دی رب زما چې ډيرلوی دی

کوم وخت چې په رکوع کې دالله تعالی دپاکی او لويوالي دغه کلمات پر ژبه جاري وي نو په زړه کې هم دهغه ذات دسپيڅلتيا او لويوالي پوره پوره احساس پکار دی.

ددې څخه وروسته له رکوع سر راپورته کړئ او ووايي چې:

( **سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ**) اوري الله تعالی چې څوک د هغه ستاینه اوثناکوي
له دې وروسته ووایئ:
( **رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ** ) ای زمونږ ربه ټولې ستاینې ستا لپاره دي
له دې څخه وروسته بیا په ژبه اوزړه سره الله اکبر ووایئ
اود خپل رب په وړاندې په سجدې پریوځئ اویوه په بل پسې دوه سجدې وکړئ اوپه سجدو کې دالله تعالی لورته پوره توجه وکړئ اوهغه ذات حاضر او ناظر وګڼئ او داچې الله تعالی زما هره خبره اوري.
په ژبې، زړه او روح سره څوطاق څله ووایئ :
( **سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى** ) پاک دی رب زما چې دستراولوړ شان لرونکی دی.
(**سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى** ) پاک دی رب زما چې د ستراولوړ شان لرونکی دی.
( **سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى** ) پاک دی رب زما چې دستراولوړ شان لرونکی دی.
دسجدې په حالت کې چې کوم وخت دغه کلمات پرژبه جاري وي نو په زړه کې دخپلې عاجزۍ ، بیوزلی اود الله پاک دبې اندازې لوړوالي اوستروالي پوره پوره توجه اوفکر کول په کاردي. دغه توجه اوفکر چې څومره زیات او ژور وي نولمونځ به په هماغه اندازه زیات ښه او ارزښناک وي ځکه چې دادلمانځه روح دی. دا یواځې دیو رکعت یادونه و شوه بیا چې څورکعات لمونځ ادا کوئ نوپه همدغه ډول یې اداکړئ خو داپه پام کې ساتئ چې ( **سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ** ) یواځې په لومړي رکعت کې لوستل کیږي. دلمانځه په پای اومینځ کې چې کله په قعده کې کینئ نوتشهد (**التَّحِيَّات** ) لوستل کیږي چې داګواکې دلمانځه

لنډیز،خلاصه اوجوهر دی اوهغه دادی.

**(التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ (بخاري)**

(( دادب اوتعظیم ټولې کلمې یواځې دالله لپاره دي، ټول عبادتونه اوخیراتونه (صدقې) دالله دپاره دي، سلام دې وي پرتابانديې اي پیغمبره اودالله پاک رحمت اودهغه برکتونه ! سلام دې وي پرمونږ اودالله پاک پرتولونیکو بنده ګانو باندې ! شاهدي ورکوم چې دالله څخه پرته بل معبود نشته او شاهدي ورکوم چې محمد صلی الله علیه وسلم دالله بنده او رسول دی.))

په درې رکعتې اوڅلور رکعتې لمونځونو کې چې کله په دوهم قعده کې کښینی نویواځې همدغه **التَّحِيَّاتُ** تراخره لوستل کیږي اوکله چې په وروستنی او آخري قعده کې کینئ نو د **التَّحِيَّات** څخه وروسته درود شریف اودعا هم لوستل کیږي دغه دواړه هم دلته لیکو:

**( اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَآلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَآلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ (سنن نسايي)**

(( ای الله خپل خاص رحمت نازل کړې پر محمد ﷺ اودهغه پرکورنی اواهل باندې څنګه چې رحمت کړی تاپرابراهیم υ اوپراهل دهغه باندې، بې شکه ته ستایلی شوی اود لوی شان څښتن یې. ای الله برکتونه نازل کړې پرمحمد ﷺ ، اوپراهل اولاد دده، څنګه چې تا برکتونه نازل کړي پرابراهیم υ اوپراهل دهغه بې شکه ته ستایلی شوی اودلوی شان څښتن یې.))

دا درود شریف په اصل کې د رسول الله ﷺ اود

هغه داهل او اولاد لپاره (يعني دنبي ﷺدکورنی اودهغه سره دخاص ديني تړاؤ لرونکو لپاره) درحمت اوبرکت دعا ده.
څنګه چې موږ ته ددين ستر نعمت اود لمانځه لوړ دولت د رسول الله صلی الله علیه وسلم په واسطه رارسېدلی دی نو له دې کبله الله تعالی د رسول الله صلی الله علیه وسلم ددغه شيګڼې اواحسان دمنني اوشکرپه توګه پرمونږ باندې دامقرر او لازم کړی چې کله لمونځ اداکوو نو په پای کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اودهغه سره دخاصو تړاؤ لرونکوخلکو لپاره درحمت اوبرکت دعاهم وکړو نوځکه موږ ته شايي چې دهرلمانځه په اخرکې د التحيات لوستلو څخه وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه شيګڼه اواحسان راياد کړو اوپه ريښتوني توګه پر هغه باندې دغه درود شريف ولولواو دهغه په واسطه درحمت اوبرکت دعا وغواړو، له درود شريف څخه وروسته دخپل ځان لپاره دعا وکړئ او له دې څخه وروسته بيا سلام وګرځوئ.

**( اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِي إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ (بخاري)**

(( ای الله ماپرخپل ځان ډير زيات ظلم کړی (اوستا په فرمانبرداری اوعبادت کې له مانه ډيره نيمګړتيا شوې ده) او له تانه پرته بل هيڅوک دګناهونو بښونکې نشته نوته يواځې پرخپل فضل اوکرم سره ما وبښې او پر ما رحم وکړې ته بښونکی اوډير مهربان ذات يي.))
په دې دعا کې دخپلو ګناهونو او نيګړتياوو اقرار دی اودالله تعالی څخه په عاجزی او زاری سره دبښنې اومهربانی

غوښتنه ده. په حقيقت کې د بنده لپاره همدغه مناسب دي چې هغه دلمانځه په شان عبادت د اداکولو پروخت هم د خپلې نيمګړتيا اوقصور اعتراف وکړي، خپل ځان ګنهګار او عاجز وګڼي، د الله تعالى بښنه اودهغه رحمت اومهربانۍ خپله ډاډمنتيا اوتکيه وشميري اود عبادت په کولو دهغه په زړه کې دغرور احساس پيدا نه شي ځکه چې دالله تعالى دعبادت پرځای راوړلوحق مونږ هيڅکله هم نه شو ادا کولای. په دې څپرکې کې چې مو دلمانځه اړوند دکومو خبرو يادونه اړينه بلله هغه ټول مو بيان کړل، په پای کې يوځل بيا وايو چې لمونځ ډير اغيزناک عبادت دی که چيرې داپه پوره غور، فکر، توجه، پوهې، خشوع او خضوع سره ادا شي نو دغه راز لمونځ دانسان څخه په کړو وړو او اخلاقو کې ملايکه اوفرښته جوړولای شي.

ورونو! دلمانځه پراهميت اوارزښت ځانونه پوه کړئ، رسول الله صلى الله عليه وسلم به دخپل امت پرلمانځه دقايم او دايم پاتې کيدو په هکله دومره فکر کاوه چې بيخي په وروستني وخت کې هم چې کله رسول الله صلى الله عليه وسلم له دې فانې نړۍ څخه رحلت کاوه اوپر مبارکه ژبه څه ويل ورته هم ستونځمن و نو هم رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل امت ته پرلمانځه دقايم پاتې کيدو اود لمانځه داداکولو په هکله په ډير زيات ټينګار سره وصيت فرمايلی ؤ.

کوم مسلمان چې نن ورځ لمونځ نه ادا کوي اود لمانځه دقايمولو اوخپرولو په لاره کې څه کوښښ نه کوي نو هغه دې دخدای لپاره فکروکړي چې دقيامت په ورځ به هغه څنګه دخپل پيغمبر صلى الله عليه وسلم سره مخامخ کيږي اوپه څه ډول به د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره سترګې په سترګوکيږي؟ حال داچې هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم وروستنی وصيت تر پښو لاندې کوي !! راشئ موږ ټول دحضرت ابراهيم عليه السلام هغه دعا چې په قرآن مجيد کې راغلې ده ولولو:

﴿رَبِّ ٱجْعَلْنِى مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ وَمِن ذُرِّيَّتِى ۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَآءِ ﴿٤٠﴾

﴿رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ يَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡحِسَابُ ﴿٤١﴾﴾ إبـراهيم: ٤٠ ـ ٤١

(رَبِّ اجْعَلْنِي) ای ربه زما! وګرځوه ته ما
(مُقِيمَ الصَّلاَةِ) ودره وونکی د لمانځه
(وَمِن ذُرِّيَّتِي) او له اولادی زما
(رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَاء) ای ربه زمونږ! اوقبوله کړه دعا زما
(رَبَّنَا اغْفِرْ لِي) ای ربه زمونږ! بښنه وکړه ماته
(وَلِوَالِدَيَّ) او مور او پلار زماته
(وَلِلْمُؤْمِنِينَ) او ټولو مومنانوته
(يَوْمَ يَقُومُ) هغه ورځ چې کيږي به
(الْحِسَابُ) حساب

دريم څپرکې

# زکات

د اسلام په اساسي لارښوونو کې د ایمان او لمانځه څخه وروسته دزکات درجه ده، یعنې زکات د اسلام دریم رکن دی. دزکات مطلب دادی چې که دکوم مسلمان سره ټاکلې اندازه مال اوشتمني وي نوهغه به هرکال ددغه مال شمیرکوي اودخپل مال او دولت څلویښتمه برخه به غریبو، نادارو اوبیوزلو خلکو ته یا د نیکی په نورو اړوندو برخو کې ورکوي چې دزکات د لګښت لپاره الله تعالی او رسول الله صلی علیه وسلم ټاکلي دي.

(د زکات مسایل، احکام اودمصارفو بیان

دفقهې په کتابونو کې وګورئ یاد علماوو
څخه پوښتنه وکړئ

## د زکات غوره والې او اهمیت:

په قرآن مجید کې څای پرځای دلمانځه سره څنګ په څنګ پر زکات ټینګارا وتاکید شوی دی، که چیرې تاسې دقرآن مجید تلاوت کړی وي نو په ډیرو ځایونوکې به تاسو لوستلي وي چې :

﴿وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ ﴿٧١﴾﴾ التوبة: ٧١

یعنې ودروي لمونځونه اوورکوي زکاتونه.
اوڅوځایه دمسلمانانو لازمي صفت دابیان شوی دی چې ( ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ ) یعنې هغوی ودروي لمونځونه او ورکوي زکات، له دې څخه معلومه شوه چې کوم خلک لمونځ نه اداکوي اوزکوة نه ورکوي هغوی په بنسټیزه توګه مسلمانان نه دي څکه داسلام کومې خبرې اوصفات چې په اصلي مسلمانانو کې یې شتون اړین دی په هغوی کې نشته. په هرحال دلمانځه نه اداکول اوزکات نه ورکول دقرآن مجید د بیان سره سم دمسلمانانو صفت نه دی بلکه دکافرانو اومشرکانو صفت دی، دلمانځه په باره کې الله پاک فرمایلي دي

﴿وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَلَا تَكُونُوا۟ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٣١﴾﴾ الروم: ٣١

(( او ودروئ تاسی لمونځونه اومه کیږئ تاسو له مشرکانوڅخه)).
او د زکات نه ورکول یې دمشرکانو اوکافرانوخوی اوعادت ښودلې دی.

﴿ وَوَيۡلٞ لِّلۡمُشۡرِكِينَ ٦ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ كَٰفِرُونَ ٧ ﴾ فصلت: ٦ ـ ٧

(( اوهلاکت دی لپاره دمشرکانو، هغه کسان چې نه ورکوي زکات اوهغوی له آخرت نه هم منکردي.))

## دزكات د نه وركوونكي لپاره درد ناك عذاب:

دزکات نه ورکوونکی به دډیر بد او ناوړه انجام سره په قیامت کې مخامخ کیږي اوکومه سزاچې هغوی ته ورکول کیږي هغه دومره سخته ده چې په اوریدو یې دانسان غونی زیګیږي اوزړه ترې لړزیږي. په سورت توبه کې الله تعالی فرمایي:

﴿ وَٱلَّذِينَ يَكۡنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلۡفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ٣٤ يَوۡمَ يُحۡمَىٰ عَلَيۡهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكۡوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمۡ وَجُنُوبُهُمۡ وَظُهُورُهُمۡۖ هَٰذَا مَا كَنَزۡتُمۡ لِأَنفُسِكُمۡ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمۡ تَكۡنِزُونَ ٣٥ ﴾ التوبة: ٣٤ ـ ٣٥

(( اوهغه کسان چې خزانه کوي سره زر او سپین زر اونه مصرفوي هغه په لیار دالله کې نوزیري ورکړه هغوی ته په عذاب دردناک. هغه ورځ چې ډیري ګرمې به شي دا خزانې په اورد جهنم کې، نوداغول کیږي به په دغو خزانو تندي دهغوی، اړخونه دهغوی، اوشاګانې دهغوی، اوویل کیږي به هغوی ته چې داهغه څه دي چې خزانه کړي وو تاسې لپاره دځانونوخپلو، نووڅکئ تاسې هغه څه چې خزانه کول به مو))

ددې آیت شریف دمضمون تفصیل رسول الله ﷺ په

یوحدیث کې هم بیان کړیدی.

**(( مَا مِنْ صَاحِبِ كَنْزٍ لَا يُؤَدِّي حَقَّهُ إِلَّا جَعَلَهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُحْمَى عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَى بِهَا جَبْهَتُهُ وَجَنْبُهُ وَظَهْرُهُ حَتَّى يَقْضِيَ اللَّهُ تَعَالَى بَيْنَ عِبَادِهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ مِمَّا تَعُدُّونَ ( سنن ابوداؤد)**

(دکوم شخص سره چې سره زراو سپین زر يعنې مال او دولت وي اوهغه ددې څخه حق ادانه کړي (يعنې زکات او نورحقونه تري ورنه کړي) نو د قيامت په ورځ به دجهنم په اورکې ډيرې زياتې تودې اوګرمې کړاى شي اوپه هغې سره به دده تندى، اړخونه اوشا داغول کيږي، ان ترهغې پورې چې الله تعالى دخپلو بندګانو ترمنځ په هغه ورځ کې پريکړه کوي چې ستاسې په حساب پنځوس زره کاله ده) يعنې هغه ته به پنځوس زره کاله دا سخت عذاب ورکول کيږي.

په ځينو مبارکو احاديثو کې دزکات دنه ورکوونکو لپاره له دې څخه دسختو عذابونو يادونه هم شوې ده.

الله تعالى دې مونږ ټول دخپل عذاب څخه وساتې ! الله تعالى چې کومو خلکو ته شتمني اودولت ورکړى دى که چيرې هغوى زکات ورنه کړي اودالله تعالى دحکم سره سم يې دالله تعالى په لياره کې ونه لګوي نو بې له شکه دغه ډير ناشکره اوډيرظالم دي اوهغوى ته چې په قيامت کې کوم سخت عذاب ورکول کيږي هغه په کامل ډول پرځاى دى.

## زکات نه ورکول ظلم اودنعمت نا شکري ده:

ښايې په دې هم فکر وشي چې په زکات اوصدقاتوسره په اصل کې دخپلو بيوزلو او اړمنو ورونو سره مرسته او کو مک کيږي نودزکات نه ورکول په اصل کې پرخپلوبيوزلو

او اړمنو ورونو ظلم کول او ددوی حق خوړل دي.
ورونو! لږ غونډي فکروکړئ! زمونږ اوستاسې سره چې کوم مال اوشتمني ده دغه ټول د الله تعالی ورکړه ده اومونږ پخپله هم دهغه بنده ګان اوپیدایښت یو نو که چیرې هغه له مونږ څخه ټول مال وغواړي بلکې دخپلو ځانونو دسرښندنې اوقربانولوکه هم راته ووایي نودازمونږ دنده ده چې پرته له ځنډه خپل هرڅه قربان کړو، داخو دهغه ډیره لویه مهرباني اوکرم دی چې دخپل ورکړي مال څخه یواځې دځلویښتمې برخې دورکولو حکم یې کړی دی.

## دزکات اجر اوثواب:

دالله تعالی بل ډیرلوی کرم،احسان اوښیګڼه داده چې هغه ذات دزکات،خیرات اوصدقې ډیرلوی اجر او ثواب ټاکلی دی، حال داچې دزکات یاصدقې ورکوونکي چې څه ورکوي نوهغه دالله تعالی له خپل ورکړي مال څخه ورکوي نو له دې کبله که چیرې الله تعالی په دې کوم اجر او ثواب نه ورکولای نودابه په کامله توګه حق وای خو دا د الله تعالی ډیره زیاته مهرباني اوکرم دی چې دهغه دراکړي مال څخه مونږ څه شی دهغه په حکم دزکات یا خیرات په توګه دهغه په لاره کې مصرفوو، نو الله تعالی په دې ډېرخوشحالیږي اوپه دې دډیرو سترو اجرونو او ثوابونو ژمنه فرمایي! لکه چې په قرآن مجید کې راغلي دي:

﴿ مَّثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنۢبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِى كُلِّ سُنۢبُلَةٍ مِّاْئَةُ حَبَّةٍ ۗ وَٱللَّهُ يُضَٰعِفُ لِمَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٦١﴾

﴿ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَآ أَنفَقُوا۟ مَنًّا وَلَآ أَذًى ۙ لَّهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾ البقرة: ٢٦١ -٢٦٢

(( مثال د هغوکسانوچې خپل مالونه دالله په لیارکې لګوي دیوې دانې په شان دی چې اووه وږي تري رازرغون اوپه هروږي کې سل دانې وي، اود الله پاک چې چاته خوښه شي نور یې هم ور ډیروي، الله پاک دپراخ رحمت څښتن اوپه هرڅه ښه پوه دی. هغه کسان چې خپل مالونه دالله په لیارکې مصرف کړي اوبیا دخپل خیرات پسې احسان اوضررنه تړي نو رب به یې پوره بدله ورکړي، هیڅ ډار به پرې نه وي اونه به غمژن کیږي)

په دې آیت شریف کې دزکات ورکوونکو اودالله په لیار کې دمصرف کوونکولپاره دالله تعالی له لوري درې ژمنې اووعدې فرمایل شوي دي:

یوه داچې څومره هغه مصرفوي نوالله پاک ورته ددې په بدله کې په سلګونو چنده زیات ورکوي، دویم داچې هغه ته به ډیر زیات اجر او ثواب په برخه او د لویو لویو نعمتونو څخه به برخمن شي اودریم داچې دقیامت په ورځ به په هغه هیڅ ډول ویره، خطر ،غم اواندیښنه نه وي. سبحان الله!

ورونو! اصحابو کرامو دالله تعالی پردغوژمنو کامل اوپوره باوراویقین درلوده نوله دې کبله دهغوی حال داوو:

**أُمِرْنَا بِالصَّدَقَةِ قَالَ كُنَّا نُحَامِلُ اوقَالَ كُنَّا نُحَامِلُ عَلَى ظُهُورِنَا (صحيح مسلم )**

څه مهال به چې مونږ ته دصدقې اوخیرات امر او حکم وشونو مونږ به باورونه وړل یا داچې په خپلو شاګانو به مو دخلکوباورونه وړل ( مزدوري به موکوله او هغه به موبیاخیرات اوصدقه کوله ).

کله به چې دالله تعالی په لاره کې دخیرات

کولو دغوره والي اوثواب آیتونه پر رسول اللهﷺ نازل شول اودنبي کريم ﷺ څخه به يې واوريدل نوپه هغوی کې به چې څوک بېوزلي يا دصدقې لپاره مال نه درلوده نوهغوی به هم دخيرات کولو په اراده دمزدوری لپاره له کورونو څخه وتل او پرخپلو شاګانو به يې بارونه اوبوجونه وړل اوکومې پيسې به يې چې وګټلې دالله په لاره کې به يې مصرفولې.

دزکات داهميت،غوره والي اوفضليت په باره کې مونږ دلته د رسول الله ﷺ يو مبارک حديث ليکو:

**(( ثَلَاثٌ مَنْ فَعَلَهُنَّ فَقَدْ طَعِمَ طَعْمَ الْإِيمَانِ مَنْ عَبَدَ اللَّهَ وَحْدَهُ وَأَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَعْطَى زَكَاةَ مَالِهِ طَيِّبَةً بِهَا نَفْسُهُ)) (سنن ابوداؤد)**

(دري خبرې دي هر څوک چې هغه غوره او اختيار کړي نوهغه دايمان خوند اولذت وڅکلو: يو داچې يوازې دالله تعالی عبادت وکړي،دويم داچې پر لااله الاالله دهغه ريښتونی ايمان ،عقيده اوباور وي اودريم داچې هر کال دزړه په پوره خوښی سره دخپل مال زکات اداکړي.

نوکوم بنده ته چې دغه دري خبرې په برخه شي نوهغه به دايمان له لذت څخه برخمن شي. الله تعالی دې مونږټولو ته دايمان لذت اوخوند را په برخه کړي.

## دزکات اوخيراتونو دنياوې ګټې:

دزکات اوخيراتونوکوم اجر، ثواب او انعام چې دالله تعالی له لوري په آخرت کې بنده ته ورکول کيږي ددې برسيره په دې دنيوي ژوندکې هم له دې څخه ستري اولويې ګټې لاسته ته راځي، دمثال په ډول:لومړی داچې دزکات اوخيرات ورکوونکي مومن زړه

ډیرخوښ اوډاډمن وي، بیوزلي وګړي ورسره رخه اوحسد نه کوي بلکې هغوی دده ښه والی اوبهتري غواړي، دهغه لپاره دعا کوي،دمینې اومحبت په نظرورته ګوري، دنورو عامو وګړو په نظرونو کې هم ددغه انسان ډیر قدر او درناوی وي، دټولو وګړو مینه اوخواخوږي ددغه انسان په برخه کیږي اوالله تعالی دهغه په مال کې ډیربرکتونه اچوي. په یو حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې الله تعالی فرمایې:

**:أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللَّهُ أَنْفِقْ يَا ابْنَ آدَمَ أُنْفِقْ عَلَيْكَ (بخاري)**

(( رسول الله وفرمایل چې الله تعالی فرمایي: اي دادم څویه! ته زما په اړمنو اومحتاجو بنده ګانو اود نیکۍ په نورو کارونو کې زما له لوري درکړی مال ولګوه نو تاته به پرلپسې نورمال هم درکوم)).

په یو بل حدیث شریف کې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**((إِنْ كُنْتُ لَحَالِفًا عَلَيْهِنَّ لَا يَنْقُصُ مَالٌ مِنْ صَدَقَةٍ فَتَصَدَّقُوا ))**
**(مسنداحمد)**

(زه په دې باندې لوړه اوقسم کوم چې دخیرات اوصدقې په ورکولو مال نه کمیږي نوتاسې صدقه کوئ.

(یعنې دالله پاک په لیاره کې دمصرفولو په وجه) به کوم انسان بیوزله ،تش لاسې اومفلس نه شي). الله تعالی دې مونږ ته د رسول الله ﷺ پر دغو سپیڅلولارښوونو حقیقي ایمان اویقین راپه برخه کړي اوپه ډیرذوق اوشوق سره دې دعمل کولو توفیق راکړي. امین .

# څلورم څپرکي

# روژه

## دروژې اهميت اوفرضيت:

د اسلام په اساسي لارښوونو کې د ايمان، لمانځه او زکات څخه وروسته دروژې درجه ده، الله تعالى فرمايي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ١٨٣ ﴾ البقرة: ١٨٣

(( اى مومنانو ! پرتاسې روژه فرض شوې ده لکه څنګه چې له تاسې څخه په مخکې خلکو هم فرض شوې وه، ترڅوتاسې پرهيزګاران شئ . ))

په اسلام کې درمضان دمیاشتې دټولې میاشت روژه فرض ده اوکوم بنده چې پرته له عذره اومجبورتیا درمضان دمیاشتې یوه روژه هم پریږدي نوهغه ډیرسخت ګناهګاردی. په حدیث شریف کې راغلي دي:

**مَنْ أَفْطَرَ يَوْمًا مِنْ رَمَضَانَ فِي غَيْرِ رُخْصَةٍ رَخَّصَهَا اللَّهُ لَهُ لَمْ يَقْضِ عَنْهُ صِيَامُ الدَّهْرِ (سنن ابوداؤد)**

(کوم شخص چې پرته له کوم عذر اوناروغی درمضان یوه روژه هم پریږدي نوکه چیرې هغه ددې په بدله کې ټول عمر هم روژه ونیسي نو ددې پوره حق به ادانه کړای شي).

## دروژې اجراوثواب:

څرنګه چې په روژه کې دخوراک، څښاک اونفساني غوښتنو له پوره کولو څخه خپل نفس دعبادت په نیت سره منع کیږي او دالله تعالی درضا لپاره دخپلوغوښتنو اوخوندونو څخه ځان ګوښه کول دي نوله دي کبله الله تعالی ددې اجراوثواب هم ډیر زیات ټاکلې دی. په حدیث شریف کې دي:

**۱ـ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللَّهُ: كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ إِلَّا الصِّيَامَ فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ (بخاري)**

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې الله تعالی وفرمایل: (دبنده ګانو دټولو نیکو عملونولپاره دثواب ورکولویو قانون مقرر دی اود هرعمل اجراوثواب به دهمدغه ټاکلي اومقرر حساب له مخې ورکول کیږي خو روژه له دغه عام قانون څخه مستثنی ده. ددې په باره کې الله تعالی فرمایي : بنده په روژه کې یواځې زمالپاره خپل خوراک، څښاک اودخپل نفس غوښتنې قربانوي نوځکه دروژې اجراوثواب به زه خپل بنده ته پخپله ورکوم.

**۲- مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ (بخاري)**

(هغه څوك چې په ايمان اويقين سره، دالله تعالى درضا لاس ته راوړلواود ثواب په نيت درمضان د مباركې مياشتې روژې ونيسي نو مخكني ټول ګناهونه به يې وبښل شي)

**۳- وَلِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ فَرْحَةٌ حِينَ يُفْطِرُ وَفَرْحَةٌ حِينَ يَلْقَى رَبَّهُ (بخاري)**

(دروژتي لپاره دخوښى اوخوشحالى دوه ځانګړي وختونه دي، يوه ځانګړې خوښي هغه ته دروژه ماتي پروخت په دې دنيا کې اودوهمه خوشحالي به يې په آخرت کې دالله تعالى په وړاندې دحاضريدو پرمهال په برخه شي)

په يو بل حديث شريف کې راغلي دي چې :

**٤- الصِّيَامُ جُنَّةٌ وَحِصْنٌ حَصِينٌ مِنْ النَّارِ (مسند احمد)**

روژه د دوزخ له اور څخه د ژغورنې ډال دى اويوه کلکه اومضبوطه کلاده چې دجهنم له عذاب څخه به روژتي خوندي ساتي.

**٥- الصِّيَامُ وَالْقُرْآنُ يَشْفَعَانِ لِلْعَبْدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَقُولُ الصِّيَامُ أَيْ رَبِّ مَنَعْتُهُ الطَّعَامَ وَالشَّهَوَاتِ بِالنَّهَارِ فَشَفِّعْنِي فِيهِ وَيَقُولُ الْقُرْآنُ مَنَعْتُهُ النَّوْمَ بِاللَّيْلِ فَشَفِّعْنِي فِيهِ قَالَ فَيُشَفَّعَانِ (مسنداحمد)**

(د روژه تي لپاره به قرآن او روژه الله تعالى ته شفاعت کوي،روژه به وايي چې زما له وجې دې بنده دورځې خوراک، څښاک اود نفسي غوښتنو پوره کول پرې ايښي وه،نو دابنده وبښه اوقرآن به وايي چې دې ماله خوب څخه منع کړى وه نوزماسپارښتنه دده په هکله ومنه ! نوددوى دواړو سپار ښتنه به ومنل شي.

**٦- وَلَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللَّهِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ (بخاري)**

(دروژه تې دخولې بوې(چې ځنيې مهال

دګیدې دخالي کیدو له امله پیداکیږي) دالله تعالی په وړاندې دمشکو له بوی څخه هم زیات خوښ دی).
په دغواحادیثو کې چې دروژې کوم فضیلتونه،غوره والی اوثوابونه بیان شوي دي له دې برسیره دروژې یوه لویه ځانګړتیا داده چې انسان یې له څاروو څخه جلا اوممتاز کړی. که دحیوان اوبو اوخوراک ته زړه وشي نوځښاک اوخوراک کوي او چې نفسې غوښتنې یې راوپاریږي نود خپل هم جنس سره یوځای کیږي اوخپل خواهش پوره کوي . او هیڅکله خوراک، څښاک اوجنسي غوښتنې نه پوره کول دفرښتو اوملایکو شان اوتګ لاره ده، نو دروژې په نیولو سره انسان دنورو څاریو څخه جلاکیږي اودفرښتو سره یودول مناسبت او ورته والې پیدا کوي.

## دروژې ځانګړې ګټې :

دروژې یوه ځانګړې ګټه داده چې له دې څخه په انسان کې دتقوی اوپرهیزګاری صفت پیداکیږي اوپرخپلو نفسي غوښتنو دکنترولولو ځواک مومي اودالله تعالی دحکم دپاره دخپل نفس اوزړه دغوښتنو څخه د منع کولو عادت ترلاسه کوي، په روژې سره دروج پرمختګ اوروزنه کیږي خو داتولې خبرې هغه مهال ترلاسه کیدای شي چې روژه تي پخپله هم ددې دلاسته راوړلو اراده ولري اوپه روژه کې هغوتولو خبروته پاملرنه وکړي چې رسول الله ﷺ یې لارښوونه کړې ده، یعنې دخوراک اوڅښاک سربیره له ټولو وړو اولویو ګناهونو څخه هم ځان وساتي. نه دروا غ و وایي اونه غیبت وکړي، نه له چا سره جنګ جګړه وکړي، لنډه داچې دروژې په مهال

دتيولو پټو او ښكاره (ظاهري اوباطني) گناهونو ځخه ځپل ځان وساتي، لكه څنگه چې په مباركو احاديثو كې په دې هكله تاكيد او ټينگار شوى دى. په يوحديث شريف كې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

**١ـ:فَإِذَا كَانَ يَوْمُ صَوْمِ أَحَدِكُمْ فَلاَ يَرْفُثْ يَوْمَئِذٍ وَلاَ يَسْخَبْ فَإِنْ سَابَّهُ أَحَدٌ أَوْ قَاتَلَهُ فَلْيَقُلْ إِنِّي امْرُؤٌ صَائِمٌ (مسلم)**

(كله چې په تا سوكې چاروژه نيولې وي نوښايي چې كومه ناوړه اوخرابه خبره دهغه له ژبې ځخه ونه وزي، شور شغې دې هم نه كوي اوكه چيرې كوم سړى دهغه سره جگړه وكړي اوكنځلې ورته وكړي نوهغه ته دې يوائې دومره ووايي چې ما روژه نيولې ده،نوله دې كبله ستا د دبدوردو ځواب نشم دركولاى.

په يو بل حديث شريف كې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

**٢ـ مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ ( بخاري)**

(څوك چې په روژه كې هم بدې خبرې او ناوړه كارونه پرې نږدي نوالله تعالى دهغه خوراك اوڅښاك پريښودوته څه اړتيا نه لري)

**٣ـ «كَمْ مِنْ صَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ صِيَامِهِ إِلاَّ الظَّمَأُ» (سنن دارمي)**

(ډير داسي روژه تيان وي (چې په روژه كې له بدو خبرو او ناوړه كارونو ځخه ځان نه ساتي اوله همدې امله) د هغوى له روژو ځخه پرته له لوږې او تندې ځخه هيڅ هم په لاس نه راوړي).

لنډه داچې دروژې په بركت په روح كې دسپيڅلتيا، تقوى اوپرهيزگارى صفت اوپر نفسي غوښتنو دكنترولولو توان هغه مهال پيدا كيږي چې دخوراك او څښاك په څير له

نورو تولو کوچنيو او لويو ګناهونو څخه هم ځان وساتل شي اوپه ځانګړي ډول له درواغو، غيبت، بدو ردو، کنځلو او داسې نورو خبرو څخه ژبه وساتل شي. په هرحال که چيرې په همدې ډول پوره روژې ونيول شي نو انشاءالله هغه ټولې ګټې اوفايدې لاس ته راتلای شي چې پورته يې يادونه وشوه اوپه دغه ډول روژې نيول په انسان کې دملايکو صفتونه پيداکوي. الله تعالی دې موږ ټولو ته توفيق راکړي چې دروژې په حقيقت اوددې په ارزښت او قيمت ځانونه پوه کړو او ددې په واسطه پخپل زړه کې د تقوی او پرهيزګاری صفتونه پيداکړو.

د روژې په هکله دلته عاجزبنده ډيرپه لنډه توګه ليکل کړي دي کوم شاغلي چې دروژې داهميت، غوره والي او ددې داغيزو په باره کې له دې څخه زيات تفصيل غواړي نو هغوې دې زماکتاب (برکات رمضان) مطالعه کړي په دې موضوع هغه ځانګړې اوجامع کتاب دی.

## پنځم څپرکې

# حج

### دحج فرضیت:

داسلام په ارکانوکې وروستنی رکن حج دی، په قرآن کریم کې الله پاک دحج دفرضیت اعلان کړی دی او فرمایي:

﴿ وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلْبَيْتِ مَنِ ٱسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ۚ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٩٧﴾ ﴾ آل عمران: ٩٧

(( دالله له لورې پرهغو خلکو ددې خونې حج فرض شوی دی چې دلیارې توان ورسره وي اوچاچې انکار کړی دی نوبايد پوه شي چې الله پاک له ټولوخلکو څخه بې پروا دی))

په دې آيت کې دحج دفرض کیدو اعلان هم شوی دی او ددې سره دالارښوونه هم شوې ده چې حج یواځې پرهغو خلکو فرض دی چې بیت الله شریف ته درسیدلو توان اوقوت لري اود آيت په وروستۍ برخه کې دې لوري ته هم اشاره ده چې کوموخلکو ته الله تعالی دحج اداکولو توان اواستطاعت ورکړی وي اوهغوی په ناشکرۍ سره حج ونه کړي (لکه څنګه چې نن سبا ډیر شتمن اوبډای خلک یې نه کوي) نو الله تعالی له ټولو څخه بې نیازه او بې پروا

دی.نو له دي کبله دده له حج نه اداکولو څخه هغه ذات ته هيڅ زيان نه شي رسيدلای خو ددغې ناشکری اوکفران نعمت له امله دغه ناشکره بنده پخپله د هغه ذات له رحمت څخه بې برخې پاتې کيږي اوخدای مکړه پايله اوانجام به يې ډيربد او خراب وي.د رسول الله ﷺ په يو حديث کې راغلي دي:

**مَنْ مَلَكَ زَادًا وَرَاحِلَةً تُبَلِّغُهُ إِلَى بَيْتِ اللَّهِ وَلَمْ يَحُجَّ فَلَا عَلَيْهِ أَنْ يَمُوتَ يَهُودِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا وَذَلِكَ أَنَّ اللَّهَ يَقُولُ فِي كِتَابِهِ { وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنْ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا } (ترمذی )**

(چاته چې الله تعالی دومره مال شتمني ورکړې وي چې هغه پرې حج وکړای شي خو ددې سره سره هم هغه حج ونه کړي نوهيڅ پروا نلري چې هغه يهودي مري يانصراني ځکه چې الله پاک پخپل کتاب کې ددې خلکوپه هکله سخت فرمايلي دي.

ورونو! که چيرې زمونږ په زړو نو کې د ايمان او اسلام قدر او ارزښت اود الله تعالی او رسول الله صلی الله عليه وسلم سره څه تړاؤ وي نوپه دي حديث شريف دپوهيدوڅخه وروسته ښايې چې په مونږ کې کوم يو دحج له ادا کولو څخه بې برخې پاتې نه شي خصوصاُ هغه ځوک چې هلته درسيدلو توان ولري.

## دحج غوره والې اوبرکتونه:

په ډيرو احاديثو کې دحج اودحج دادا کوونکو ډير غوره والی اوفضيلت راغلی دی، دلته موږ يواځې دځومباركو احاديثو يادونه کوو

**الْغَازِي فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْحَاجُّ وَالْمُعْتَمِرُ وَفْدُ اللَّهِ دَعَاهُمْ فَأَجَابُوهُ وَسَأَلُوهُ فَأَعْطَاهُمْ** **(سنن نسايي، سنن ابن ماجه )**

(دحج اوعمرې په خاطر تلوونکي خلک د الله

تعالی ځانګړي اوخاص میلمانه دي که له الله تعالی څخه دعا وغواړي نو الله تعالی دهغوی دعا قبلوي اوکه بښنه وغواړي نوهغوی ته بښنه کوي.

په یو بل حدیث شریف کې راغلي دي:

**مَنْ حَجَّ لِلَّهِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ (بخاري)**

(څوک چې حج وکړي اوپه دې کې کوم ناروا اوبې ځایه اود الله تعالی نافرماني ونه کړي نوهغه له ګناهونو څخه داسې پاک بیرته راګرځي لکه څنګه چې دپیدایښت پرمهال هغه له ګناه څخه پاک ؤ.

**أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا وَالْحَجُّ الْمَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا الْجَنَّةُ (بخاري)**

**رسول الله (ص) فرمایلي: یوه عمره تربلې عمرې پورې دګناهونوکفاره ګرځي او** دمبرور حج (یعني هغه حج چې په اخلاص اوپه سمه توګه اداکړای شي اوڅه ګناه اوخرابي په کې نه وي) نودهغه بدله له جنته پرته بل شی نه دی.

## دحج تلپاتې لذتونه:

دحج په برکت سره دګناهونو بښل اودجنت نعمتونه دمسلمانان په برخه کیږي اودابه په کامل ډول انشاءالله په آخرت کې ورکول کیږي خودالله تعالی دځانګړې تجلی اودهغه سترذات دانوارو دخاص مرکز بیت الله شریف په لیدلو اود مکې مکرمې هغو ځانګړو مقاماتو ته په رسیدلو چې ابراهیم ؑ، اسماعیل ﷺ اوزمونږ دخوږنبي اورسول سیدنا محمدﷺ خاص اوځانګړی یادګارونه تراوسه پورې موجود دي نوله دې څخه چې مومنانوته کوم لذت اودولت په برخه کیږي هغه هم په دې نړی کې د جنت په

څيرنعمت دی. بيايه مدينه منوره کې دپاکې اوسپڅلې روضې زيارت، د رسول الله ﷺ په جومات اومسجدنبوي کې لمونځونه کول،مخامخ نبي کريم ﷺ ته درود اوسلام وړاندې کول،دمدينې منورې په لارو کوڅو اودهغه ځای په ځنګلونو کې ګرځيدل، دهغه ځای په هواکې ساه اخستل،دهغه ځای په سپيڅلې اومقدسه زمکه اوهواکې دپرتې خوشبويې څخه د دماغو معطر کيدل.په شوق،مينه، خوشی اوخوشحالیسره دنبي (ص) يادونه، کله تبسم اوکله ژړا کول داټول هغه روحاني خوندونه اولذتونه دي چې دحج اداکوونکو ته د مکې مکرمې اومدينې منورې په رسيدلوسره سملا سي په برخه کيږي خوپه دې شرط چې الله تعالی ددې وړتيا اوتوفيق ورکړی وي چې بنده ددغو لذتونو احساس وکړاي شي. راځئ چې ټول دعاوکړو چې الله تعالی دې يواځې په خپل فضل اومهربانی سره دغه لذتونه اوتلپاتې ارزښتونه زمونږپه برخه کړي.

## داسلام پنځه بنسټونه :

داسلام دکومو پنځو اساسي شوونو چې تردې ځای پورې يادونه وشوه يعنې:

(۱) کلمه (۲) لمونځ (۳) روژه (٤) زکات او (٥) حج .

دې پنځو ته داسلام ارکان ويل کيږي، د رسول الله صلی الله عليه وسلم مشهور حديث دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**بُنِـيَ الْإِسْلَامُ عَلَـى خَمْسٍ شَـهَادَةِ أَنْ لَا إِلَـهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّـدًا رَسُولُ اللَّهِ وَإِقَـامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَـاءِ الزَّكَـاةِ وَالْحَـجِّ وَصَـوْمِ رَمَضَـانَ (بخاري)**

(داسلام بنسټ په دې پنځوشيانو ولاړدی: يو د (لااله الاالله محمدرسول الله) شاهدي اوګواهي

ورکول، دویم دلمانځه قایمول، دریم زکات ورکول، څلورم درمضان مبارکې میاشت روژې نیول اوپنځم دبیت الله حج کول چې هغې ته درسیدلو توان ولري.

ددغو پنځو شیانو داسلام دارکانو اوداسلام دبنسټونومطلب دادی چې دا د اسلام اساسي فرایض دي اوپه دې باندې په ښه توګه د عمل کولو سره د اسلام په پاتې نورو احکامو دعمل کولو استعداد او وړتیا پیدا کیږي، دلته مونږ ددغو ارکانو یواځې اهمیت اوغوره والی بیان کړی دی. ددې تفصیلي مسایل دفقهې په معتبرو کتابونو کې وګورئ یادعلماوو اوپوهانو څخه پوښتنه وکړئ.

شپږم څپرکې

# تقوی او پرهیزګاري

د تقوی او پرهیزګارۍ ښوونې اوتعلیم هم د اسلام له اصولي او اساسي ښوونواوتعلیماتو څخه دی، د تقوی معنی داده چې د آخرت په حساب، جزا، او سزا باندې یقین اوباور ولري، دالله تعالی له نیولو اودهغه له عذاب څخه په ویریدلو دتولو بدو کړو وړو اوناوړه خبرو څخه ځان وساتل شي او دالله تعالی دحکمونو پیروي وشې یعنې کوم شیان چې الله تعالی پرمونږ فرض کړي دي اودخپلو کومو بنده ګانو کوم حق یې چې پرمونږ لازم اوټاکلی دی مونږ هغه ادا کړو او کوم کړه وړه او کومې خبرې یې چې حرامې کړي دي له هغو څخه ځان وساتو او ورته نژدې هم نه شو او د الله له عذاب څخه وویریږو. په قرآن مجید او احادیثو کې په ډیرټینګاراوټاکید سره او پرلپسې دتقوی اوپرهیزګارۍ ښوونه اوتعلیم ورکړای شوی دی، مونږ دلته یواځې څومبارک آیتونه او احادیث لیکو.

دآل عمران په سورت کې الله تعالی فرمایي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ ﴿١٠٢﴾﴾ آل عمران: ١٠٢

(( ای مومنانو! له الله څخه دهغه دشان سره سم وویرېږئ اوباید ترمرګه په اسلام ټینګ پاتې شئ))

اوپه التغابن سورت کې فرمایي:

﴿ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ وَٱسۡمَعُواْ وَأَطِيعُواْ ﴿١٦﴾ ﴾ التغابن: ١٦

(( تراخرني وس پورې له الله نه وډارشئ واورئ اومننه وکړئ))

اوداالحشرپه سورت کې فرمايي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلۡتَنظُرۡ نَفۡسٞ مَّا قَدَّمَتۡ لِغَدٖۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ﴿١٨﴾ ﴾ الحشر: ١٨

(( اى مومنانو! له الله وډارشئ اوبايدهرڅوک وګوري چې دسبالپاره يې څه ليږلي دي؟ له الله وډارشئ، بې شکه چې الله پاک ستاسي له کړنوڅخه ښه خبردى))

دقرآن مجيدڅخه معلوميږي چې کوم خلک دالله پاک څخه ډاريږي اودتقوى اوپرهيزګارى سره ژوند تيروي په دنياکې هم پرهغوى دالله تعالى ځانګړى فضل اومهرباني کيږي اوالله تعالى ورسره ډيره مرسته اوکومک کوي.

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا ﴿٢﴾ وَيَرۡزُقۡهُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَحۡتَسِبُۚ ﴿٣﴾ ﴾ الطلاق: ٢ - ٣

(( اوهرڅوک چې له الله څخه وويريږي نوالله به ورته له ستونزو څخه دوتلوليار پيدا کړي اوپه داسې توګه به روزي ورکړي چې دى يې ګمان هم نه کوي))

دقرآن مجيد څخه داهم معلوميږي چې په کومو خلکوکې تقوى اوپرهيزګاري وي نوهغوى دالله پاک اولياء اودوستان دي اوبيا هغوى ته دبل کوم شي ډاراوانديښنه بيخي نه وي:

الله تعالى فرمايي:

﴿ أَلَآ إِنَّ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿٦٢﴾

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾ لَهُمُ ٱلۡبُشۡرَىٰ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۚ ﴿٦٤﴾ ﴾ يونس: ٦٢ ـ ٦٤

(( واورئ دالله په دوستانو نه ډارشته اونه به غمژن کيږي، دوی همغه دي چې ايمان يې راوړی اوله الله نه ډاريږي،په دنيا او آخرت کې دهغوی لپاره دخوښی زيرې دی))

دغوپرهيزګارو او متقيانوخلکو ته چې کوم نعمتونه په آخرت کې ورکول کيږي دهغو يادونه په دې آيت کې شوې ده،الله فرمايي:

﴿ ۞ قُلۡ أَؤُنَبِّئُكُم بِخَيۡرٖ مِّن ذَٰلِكُمۡۚ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ عِندَ رَبِّهِمۡ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَأَزۡوَٰجٞ مُّطَهَّرَةٞ وَرِضۡوَٰنٞ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِٱلۡعِبَادِ ﴿١٥﴾ ﴾ آل عمران: ١٥

(( ووايه! له دې څخه غوره څيزونه تاسوته وښايم دهغو کسانو لپاره چې له الله څخه وډارشي دتل لپاره داسې باغونه دي چې ويالې به پکې رواني وي ،پاکې کړای شوې ښځې اودالله رضا به يې په برخه وي اوالله پاک خپل بنده ګان ښه اوپوره ويني))

پدې باره کې دسورت (ص) دا آيت مبارک هم واورئ:

﴿ هَٰذَا ذِكۡرٞۚ وَإِنَّ لِلۡمُتَّقِينَ لَحُسۡنَ مَـَٔابٖ ﴿٤٩﴾ جَنَّٰتِ عَدۡنٖ مُّفَتَّحَةٗ لَّهُمُ ٱلۡأَبۡوَٰبُ ﴿٥٠﴾ مُتَّكِـِٔينَ فِيهَا يَدۡعُونَ فِيهَا بِفَٰكِهَةٖ كَثِيرَةٖ وَشَرَابٖ ﴿٥١﴾ ۞ وَعِندَهُمۡ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرۡفِ أَتۡرَابٌ ﴿٥٢﴾ هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِيَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ ﴿٥٣﴾ إِنَّ هَٰذَا لَرِزۡقُنَا مَا لَهُۥ مِن نَّفَادٍ ﴾ ص: ٤٩ ـ ٥٤

دايوه يادونه وه . ( اوس واورئ چيګ ) د پرهيزګارانو لپاره په

يقينـــي أول أيرشـــگه اســـتوكگنحگئ دى ، تـــل ترتلـــه جنتونـــه چيـــگ دروازيگ به بيگ دهغو لپاره پرانستيگ وي .

هغـوى بـه پـه كشـگيگ تكيـه وهـونكي ناسـت وي ، دشگوشـگو ميگوو او خگشـگلو وؤشيانو غوشـگتونكي بـه وي . اولـه هغوسره بـه حياداريگ همزوليـگ ميرمنيـگ وي . داهغه شيان دي چيـگ لـه تاسيگ سره دحسـاب پـه ورحـگ دهغو د دركولـو وعده كيـإي دازمونـإروزي ده چيگ هيخگكله پاى ته رسيدونكيگ نه ده

اوپه قرآن مجيدكې پرهيزګارو بنده ګانو ته دازيرې اورول شوى دى چې دخپل پالونكي رب ترټولو څانګړې نژدې والى به د دوى په برخه شي، دسورت قمر په وروستي آيت كې راغلي دي.

﴿ إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٍ وَنَهَرٍ ﴿٥٤﴾ فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِندَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٥٥﴾

﴾ القمر: ٥٤ ـ ٥٥

(( بې له شكه پرهيزګاران به په باغونو او ويالوكې وي، دتوانا او پياوړي پاچا په وړاندې به د رشتيا او عزت په ځاى كې ناست وي.

په قرآن مجيد كې دا اعلان هم شوى دى چې د الله تعالى په وړاندې دعزت اوشرافت مدار يواځې په تقوى باندې دى

﴿ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ ٱللَّهِ أَتْقَىٰكُمْ ﴿١٣﴾ ﴾ الحجرات: ١٣

(( بې له شكه چې دالله په وړاندې ستاسې ترټولو غوره ستاسې پرهيزګاران دي))

همدارنګه رسول الله صلى الله عليه وسلم هم فرمايلي دي:

(ماته ډيرنژدې اوماته ډيرخوښ هغه خلك دي چې په هغوي كې دپرهيزګارى صفت وي،كه دهرقوم اونسل څخه وي اوپه كوم وطن كې اوسيږي) .

تقوى (يعني دالله تعالى نه ويريدل

اودآخرت فکر) دتولو نیکیو اساس دی، په چا کې چې څومره پرهیزګاري وي نوپه هغه کې به هغومره نیکي اوښیګڼې راغونډې وي اوهمدومره به دناوړه کړو وړو او بدو خبروڅخه لرې وي.

په حدیث شریف کې راغلي دي.

یوصحابي رسول الله ﷺته عرض وکړچې ماخوستاسې ډیرارشادات اولارښونې اوریدلي دي اوزه ویریږم چې داټول نصیحتونه اولارښوونې به زماپه یادپاتې نه شي نوځکه ماته یوهراړخیز اوجامع نصحیت وکړئ چې زما لپاره کافي اوپوره وي، نبي کریم ﷺورته وفرمایل: دخپل علم اوپوهې تر پولې له الله څخه ویره کوه اودهمدې ډار، فکراوپرهیزګاری سره ژوند کوه.

یعنې که چیرې دایوه خبره په یادوساتې اوعمل وربانديې وکړې نوهمدا ستا لپاره پوره ده. په یوبل حدیث کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

**مَنْ خَافَ أَدْلَجَ وَمَنْ أَدْلَجَ بَلَغَ الْمَنْزِلَ أَلَا إِنَّ سِلْعَةَ اللَّهِ غَالِيَةٌ أَلَا إِنَّ سِلْعَةَ اللَّهِ الْجَنَّةُ (سنن الترمذي - (8 / 489)**

(څوک چې ډاریږي هغه وختي روانیږي اوڅوک چې دوخته روان شي نوهغه په وخت خپل منزل ته رسیږي،خبردار دالله متاع ډیره لوړه ده،خبردار دالله متاع جنت دی)

نونیکمرغه اوبریالي هغه دی چې دالله تعالی څخه ډاریږي اودآخرت فکروکړي، که دالله پاک له ویرې اودهغه دعذاب له ډاره یوه اوښکه هم له سترګې وبهیږي نودالله په وړاندې ډیره قدرمنه ده.

په حدیث شریف کې راغلي دي:

**لَيْسَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَى اللَّهِ مِنْ قَطْرَتَيْنِ وَأَثَرَيْنِ قَطْرَةٌ مِنْ دُمُوعٍ فِي خَشْيَةِ اللَّهِ وَقَطْرَةُ دَمٍ تُهَرَاقُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَأَمَّا الْأَثَرَانِ فَأَثَرٌ فِي**

**سَبِيلِ اللَّهِ وَأَثَرٌ فِي فَرِيضَةٍ مِنْ فَرَائِضِ اللَّهِ (ترمذي)**

(الله تعالی ته دانسان له دوه څاڅکو اودوو نښوڅخه زيات بل شی ډير خوښ نه دی، په دې کې يو داوښکو هغه څاڅکی دی چې دالله تعالی د ويرې له سترګو تو ی شي، اودوهم دوينې هغه څاڅکی دی چې دالله په لاره کې له بدن څخه توی شوی وي. اوکومې دوه نښې چې دالله تعالی ډيرې خوښې دي په دې کې يوه هغه نښه ده چې دالله په لاره کې په چالګيدلې وي (يعنې په جهاد کې ټپي شوی وي اونښه يې پاتې شوې وي) اودوهم هغه نښه ده چې دالله تعالی دفرايضو له اداکولو څخه لګيدلې وي (لکه دلمونځ کوونکو په تنديو او زنګنو باندې لګيدلې وي).

په يوبل حديث شريف کې راغلي دي:

**((عَيْنَانِ لَا تَمَسُّهُمَا النَّارُ عَيْنٌ بَكَتْ مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ ))**

**(( سنن الترمذي - (6 / 190)**

دوه سترګې دي چې اور نشي ورسيدلای،يوهغه ده چې دالله پاک له ويری ژاړي.

لنډه داچې دالله تعالی څخه ريښتونې ويره اود آخرت فکرکه دچاپه برخه شي نودا لويه خبره ده او له دې ويرې اوفکرڅخه دانسان ژوند سره زر جوړيږي.

ورونړو! ښه پوه شئ! په دې څوورځې ژوند کې چې څوک دالله پاک څخه ويريږي له مرګه پس به دآخرت په ابدي ژوندکې هغه ته هيڅ ويره اوغم نه وي اوهغه به دالله پاک په فضل اومهربانی سره دتل لپاره خوښ، تروتازه، ډاډمن اوهوسا وي. اوڅوک چې دل ته له الله تعالی څخه نه ډاريږي اود آخرت فکرونه کړي اود دنيا په خوندونو او لذتونو کې مست وي نوهغه به په آخرت کې ډير سخت کړاواوغم سره مخ روشي اوزرګونه کلونه به د وينو څخه په ډکو اوښکو ژاړي.

دپرهيزګارۍ يعنې دالله پاک څخه د ويرې اود آخرت فكر دپيداكولو ترټولو زياته اغيزناكه وسيله دالله تعالى دهغونيكو بندګانو ملګرتيا او ملتياده چې د الله څخه ډاريږي او دهغه دحكمونوپيروي كوي اودوهم د معتبرودينې اودعوتي كتابونو لوستل او اوريدل دي.

اودريمه وسيله يې داده چې په يواځې والې كې خپل مرګ رايادكړي اوپرخپل حالت غوراوفكر وكړي، اوداسې فكر وكړي چې په قبركې به زماڅه حال وي ؟ اوپه قيامت كې چې كله ټول انسانان راپورته كړاى شي نوزما به څه حالت وي ؟ اوكله چې دالله پاک په وړاندې دريدل وي اوزما عملنامه زماپه وړاندې برسيره كړاى شي نوزه به څه ځواب وركوم اوچيرې به خپل مخ پټوم ؟ كوم مسلمان چې دغه لارې چارې وكاروي انشاءالله هرومرو به يې پرهيزګارې په برخه شي، الله پاک دې يې مونږټولوته راپه برخه كړي. امين

]

اووم څپرکی

# معاملات

په معاملاتوکې دسپېڅلتیااوایمانداری ښوونه اوتعلیم هم داسلام له اصولي اوبنسټیزو ښوونوڅخه دي، دقرآن مجید اود رسول الله ﷺ له مبارکو احادیثو څخه معلومیږي چې اصلي مسلمان هغه دی چې په خپلومعاملاتو اوکاروبار کې ریښتوني او ایماندار وي. یعنې درغلي، دهوکه، ټګي اوپه امانت کې خیانت نه کوي، په درواغو دعواګانې نه کوي اونه په درواغو شاهدي اوګواهي ورکوي. د سود اورشوت په څیر له ټولو حرامو ګټوڅخه ځان ساتي اوپه چاکې چې دغه بدی شتون ولري نودقرآن مجید او احادیثو څخه معلومیږي چې خالص مومن اواصلي مسلمان نه دی بلکه یو ډول منافق دی اودسختې درجې نافرمان اوفاسق دی. الله تعالی دی مونږ له دغو ټولو ناروا کارونو څخه وساتي.په دې اړه چې په قرآن اوحدیث کې کوم سخت تاکیدونه راغلي دي له هغو نه ځینې مونږ دلته لیکو، دقرآن مجیدمبارک آیت دی الله تعالی فرمایي:

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم بَيۡنَكُم بِٱلۡبَٰطِلِ ﴿٢٩﴾ ﴾ النساء: ٢٩

((ای مومنانو! تاسویه ناسمه اوناروا طریقه دنوروما لونه مه خورئ.))

دې مبارک آیت دګټلو هغه ټولې لیارې اوطریقې دمسلمانانو لپاره حرامې کړي دي چې غلطې او باطلې دي لکه په سوداګری کې

تګي، په امانت کې خيانت، جواري اوقمار، سټه، سود، رشوت اوداسې نور.
بياپه نوروآيتونو کې ددې جلاجلا تفصيل هم بيان شوی دی، دبيلګې په ډول کوم پلورونکی اوسوداګر چې په پيمانه اوتول کې تګي، دهوکه اوبې ايماني کوي نودهغه په اړه په ځانګړي ډول فرمايې:

﴿ وَيۡلٞ لِّلۡمُطَفِّفِينَ ١ ٱلَّذِينَ إِذَا ٱكۡتَالُواْ عَلَى ٱلنَّاسِ يَسۡتَوۡفُونَ ٢ وَإِذَا كَالُوهُمۡ أَو وَّزَنُوهُمۡ يُخۡسِرُونَ ٣ أَلَا يَظُنُّ أُوْلَٰٓئِكَ أَنَّهُم مَّبۡعُوثُونَ ٤ لِيَوۡمٍ عَظِيمٖ ٥ يَوۡمَ يَقُومُ ٱلنَّاسُ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦ ﴾ المطففين: ١ - ٦

(( هلاکت اوتباهي ده ډنډې وهونکوته! هغوی چې له خلکو څخه راپيمانه کوي نوپوره يې اخلي اوچې نورو ته پيمانه ورکوي ياڅه ورتلي نوکمې پکې کوي، ايا په دې باورنه لري چې راپورته به کړای شي يوې لوی ورځې ته! په دې ورځ به ټول خلک د رب العالمين په وړاندې ودريږي))
دنورو دحقونو او امانت ادا کولو لپاره په ځانګړي توګه حکم شوی دی چې:

﴿ ۞ إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُكُمۡ أَن تُؤَدُّواْ ٱلۡأَمَٰنَٰتِ إِلَىٰٓ أَهۡلِهَا ٥٨ ﴾ النساء: ٥٨

((الله پاک تاسې ته امرکوي چې امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارئ))
اوپه قرآن مجيد کې دوه ځايه داصلي اوحقيقي مسلمانانو داصفت اوپيژندګلوي ښودل شوی:

﴿ وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِأَمَٰنَٰتِهِمۡ وَعَهۡدِهِمۡ رَٰعُونَ ٨ ﴾ المؤمنون: ٨

((اوهغوی چې دخپلو امانتونو اووعدو پالنه کوي))
اوپه حديث شريف کې راغلي راغلي دي چې

رسول الله صلی الله علیه وسلم به پخپلو ډیروخطبو، وعظونو اونصیحتونوکې فرمایل:

**قالَا إِيمَانَ لِمَنْ لَا أَمَانَةَ لَهُ وَلَا دِينَ لِمَنْ لَا عَهْدَ لَهُ**
**(مسنداحمد)**

(یاد ساتئ په چاکې چې دامانت ساتنه نه وي نوپه هغه کې ایمان نشته ،اوڅوک چې دخپلې ژمنې اووعدې لحاظ نه ساتي نوهغه په دین کې څه برخه نه لري)

**آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ (بخاري)**

رسول الله ﷺوفرمایل: (دمنافق درې نښې دي. درواغ ویل، په امانت کې خیانت کول، اوژمنه نه پوره کول اوپه ځینو روایاتوکې ځلور هم راغلي دي چې کله په جنګ شي نو کنځلی کوي.

په تجارت اوسوداګرۍ کې دتګۍ کوونکو په باره کې نبي کریمﷺفرمایلي دي:

**أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى صُبْرَةٍ مِنْ طَعَامٍ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهَا فَنَالَتْ أَصَابِعُهُ بَلَلًا فَقَالَ يَا صَاحِبَ الطَّعَامِ مَا هَذَا قَالَ أَصَابَتْهُ السَّمَاءُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ أَفَلَا جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ حَتَّى يَرَاهُ النَّاسُ ثُمَّ قَالَ مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنَّا (ترمذي)**

**((رسول الله (ص) دخوراک په یوه ډیری باندې تیرشو،خپل لاس یې په کې ننویست نوګوتې یې لمدې شوی،پوښتنه یې وکړه ای دخوراک خاونده ! دا څه دي ؟ هغه وویل:باران پرې شوی دی یا رسول الله ! نوهغه وفرمایل: دادی ولې پرې له پاسه نه دي اچولي چې خلک یې وګوري ؟ بیا یې وفرمایل:**څوک چې تګي ،دهوکه اوفریب کوي هغه له مونږڅخه نه دی.))داخبره نبي کریم صلی الله علیه وسلم هغه مهال وفرمایله کله چې یو ځل دمدینې منورې په بازارکې هغه یو سړی ولیده چې دخرڅون لپاره یې غله ډیری

کړي ده چې دپاسه يې پرې وچه غله اچولې وه اولاندې ترې لمده وه. ددې په لیدو نبي کریم ﷺوفرمایل: داسې دهوکه کوونکي زمونږ له ډلې او وجماعت څخه نه دی. نوکوم پلورونکي چې پیرودونکي ته دخپل مال شه نمونه وښايي اوعیب يې ورته ښکاره نه کړي نودنبي کریم صلی الله علیه وسلم ددې حدیث سره سم هغه له ریښتونو مسلمانانو څخه نه دی اوخدای مکړه هغه دوزخ ته تلونکی دی.

په یوبل حدیث شریف کې راغلي دي چې نبي کریم ﷺوفرمایل:

(څوک چې داسې کوم شی پرچا وپلوري چې عیب اوخرابي پکې وي اوسوداګر اخیستونکي ته دغه عیب ښکاره نه کړي نو دغه ډول انسان به تل دالله په غضب اخته وي.

اوپه یو روایت کې راغلي دي چې پرهغه به تل دالله تعالی پریښتې لعنت وايي. په هرحال د اسلامي ښوونولو مخې په سوداګری اوکاروبارکې هر راز ټګي او جعلسازي حرامه او لعنتي کړنه ده، او رسول الله ﷺددغه ناوړه کړنې له کوونکوڅخه دخپلې بیزاری اعلان فرمایلی دی. اوهغه یې له خپل ټولګي اوجماعت څخه خارج ښودلی دی.

همداډول دسود اورشوت معامله هم سره له دې چې دواړه وربانديې خوښ وي په قطعي ډول حرام ده اوددې په ورکوونکو او اخیستوونکو باندې په احادیثو کې په څرګند ډول لعنت راغلې دی. د سود په باره کې خو مشهور حدیث دی چې رسول الله ﷺفرمایلي:

**لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آكِلَ الرِّبَا وَمُؤْكِلَهُ وَشَاهِدَهُ وَكَاتِبَهُ** **(سنن ابوداؤد)**

(لعنت دې وي دسود په اخستوونکي، ورکوونکي او د سود د سند پرلیکوونکي اوشاهدي ورکوونکي باندې. اوهمداډول درشوت

په هکله رسول الله ﷺ لعنت فرمایلی دی:
**لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الرَّاشِي وَالْمُرْتَشِي (مسند احمد)**
دالله لعنت دې وي درشوت په اخستونکي او ورکوونکي باندې.
په یو حدیث شریف کې تردې پورې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:
(څوک چې دکوم سړي لپاره په کومه معامله کې جایزه اوروا سپارښتنه وکړي بیا دغه سړی سفارش کوونکې ته څه ډالی اوتحفه ورکړي اوهغه دغه ډالی قبوله کړي نوده هم هغه لویه ګناه وکړه. ګواکې داهم یوډول رشوت اوسود شو.
په هرحال درشوت اوسود معامله،راکړه ورکړه اوپه سوداګری کې ټګي اوبې ایماني کول په اسلام کې ټول یوشان حرام دي اوله دغو ټولوڅخه زیات حرام دادی چې ددرواغجنو دعواګانوپه وسیله یا یواځې په زور او جبرسره دچاپه کوم شي باندې ناروا قبضه وکړي. په حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:
**لَسَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: مَنْ أَخَذَ شِبْرًا مِنْ الْأَرْضِ ظُلْمًا فَإِنَّهُ يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ سَبْعِ أَرَضِينَ (بخاري)**
(ماله رسو ل الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې فرمایل یې :څوک چې په ناروا او ظلم سره یوه لویشت ځمکه غصب کړي نوهمدا ټوټه ځمکه به تر اوومې طبقې پورې دقیامت په ورځ دهغه په غاړه کې دطوق په شان واچول شي.

په حديث شريف کې راغلي دي:
**قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحْلِفُ أَحَدٌ عِنْدَ مِنْبَرِي هَذَا عَلَى يَمِينٍ آثِمَةٍ وَلَوْ عَلَى سِوَاكٍ أَخْضَرَ إِلَّا تَبَوَّأَ مَقْعَدَهُ مِنْ النَّارِ أَوْ وَجَبَتْ لَهُ النَّارُ** (سنن ابوداؤد)

نبي (ص) وفرمايل:څوک چې ددې ممبرسره په درواغوقسم وخوري که په شين مسواک هم وي نوهغه په دوزخ کې ځان ته ځای برابر کړ يا هغه ته آور واجب شو.

په بل حديث شريف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺيودعوی کوونکي ته خبرداري ورکړ اوويي فرمايل:
**جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا الْكَبَائِرُ قَالَ الْإِشْرَاكُ بِاللَّهِ قَالَ ثُمَّ مَاذَا قَالَ ثُمَّ عُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ قَالَ ثُمَّ مَاذَا قَالَ الْيَمِينُ الْغَمُوسُ قُلْتُ وَمَا الْيَمِينُ الْغَمُوسُ قَالَ الَّذِي يَقْتَطِعُ مَالَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ هُوَ فِيهَا كَاذِبٌ** (بخاری)

يواطرافي سړی رسول الله ته راغي او وې پوښتل:يارسول الله ! کبيره ګناهونه کوم کوم دي ؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل:له الله سره شريک نيول،دمور او پلار نافرماني کول،اوغموس قسم ! هغه وپوښتل :غموس قسم څه شی دی ؟ رسول الله صلی الله عليه وسم وفرمايل:په دروغو دبل مسلمان مال تر لا سه کول.

په بل حديث شريف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺوفرمايل:
**عَنْ أَبِي ذَرٍّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ :وَمَنْ ادَّعَى مَا لَيْسَ لَهُ فَلَيْسَ مِنَّا وَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنْ النَّارِ** (مسلم)

(څوک چې په داسې يو شي دعوی وکړي چې په حقيقت کې دهغه نه وي نوهغه له مونږڅخه نه دی اوپه دوزخ کې دې ځانته ځای جوړکړي.

اود درواغودشاهدی اوګواهی په اړه په یو حدیث شریف کې راغلي دي چې نبی کریم ﷺ یوه ورځ د سهارله لمانځه څخه فارغ شو او ودریده اوپه ځانګړي انداز یې درې ځله وفرمایل: په درواغو شاهدي دشرک برابره کړای شوې ده.

## دحرام مال پلیتي اوبد مرغي:

دمال دلاسته راوړلو دکومونارو او حرامو ذریعو اولارو چې پورته یادونه وشوه له دغو لارو چې کوم مال لاسته راشي هغه به حرام اوناپاک وي اوڅوک چې دغه دخپل خوراک او څښاک په توګه استعمال کړي نو نبي ﷺفرمایي چې دهغه لمونځونه به نه قبلیږي، دعاګانې به یې نه قبلیږي، تردې پورې که چیرې په دغه مال کوم نیک کار وکړي نوهغه به هم دالله په وړاندې قبول نه وي او په اخرت کې به دالله تعالی دځانګړو رحمتونو څخه بې برخې وي.

په حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

**وَلَا يَكْسِبُ عَبْدٌ مَالًا مِنْ حَرَامٍ فَيُنْفِقَ مِنْهُ فَيُبَارَكَ لَهُ فِيهِ وَلَا يَتَصَدَّقُ بِهِ فَيُقْبَلَ مِنْهُ وَلَا يَتْرُكُ خَلْفَ ظَهْرِهِ إِلَّا كَانَ زَادَهُ إِلَى النَّارِ إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ لَا يَمْحُو السَّيِّئَ بِالسَّيِّئِ وَلَكِنْ يَمْحُو السَّيِّئَ بِالْحَسَنِ إِنَّ الْخَبِيثَ لَا يَمْحُو الْخَبِيثَ** (مسند أحمد - 8 / 25)

(څوک چې په ناروا طریقه ) کوم حرام مال لاس ته راوړي اوله هغې څخه صدقه او خیرات وکړي نودغه صدقه به یې نه قبلیږي او په دې کې چې څه (پخپلو اړتیاوو اومصالحو) کې مصرف کړي نو په هغې کې به برکت نه وي اوکه له مرګه پس یې په ترکه او میراث کې پریږدي نودابه دهغه لپاره د دوزخ توښه

وي، باور وکړئ چې الله تعالى بدې په بدى سره له مينځه نه وړی (يعني دحرام مال صدقه اوخيرات کول دګناهونو دبښنې وسيله کيدای نه شي) بلکې بدي په نيکی سره له مينځه وړي، يوه ناپاکي په بله ناپاکی ختميدای نشي)) .

په يوبل حديث شريف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

**قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ اللَّهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا وَإِنَّ اللَّهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ فَقَالَ{ يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنْ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ }وَقَالَ{ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ }**

**ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ يَا رَبِّ يَا رَبِّ وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ**
**(مسلم)**

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل اوخلکو! الله پاک طيب او پاک دی، پاک شيان قبلوي، الله پاک مؤمنانوته په هغه څه امر کوي چې رسولانوته يې پرې امرکړی دی چې تاسې پاک شيان خورئ ، بيا يې ديو داسې سړي يادونه وکړه چې دلرې او اوږد سفرڅخه وروسته (په کوم ځانګړي سپيڅلي مقام کې ددعا لپاره) په داسې حال کې ولاړ وي چې دهغه ويښتان ګډوډ اوله سره تريپښو پورې په دوړو اوغبار کې پټ وي، داسمان لورته يې لاسونه پورته کړي وي اوپه ډېرې عاجزی سره دعا کوی او وايي: اې زما ربه! اې زما پالونکيه ربه ! خودهغه خوراک اوڅښاک له حرام مال څخه وي او د هغه جسم اوبدن له حرامو څخه تغذيه شوی وي، نوپه دې حالت کې به دهغه دعا څنګه قبوله شي ؟. معنی داده چې هرکله خوراک او څښاک ټول له حرام مال څخه وي نو د دعا دقبولتيا هيڅ ډول وړتيا

نه پاتې کیږي.
په بل حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:
(که چیرې څوک یو توکر په لس درهمو واخلي او په دغو لسو درهمو کې یودرهم هم دحرامې لارې څخه لاسته راغلي وي نوترڅو چې یې دغه جامې په تن وي ددغه سړي هیڅ یو لمونځ به دالله تعالی په وړاندې قبول نه وي.
په یوبل حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

**((یَا كَعْبُ بْنَ عُجْرَةَ إِنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ لَحْمٌ نَبَتَ مِنْ سُحْتٍ النَّارُ أَوْلَى بِهِ ))** **(مسند أحمد - (28 / 468)**

اي کعب بن عجزه کوم جسم اوبدن چې په حرام مال تغذیه شوې وي جنت ته به نشي داخلیدای اودغه لپاره آورډېرمناسب او وړدی.
ورونو! که چیرې زمونږپه زړونو کې دیوې ذرې برابرهم ایمان وي نو د رسول الله ﷺد دغو لاربشوونو د اوریدو څخه وروسته باید په کلکه داهوډ اوعزم وکړو: که چیرې په نړۍ کې دهر ډول بیوزلۍ او کړاونو سره مخامخ شو نو مونږ به هیڅکله هم دکومې ناروا اوحرامې لارې څخه د یوې روپۍ او پیسې دلاسته راوړولو هڅه او کوښښ نه کوو او یواځې په حلاله ګټه اوعاید به قناعت کوو.

## پاکه ګټه او ریښتونې کاروبار:

لکه څرنګه چې په اسلام کې دګټې ناروا لارې اړې حرامې او له دې څخه لاس ته راغلي مال دولت ته ناپاک اوخبیث ویل شوې دي، نو له بلې خوا په حلاله طریقه د روزی دلاس ته راوړلو اوپه ایمانداری سره د سوداګری او

کاروبارکولو ډیر غوره والی ښودل شوی دی.
په حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:
**«طَلَبُ كَسْبِ الْحَلاَلِ فَرِيضَةٌ بَعْدَ الْفَرِيضَةِ»** **(طبرانی،بیهقی)**
(دحلالې ګټې لټون کول هم د دین داړینو فرایضو د ادا کولو څخه وروسته یو فرض دی).
په یو بل حدیث شریف کې په خپل لاس او کړاو سره د روزی د لاسته راوړلو دغوره والي په اړه نبي کریم ﷺ داسې فرمایلي:
**مَا أَكَلَ أَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ وَإِنَّ نَبِيَّ اللَّهِ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلاَم كَانَ يَأْكُلُ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ** **(بخاری)**
هیچا خپله روزي له دې څخه په غوره طریقه نه ده خوړلې چې پخپلولا سونو یې دهغې لپاره کار کړی وي او د الله دپیغمبر حضرت داؤد υ داطریقه وه چې پخپلو لاسونو به یې کار کاوه او روزي به یې لاس ته راوړله.
په یو بل حدیث شریف کې راغلي دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل:
**التَّاجِرُ الصَّدُوقُ بِمَنْزِلَةِ الشَّهِيدِ عِنْدَ اللهِ تَعَالَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ. وعَنِ الْحَسَنِ ، قَالَ : التَّاجِرُ الأَمِينُ الصَّادِقُ مَعَ الصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ.** **(مصنف ابن ابی شیبة)**
(په ریښتنولی او ایمانداری سره کاروبار کوونکي سوداګر به د قیامت په ورځ دپیغمبرانو، صدیقینو او شهیدانو سره وي).

## په معاملاتو کې دنرمی، زړه سواندی او د پور په ادا کولو سخت ټینګار:

په مالي معاملاتو اوکاروبار کې لکه څنګه

چې په ریښتنولۍ او ایماندارۍ اسلام ډیر ټینګار کړی دی او دایې ډیره اوچته نیکي او الله تعالی ته دنژدې والي وسیله ګرځولې ده، په همدې ډول یې دې لورته ډیر ترغیب اوهڅونه هم کړې او ددې ډیر غوره والې یې بیان کړی چې په معامله او راکړه ورکړه کې دنرمۍ تګ لاره اختیار اود سختوالي څخه کار وانه خیستل شي.

په یو حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

**أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَحِمَ اللَّهُ رَجُلًا سَمْحًا إِذَا بَاعَ وَإِذَا اشْتَرَى وَإِذَا اقْتَضَى (صحيح البخاري - (7 / 240)**

رسول الله (ص) الله تعالی رحمت دې وي پرهغه بنده چې په پلورلو او پیرودلو کې او له نورو څخه دخپل حق په لاسته راوړلو کې نرم وي).

په یو بل حدیث شریف کې راغلي دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل:

**مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُنْجِيَهُ اللَّهُ مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلْيُنَفِّسْ عَنْ مُعْسِرٍ أَوْ يَضَعْ عَنْهُ (صحيح مسلم - (8 / 203)**

(څوک چې دالله پاک کوم تنګ لاسي اوبیوزلي بنده ته (دپور په اداکولو) کې مهلت ورکړی (په کلي یا جزوي ډول خپله غوښتنه) وبښي نو الله تعالی به د قیامت د ورځې له اندیښنو او کړاوونو څخه هغه ته نجات ور په برخه کړي)

په یو بل روایت کې راغلي دي چې:

**قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَنْظَرَ مُعْسِرًا أَوْ وَضَعَ لَهُ أَظَلَّهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تَحْتَ ظِلِّ عَرْشِهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ (سنن الترمذي - (5 / 127)**

رسول الله (ص) وفرمایل: څوک چې تنګ لاسي ته وخت وخت ورکړي اویاورڅخه تیر شي نو دقیامت په ورځ به الله تعالی هغه ته دخپل

رحمت په سیوري کې ځای ورکړي پداسې حال کې چې بل سورې به نه وي.

د رسول الله ﷺ د دغو لارښوونو تراؤدهغوسوداګرو، بدایو اوشتمنو سره دی چې تنګ لاسي او بیوزلي وګړي ترې دخپلو اړتیاوو لپاره پورونه اخلي خو کوم خلک چې له چا څخه پور واخلي نو هغه ته رسول الله ﷺپه ډیر ټینګار سره فرمایلي دي چې تر څومره پورې یې توان وي ژر تر ژره دې دپور د ادا کولو هڅه او کوښښ وکړي او داسې نه شي چې د پوره وړي توب په حالت کې له نړی څخه سترګې پټې کړي اود الله تعالی دکوم بنده حق دهغه پرغاړه پاتې شي، په دې باره کې چې رسول الله ﷺڅومره په تاکید او ټینګار سره فرمایلي دي نو ددې اندازه له دغو لارښوونو څخه کیږی.

په یو حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

**أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُغْفَرُ لِلشَّهِيدِ كُلُّ ذَنْبٍ إِلَّا الدَّيْنَ (صحيح مسلم - (9 / 469)**

رسول الله وفرمایل: شهیدته ټول ګناهونه بښل کیږي پرته له پور اوقرض څخه.

یعنې که چیرې یو مسلمان دالله په لاره کې شهید شي نو دشهادت له امله به دهغه ټول ګناهونه وبښل شي خوکه دچا پور دهغه پرغاړه وي نو دهغه غاړه به دشهید کیدو سره سره هم نه خلاصیږي. په یو بل حدیث کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

**وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ أَنَّ رَجُلًا قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ أُحْيِيَ ثُمَّ قُتِلَ ثُمَّ أُحْيِيَ ثُمَّ قُتِلَ وَعَلَيْهِ دَيْنٌ مَا دَخَلَ الْجَنَّةَ حَتَّى يُقْضَى عَنْهُ دَيْنُهُ**
**(سنن النسائي - (14 / 291)**

(زما دې پرهغه پالونکي رب سوګند وي چې دهغه په لاس کې زما ساه ده که چیرې څوک دالله

په لاره کې شهيد شي بيا را ژوندى شي اوبيا شهيد شي بيا را ژوندى شي اوبيا شهيد شي اوبيا هم دهغه پرغاړه دچا پوراوقرض پاتې وي نو هغه جنت ته نشي تللاى ترڅوپورې چې پور ادا نه کړي.

دمالي معاملاتو اود بندګانو دحقوقو د اهميت، ارزښت اوحساسيت داندازه کولو لپاره بس يواځې دا دواړه احاد يث پوره اوکافي دي. الله تعالى دې مونږ ته توفيق راکړي چې مونږ هم ددې په اهميت،ارزښت او حساسيت پوه شو او ددې هڅه او کوشښ وکړو چې دکوم بنده حق زمونږ پرغاړه باقي پاتې نه شي.

اتم څپرکې

# ټولنيز احکام

## آداب او خپل مينځي حقوق

دټولنيزو حقوقو او آدابو ښوونه هم د اسلام د سپيڅلي دين د ځانګړو او ډيرو مهمو ښوونو څخه ده اويو مسلمان هغه وخت ريښتيوني اوپوخ مسلمان کيداى شي چې داسلام په ټولنيزو احکامو هم په پوره ډول عمل وکړي.د ټولنيزو احکامو څخه زمونږ موخه دسلوک هغه طريقې دي چې اسلام يې لارښوونه کړې ده. د مثال په توګه داچې د اولاد سلوک او رويه به د مور او پلار سره څنګه وي او د مور او پلار سلوک به د اولاد سره په څه ډول وي؟ يو ورور به د بل ورور سره څنګه مخامخ کيږي؟ له خويندو سره څنګه سلوک وکړاى شي؟

ښځه او ميړه به پخپل مينځ کې څنګه ژوند کوي؟ اومشران به له کشرانو سره څنګه سلوک کوي؟. له ګاونډيانو سره زمونږ رويه څنګه پکار ده؟ بډاى اوشتمن خلک به د بيوزلو وګړو سره څه ډول رويه کوي؟ د اقا او بادار اړيکې دخپل خدمتګارسره اود خدمتګار سلوک به دخپل آقا سره څنګه وي؟ لنډه داچې په دې دنياوي ژوندکې چې دمختلفو طبقو دکومو لويو او کوچنيو وګړو سره زمونږ راشه درشه پيښيږي دهغوى سره دسلوک او ناستې پاستې په هکله چې اسلام مونږ ته کومې ډيرې پوره او روښانه لارښوونې کړې دي، همغه (ټولنيز احکام او اداب) دي او په دې څپرکې کې مونږ ددې په هکله څه ناڅه

یادونه کول غواړو:

## دمور او پلار حقوق اودهغوی ادب:

په دې نړی کې دانسان ترټولو لومړنې او ډیرلوی تړاؤ او اړیکې دموراوپلار سره وي، داسلام سپیڅلې دین دالله تعالى دحق څخه وروسته ترټولو لوی حق دموراوپلار ښودلی دی، الله تعالى فرمايي:

﴿ ۞ وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنًاۚ إِمَّا يَبۡلُغَنَّ عِندَكَ ٱلۡكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوۡ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفّٖ وَلَا تَنۡهَرۡهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوۡلٗا كَرِيمٗا ٢٣ وَٱخۡفِضۡ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحۡمَةِ وَقُل رَّبِّ ٱرۡحَمۡهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرٗا ٢٤ ﴾ الإسراء: ٢٣ - ٢٤

اوستا رب پریکړه کړې ده چې پرته له هغه نه دبل هیچا عبادت مه کوئ، اوله موراوپلار سره ښه چال چلن کوئ، که له هغوی نه یو یا دواړه زړښت ته ورسیږي نو اف هم مه ورته وایئ ،مه یې رټئ اوپه خورا نرمی اومهربانی خبرې ورته کوئ، دډیرې مهربانی لپاره ورته دماتې اوتسلیمی وزرونه خپاره اوهمیشه ورته دعا غواړئ،چې اي پروردګاره! پرهغوئ رحم وکړه لکه څنګه یې چې په کوچنیوالي کې زما پالنه کړې. دقرآن شریف په یوبل آیت کې دموراوپلاردحق دبیانولو په ترځ کې تردې پورې ویل شوي دي (که چیرې د چا مور اوپلار کافر اومشرک وي اوخپل اولاد کفراوشرک ته مجبوروي نو اولاد ته پکاردي چې د هغوی په وینا دې کفر او شرک نه غوره کوي خو په دنیا کې دې دهغوی سره ښه چال چلن، اودهغوی خدمت دې بیاهم کوي.قرآنکریم فرمایي:

﴿ وَإِن جَٰهَدَاكَ عَلَىٰٓ أَن تُشۡرِكَ بِي مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٞ فَلَا تُطِعۡهُمَاۖ وَصَاحِبۡهُمَا فِي ٱلدُّنۡيَا مَعۡرُوفٗاۖ وَٱتَّبِعۡ سَبِيلَ مَنۡ أَنَابَ إِلَيَّۚ ثُمَّ إِلَيَّ مَرۡجِعُكُمۡ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿١٥﴾ ﴾ لقمان: ١٥

خوكه هغويګ پرتا فشار راولي چيګ له ماسره ته داسيګ خګه شريك كؤيګ چيګ تاته د هغه معلومات نه وي نو دهغو خبره هيخګكله مه منه ، په دنيا كيګ له هغو سره غوره چارچلند كوه ، خو پيروي دهغه چا دلاريګ وكؤه چيګ هغه زما لوري ته رجوع كؤيګ ده . بيا ستاسيګ تګولو راكګرحګيدل همدا زما لوري ته دي په هغه وخت كيګ به زه تاسيګ ته در وشګيم چيګ تاسيګ خګه عمل كاوه .

دقرآن مجيد سربيره په احاديثو كې هم دمور اوپلار دخدمت، خبرې منلو او اطاعت ډير سخت ټينګار اوتاكيد شوى دى اودهغوى څخه سرغړونه ،نافرماني او كړاو ورته رسول ډيره سخته ګناه شودل شوې ده. په يو حديث شريف كې راغلي دي:

**رِضَى الرَّبِّ فِي رِضَى الْوَالِدِ وَسَخَطُ الرَّبِّ فِي سَخَطِ الْوَالِدِ (ترمذى)**

(دمور او پلار په خوښى كې دالله پاك خوښي اورضا ده اودمور اوپلار په ناخوښى كې دالله پاك ناراضتيا ده)

په يوبل حديث كې راغلي دي:

**أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا حَقُّ الْوَالِدَيْنِ عَلَى وَلَدِهِمَا قَالَ هُمَا جَنَّتُكَ وَنَارُكَ (سنن ابن ماجه - (11 / 53)**

يوسړي دنبي كريم ﷺ څخه پوښتنه وكړه ! پراولاد دمور اوپلاركوم حقونه دي؟ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: (داولاد جنت او دوزخ مور او پلار دي)

(يعني دهغوى په خدمت باندې جنت ګټل كيداى شي اود هغوى څخه سرغړونه اوبد چلن دوزخ ته رسونكي دي.

په یوبل حدیث کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:
(دمور او پلارخدمت اواطاعت کوونکې زوی یالور چې هرڅو ځله خپل مور یا پلار ته دمینې او درناوي په نظر ګوري نو الله پاک به دهر ځل کتلو په بدل کې دیو قبول شوي حج ثواب دهغه لپاره لیکي، اصحابو کرامو پوښتنه وکړه یارسول الله ! که چیرې هغه هره ورځ سل ځله ورته ګوري نوبیابه هم په هرځل کتلو دیو قبول شوي حج ثواب ور ته لیکل کیږي؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: (هو! الله ډیرلوی دی اوډیر پاک دی). مطلب دادی چې دهغه په خزانو کې دهیڅ شي کمې نشته،په کوم عمل چې څومره اجراوثواب ورکول غواړي ورکولای یې شي.

۲ـ قَالَ ثَلَاثُ دَعَوَاتٍ لَا شَكَّ فِيهِنَّ دَعْوَةُ الْمُسَافِرِ وَالْمَظْلُومِ وَدَعْوَةُ الْوَالِدِ عَلَى وَلَدِهِ (مسنداحمد)

دري دُعاګانې دي چې په قبلیدوکې یې هیڅ شک نشته: دمسافردُعا، دمظلوم دُعا اودمورپلار دُعا داولاد په حق کې.

۳ـ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ أَحَقُّ النَّاسِ بِحُسْنِ صَحَابَتِي قَالَ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أَبُوكَ (بخارى)

یوسړی رسول الله (ص) ته راغې او ویې پوښتل: یارسول الله ! په انسانانوکې ترټولوزیات زما دښه سلوک حقدار او وړڅوک دی ؟ رسول الله ورته وفرمایل: ستامور، هغه وپوښتل ،بیاڅوک ؟ هغه وفرمایل: ستامور، بیا هغه وپوښتل: بیاڅوک ؟ هغه وفرمایل: ستامور، بیا هغه وپوښتل: بیاڅوک ؟ رسول الله (ص) ورته وفرمایل: ستاپلار.

٤ـ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ

اللَّهِ مَا الْكَبَائِرُ قَالَ الْإِشْرَاكُ بِاللَّهِ قَالَ ثُمَّ مَاذَا قَالَ ثُمَّ عُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ (بخارى)

يو اطرافي سړی رسول الله ته راغي او ويي پوښتل: يا رسول الله ! لوی ګناهونه کوم کوم دي ؟ رسول الله وفرمايل: د الله پاک سره شرک کول، هغه وپوښتل: بيا کومه ؟ هغه وفرمايل: دموروپلار نافرماني.

٥ - أكبر الكبائر عقوق الوالدين يَسُبُّ الرَّجُلُ أَبَا الرَّجُلِ فَيَسُبُّ أَبَاهُ ويَسُب أمه فَيَسُبُّ أُمَّهُ (أحمد عن ابن عمرو (جامع الأحاديث - (5 / 343)

ترټولو لوی ګناه دموروپلارنافرماني ده، يوسړي دبل سړي پلارته کنځل وکړي نوهغه دده پلار ته کنځل وکړي، يا يې مور ته کنځل وکړي نوهغه هم دده مور ته کنځل وکړي.

٦- « كل الذنوب يؤخر الله ما شاء منها إلى يوم القيامة إلا عقوق الوالدين فإن الله تعالى يعجله لصاحبه في الحياة قبل الممات »

« هذا حديث صحيح الإسناد ولم يخرجاه » (الحاكم فى المستدرک وشعب الايمان للبيهقي)

دټولو ګناهونو سزا الله پاک که خوښه يې شي ترقيامته يې ځنډوي ،خودموروپلاردسرغړونې سزا الله پاک له مرګ مخکې په ژوندانه کې دهغې کوونکې ته ورکوي.

په يو حديث کې راغلي دي چې:

٧-جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَدْتُ الْغَزْوَ وَجِئْتُكَ أَسْتَشِيرُكَ فَقَالَ هَلْ لَكَ مِنْ أُمٍّ قَالَ نَعَمْ فَقَالَ الْزَمْهَا فَإِنَّ الْجَنَّةَ عِنْدَ رِجْلِهَا (مسند أحمد - (31 / 120)

يوڅوک رسول الله (ص) ته راغي، وي ويل: يا رسول الله! دغزانيت لرم، راغلم چې ستاسې سره سلا او مشوره وکړم. رسول الله (ص) ورڅخه وپوښتل: ايا مور دي شته؟ هغه وويل: هو! رسول الله (ص) ورته وفرمايل: دهغې خدمت کوه ځکه چې

جنت د هغې د پښو لاندې دی.
په یو بل حدیث شریف کې راغلي دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل:
٨-« ثَلاَثَةٌ لاَ يَنْظُرُ اللَّهُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْعَاقُّ لِوَالِدَيْهِ
(( السـنن الكبـرى للبيهقـي -م م - (8 / 288)
(دری ډوله خلک دي چې دقیامت په ورځ به ورته الله پاک درحمت په نظرنه ګوري یوډله په کې هغه خلک دي چې د مور او پلار نافرماني کوي.

## داولاد حقونه:

لکه څرنګه چې اسلام په اولاد د مور اوپلار حقونه مقرر کړي دي همدارنګه یې په مور اوپلار هم داولاد ځینې حقونه لازم کړي دي، ترکومه پورې چې دهغوی دخوراک، څښاک او جامو دحق تړاؤ دی نودهغه یادولو ته دلته اړتیا نشته ځکه چې داولاد ددې حق احساس له مونږسره په فطري اوطبیعي توګه شته.
هوکې! داولاد دکوم حق په ادا کولو کې چې له مونږ څخه په عمومي ډول نیمګړتیا اوغفلت کیږي داد هغوی دیني او اخلاقي روزنه ده. الله تعالی پرمونږ فرض کړي دي چې دخپل اولاد اواهل وعیال روزنه اوڅارنه په داسې توګه وکړو چې له مرګ نه وروسته هغوی جهنم ته لاړ نه شي، الله پاک فرمایي:
﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارًا ﴿٦﴾ ﴾ التحريم: ٦
ای مومنانو! خپل ځانونه اوکورنی موله اورنه وژغورئ.
داولاد دښې اوسالمې روزنې غوره والې رسول الله ﷺ په یو حدیث شریف کې داسې بیان کړی دی:
أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا نَحَلَ وَالِدٌ وَلَدًا مِنْ

**نَحْلٍ أَفْضَلَ مِنْ أَدَبٍ حَسَنٍ      (سنن الترمذي - (7 / 206)**

رسول الله (ص) وفرمایل: (دمور او پلار له طرفه دخپل اولاد لپاره له دې څخه زیاته غوره ورکړه اوعطیه نشته چې دهغوی ښه روزنه وکړي).

**أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَأَنْ يُؤَدِّبَ الرَّجُلُ وَلَدَهُ أَوْ أَحَدُكُمْ وَلَدَهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَتَصَدَّقَ كُلَّ يَوْمٍ بِنِصْفِ صَاعٍ   (مسند أحمد - (42 / 429)**

نبی علیه سلام وفرمایل: څوک چې خپل اولاد ته تربیه او روزنه ورکړې داله دې څخه غوره ده چې هره ورځ نیم صاع صدقه ورکړي.

دځینوخلکوپه اولادونو کې دزامنو سره زیاته مینه او د زړه تړاو وي او لونې خوارانې هغوی یوبوج اوبا رګڼي.

له همدې کبله دهغوی په روزنه اوپالنه کې غفلت اوکوتاهي کوي نوځکه په اسلام کې دلونوپه سمه روزنه باندې په ځانګړې ډول ټینګار شوی دی اوددې یې زیات غوره والی بیان کړی دی. په یو حدیث کې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي:

**قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ عَالَ ثَلَاثَ بَنَاتٍ فَأَدَّبَهُنَّ وَزَوَّجَهُنَّ وَأَحْسَنَ إِلَيْهِنَّ فَلَهُ الْجَنَّةُ قَالَ ثَلَاثُ أَخَوَاتٍ أَوْ ثَلَاثُ بَنَاتٍ أَوْ بِنْتَانِ أَوْ أُخْتَانِ  (سنن ابوداؤد)**

رسول الله (ص) وفرمایل: (دکوم سړي چې درې لونې یاخویندې وي اودهغوی سره ډیرښه اوغوره چلن وکړي اوښه روزنه یې وکړي اوپه (مناسب ځای) کې دهغوی نکاح وکړي نو الله پاک به هغه ته جنت ورکړي، اوپه بل روایت کې درې خویندې یادرې لونې یادوه لونې اودوه خورګانې هم ښودل شوي دي.

دښځې اومیړه حقونه:

دانسانانو په خپل منځي اړيکو کې دښځې اوميړه اړيکې هم ډيرې مهمې دي او دا دواړه ګواکې دنوک او ورى په څيردي.له دې کبله اسلام دهغوى په اړوند هم ډيرښکاره، روښانه او تاکيدي لارښوونې کړي دي، په دې اړه داسلام دښوونولنډيز دادى چې ميرمن ته ښايي چې دخپل ميړه پوره خيرغوښتنه اوخبره ومني اودهغه په امانت کې هيڅ ډول خيانت ونه کړي: الله تعالى فرمايي:

﴿ فَٱلصَّـٰلِحَـٰتُ قَـٰنِتَـٰتٌ حَـٰفِظَـٰتٌ لِّلۡغَيۡبِ بِمَا حَفِظَ ٱللَّهُۚ ﴿٣٤﴾ ﴾
النساء: ٣٤

نونيکې ښځې منونکې وي،دميړه په غياب کې دهغه دمال اوعزت ساتونکې وي.

اوخاوندانو ته داسلام حکم دادى چې هغوى دې دميرمنو سره پوره مينه وکړي، دخپل توان او وس سره سم دې ښه خواړه ورکړي، ښه لباس اوجامې دې ورته وکړي اودهغوى دزړه په ساتلو کې دې کمې نه کوي. الله پاک فرمايي:

﴿ وَعَاشِرُوهُنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ ﴿١٩﴾ ﴾ النساء: ١٩

اودخپلو ميرمنو سره ښه اونيک چال چلن کوئ.

رسول الله ﷺ به ددې قرآنې لارښوونوسره سم مسلمانوسړو اوښځو ته ديوبل سره دنيک او ښه چال چلن اوديو بل دخوشحاله ساتلو په هکله ډيرسخت ټينګار کاوه. په دې لړکې خومبارک احاديث دادى: يوځل رسول الله ﷺښځو ته دلارښونې په لړکې وفرمايل:

**لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةً وَامْرَأَةٌ بَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَلَيْهَا سَاخِطٌ** **(سنن الترمذي - (97 / 2)**

رسـول الله (ص) لعنـت ویلـی دی پـه دری ډلو:یـوه هغـه ښـځه چـې شـپه پری تیره شي او خاوند ورڅخه نا خوښه وي.

**قـال رسـول الله صـلى الله عليـه وسـلم : « اثنـان لا تجـاوز صلاتـهما رءوسهما : عبد آبق (1) من مواليـه (2) حتـى يرجع ، وامرأة عصت زوجها حتى ترجع » (المستدرك على الصحيحين للحاكم - (17 / 176)**

رسول الله (ص) دوه ډلـې داسې دي چې لـمونـځونـه يـې لـه سر څخه نـه پـورتـه کـيږي: هغه غـلام چـې لـه خپل بـادارڅخـه تـښـتـيدلـې وي اوبـل هغـه ميـرمن چې دخاوندنـافرمـانـي کـوي تـرڅـوچې لـه دې عمل څخه ونـه ګـرځي.

او ددې پـرعکس پـه يـوبـل حـديث شـريـف کـې رسول الله ﷺ فـرمـايـلـي دي:

**قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا امْرَأَةٍ مَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَنْهَا رَاضٍ دَخَلَتْ الْجَنَّةَ (سنن الترمذي - (4 / 388)**

رسول الله (ص) فـرمـايـلـى دي: (کـه کـومـه ميـرمن پـه داسې حـال کـې مـړه شي چې خـاونـد يـې ورڅخه خوښ اوراضي وي نـوهغـه بـه جنت تـه داخلـه شي.

پـه يـوبـل حديث کـې راغلـي دي چې رسول الله ﷺ وفـرمـايـل:

**وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَا تُؤَدِّي الْمَرْأَةُ حَقَّ رَبِّهَا حَتَّى تُؤَدِّيَ حَقَّ زَوْجِهَا (سنن ابن ماجه - (5 / 449)**

قـسم پـه هغه ذات چې د محمد ﷺ روح دهغـه پـه لاس کـې دى ! هيڅ ښځه دالله پـاک حـق تـرهغـې پـورې نـه شي ادا کـولاى تـرڅوپـورې چـې دخپـل ميـړه حق ادا نـه کړي.

اوپـه يـوه ډيـره مـهمه مـوقـع دمسـلمـانـانـو ډيـرې سـترې تـولـنې تـه پـه ځانـګړي ډول نـارينـه ؤ تـه نـبـي کـريـم ﷺ وفـرمـايـل:

**(( فَاتَّقُوا اللَّهَ فِي النِّسَاءِ فَإِنَّكُمْ أَخَذْتُمُوهُنَّ بِأَمَانِ اللَّهِ وَاسْتَحْلَلْتُمْ فُرُوجَهُنَّ بِكَلِمَةِ اللَّهِ)) (صحيح مسلم - (6 / 245)**

(زه تاسو ته دښځوسره دښه سلوک اوچلن په ځانګړي ډول وصيت کوم:تاسې هغوى دالله پاک په امان سره خپلې کړي دي،اودهغوى فرجونه مودالله پاک په کلمه باندې ځانته حلا ل ګرځولي دي)).

په يو بل ځاى کې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

**خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهِ وَأَنَا خَيْرُكُمْ لِأَهْلِي وَإِذَا مَاتَ صَاحِبُكُمْ فَدَعُوهُ (ترمذی)**

(په تاسو کې غوره هغه څوک دى چې د خپلې ميرمنې په حق کې ښه وي،اوزه دخپل اهل لپاره ښه يم،او چې کله مو دژوندملګرې وفات شي نودُعا ورته کوئ .

په يو بل روايت کې راغلي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل:

**قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:"أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا، وَخَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لأَهْلِهِ" (المعجم الكبير للطبراني - (341 / 19)**

رسول الله (ص) وفرمايل: (په مسلمانانو کې دزيات کامل ايمان خاوند هغه دى چې اخلاق يې ښه وي اود خپلې کورنۍ سره دهغه چلن په نرمۍ اومينې سره وي).

## دعاموخپلوانوحقونه:

دمور،پلار، ښځې اوميړه داړيکو سربيره دانسان دخپلو عامو خپلوانو سره هم دى، اسلام ددغه اړيکو او خپلوى هم ډيرلحاظ ساتلى دى اوپه دې اعتباريې هم ځينې خپل منځي حقوق ټاکلي دي.لکه څرنګه چې په قرآن مجيد کې څوځايه د (ذوى القربى) خپلوانو سره د نيک اوښه چلن اوسلوک ټينګاراو تاکيد شوى دى. اوپه اسلام کې هغه انسان ډيرلوى مجرم اوګناهګار شودل شوى دى چې

دخپلوانو حقونه ترپښولاندې کوي اوپه خپل سلوک اوچال چلن کې دخپلوانو اودخپلوی داړیکو لحاظ نه ساتې نودا سړی به جنت ته داخل نه شي. بیاپه دې لړ کې د رسول الله ﷺیوه ځانګړې لارښوونه اوټینګار دادی که چیرې ستاکوم خپلوان ستادخپلوی حق ادا نه کړي نود هغه دخپلوی حق ته په هر صورت کې ادا کوه. لکه چې رسول الله ﷺپه یو حدیث شریف کې فرمایلي دي:

**يَا رَسُولَ اللَّهِ أَخْبِرْنِي بِفَوَاضِلِ الْأَعْمَالِ فَقَالَ يَا عُقْبَةُ صِلْ مَنْ قَطَعَكَ وَأَعْطِ مَنْ حَرَمَكَ وَأَعْرِضْ عَمَّنْ ظَلَمَكَ (مسنداحمد)**

یارسول الله !ماته غوره ایمان په ګوته کړه:نو هغه ورته وفرمایل:(غوره اوافضل اعمال دادی:که ستاسو کوم خپلوان ستاسو سره اړیکې نه پالي او د خپلوی حق نه اداء کوي نو ته ورسره اړیکې مه پریکوه،هغه چاته ورکړه کوه چې تابې برخې کوي،څوک چې دربانديې تیري کوي دهغه څخه مخ ګرځوه.

## دکوچنیانوپرلویانو اود لویانو پرکشرانو عام حقونه:

اسلام دټولنیز ژوند په لړکې یوه عمومي او اصولي لارښوونه داهم کړې ده چې هرکوچنې به دخپلو مشرانو احترام او درناوې کوي اودهغوی په وړاندې به په آدب سره اوسي.

اوهرمشرته ښایې چې دخپلو کشرانو سره دمینې اوزړه سوي چال چلن وکړي (سره له دې چې دخپلوی اړیکې سره ونه لري) . داسلام له نظره دا کار دومره اړین دی چې رسول الله ﷺ په یو حدیث شریف کې اعلان فرمایلی دی چې:

**مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا وَيَعْرِفْ حَقَّ كَبِيرِنَا فَلَيْسَ مِنَّا (سنن ابوداؤد)**

(کوم مشرچې پرخپلو کشرانو شفقت نه کوي اوکشردمشرانو ادب نه کوي نو هغه له

مونږڅخه نه دى)
په يو بل حديث كې راغلي دي چې رسول الله ﷺوفرمايل:
**مَا أَكْرَمَ شَابٌّ شَيْخًا لِسِنِّهِ إِلَّا قَيَّضَ اللَّهُ لَهُ مَنْ يُكْرِمُهُ عِنْدَ سِنِّهِ (ترمذى)**
(كوم ځوان چې دكوم سپين ږيري دمشرتوب له امله عزت او احترام وكړي نو الله تعالى به دهغه لپاره هم داسې وګړي مقرر كړي چې په سپين ږيرتوب كې به دهغه عزت او احترام كوي).

## دګاونډې حقونه:

دخپلوانو سربيره دانسان اړيكي په ځانګړي ډول دخپلو ګاونډيانو سره هم وي.
اسلام دغو اړيكو ته هم ډيراهميت وركړى دى او ددې په اړه يې ځانګړې اومفصلې لارښوونې كړي دي. په قرآن مجيد كې چې په كوم ځاى كې دمورپلار، ښځې ميړه اونورو خپلوانو سره دښه سلوك او نيك چلن حكم شوى دى هلته دګاونډيانو سره هم دنيك اوغوره چلن ټينګار او لارښوونه شوي ده،الله تعالى فرمايي:

﴿ ۞ وَٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشْرِكُواْ بِهِۦ شَيْـًٔا ۖ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَـٰنًا وَبِذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَـٰمَىٰ وَٱلْمَسَـٰكِينِ وَٱلْجَارِ ذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْجَارِ ٱلْجُنُبِ وَٱلصَّاحِبِ بِٱلْجَنۢبِ وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَـٰنُكُمْ ۗ ﴿٣٦﴾ ﴾ النساء: ٣٦

او تاسيګ تګول د الله بندګګي وكؤئ ، له هغه سره هيګځګ شي شريك مه نيسئ، له مور او پلار سره غوره رويه وكؤئ ، له خپلوانو ، يتيمانو او مسكينانو سره نيك چلن وكؤئ ، او له خپلوانوكګاونأيو سره ، پرديوكګاونأيګو سره ، د خګنكګ له ملكګري او پرديس سره او له هغو وينزو او غلامانو سره

چیګ ستاسیګ په لاس کشګیګ وي ، داحسان چار چلن وکوئ ، باور ولرئ چیګ الله داسیګ خګوك نه خوشګوي چیګ په خپله انکګیګرنه مغرور وي او په خپله لوؤتیا ویاؤي

په دې آیت کې د درې ډوله ګاو نډیانو يادونه شوې ده اوپه دې کې د هرډول ګاونډي سره دښه او نيک چلن لارښوونه شوې ده د (وَٱلْجَارِ ذِى ٱلْقُرْبَىٰ) څخه مراد هغه ګاونډي دى چې دګاونډیتوب سربيره ورسره کومه خانګړی دخپلوی اړیکې هم لري او د (وَٱلْجَارِ ٱلْجُنُبِ) څخه مراد هغه ګاونډي دى چې له هغه سره دخپلوی کومې اړیکې نه وي يواځې دګاونډيتوب حق يې وي چې په دې کې غیرمسلمان ګاونډي هم داخل دى.

اوله (وَٱلصَّاحِبِ بِٱلْجَنۢبِ) څخه مراد هغه کسان دي چې په تصادفي توګه ورسره انسان ملګرى شي لکه دسفر ملګرى يا دمدرسې ملګرى يا يو ځاى کاروبارکوونکي ملګري، په دې کې هم دمسلمان او غیر مسلمان کوم تخصیص نشته او اسلام ددغو دريو اړو ګاونډیانو اوملګروسره مونږ ته دښه او نیک چلن حکم کړى دى. رسول الله ﷺ په دې باره کې ډير په ټينګار سره فرمايلي دي:

**مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يُؤْذِي جَارَهُ (بخارى)**

څوک چې په الله پاک اود قیامت په ورځ ایمان لري نو خپل ګاونډي ته دې ضرر اوتکلیف نه رسوي.

په يو بل حديث کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

**مَا يُؤْمِنُ مَنْ بَاتَ شَبْعَانَ وَجَارُهُ طاوٍ إِلَى جَنْبِهِ (مصنف ابن ابى شيبه)**

(هغه څوک مسلمان نه دى چې پخپله شپه

مړه تېره کړي اواړخ ته يې اوسيدونکې ګاونډي وړی وي.
په يوبل حديث شريف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ يوځل په ډير جلال سره وفرمايل:
**وَاللَّهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللَّهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللَّهِ لَا يُؤْمِنُ قَالُوا وَمَا ذَاكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ الْجَارُ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ (مسنداحمد)**
(په الله قسم !چې هغه څوک کامل مومن نه دی، په الله قسم چې کامل مومن نه دی، په الله قسم چې کامل مومن نه دی ! پوښتنه وشوه ای د الله رسوله !څوک کامل مومن نه دی ؟ ويې فرمايل: هغه څوک مومن نه دی چې ګاونډې دهغه له ضرر څخه په امن نه وي.
په يوبل حديث کې راغلي دي چې:
**قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ فُلَانَةَ يُذْكَرُ مِنْ كَثْرَةِ صَلَاتِهَا وَصِيَامِهَا وَصَدَقَتِهَا غَيْرَ أَنَّهَا تُؤْذِي جِيرَانَهَا بِلِسَانِهَا قَالَ هِيَ فِي النَّارِ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَإِنَّ فُلَانَةَ يُذْكَرُ مِنْ قِلَّةِ صِيَامِهَا وَصَدَقَتِهَا وَصَلَاتِهَا وَإِنَّهَا تَصَدَّقُ بِالْأَثْوَارِ مِنْ الْأَقِطِ وَلَا تُؤْذِي جِيرَانَهَا بِلِسَانِهَا قَالَ هِيَ فِي الْجَنَّةِ (مسند أحمد - (19 / 341)**
يو صحابی رسول الله ﷺ ته وويل: دفلانی ښځې په هکله ويل کيږي چې ډيرلمونځو نه کوي، ډيرې روژې نيسي اوښه صدقه اوخيرات ورکوي خودخپلې ژبې په تيزوالي خپلو ګاونډيانو ته ضرر اوتکليف رسوي ! رسول الله ﷺ وفرمايل: (هغه ښځه به دوزخ ته ځي. بيا همدغه صحابي وويل: ای د الله رسوله ! اودفلانی ښځې په اړه ويل کيږي:چې لمونځونه، روژې او خيراتونه ډير نه (يعنې نفلي لمونځونه، نفلي روژې، او نفلي خيراتونه دلومړنی ښځې پرتله لږکوي) خو خپلو ګاونډيانو ته هيڅکله هم پخپله ژبه ضرر اوتکليف نه رسوي، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: (دغه ښځه به جنت ته ځي)
وروڼو! دادي په اسلام کې دګاونډيانو

حقونه
افسوس! چې نن ورځ مونږله دغو احکاموڅخه ځومره غافل اوبې پروا يو.

## دکمزورو او اړمنو حقونه:

تردې ځايه چې دکومو دلودحقونو يادونه وشوه دا ټول هغه وګړي دي چې دانسان کوم ځانګړې تړاؤ اوا ړيکې ورسره وي،کيداى شي چې خپلوان وي ياګاونډي ياپو ځاى اوسيدونکي ملګري خو اسلام له دوى سربيره دټولو کمزورو طبقو اوهرډول اړمنو وګړو لپاره هم حقونه ټاکلي دي اوکوم خلک چې مالي توان اوشتمني لري پرهغوى يې دا لازم کړي چې له دغو وګړو سره مرسته او کومک وکړي اوپه خپلې شتمنی اواستعدادونو کې دهغوى حق اوبرخه هم وګڼې.دقرآن مجيد په ډيروآيتونو کې په دې تاکيد، ټينګاراولارښوونه شوې ده چې ديتيمانو، بيوزلو، اړمنو،مسافرو اونورو محتاجوخلکو سره مرسته وکړئ، د وږو دخوړو او بربنډو د لباس اوجامو انتظام وکړئ اوداسې نور. رسول الله ﷺ هم په دې اړه په ډيرټينګارسره ترغيب ورکړى دى او ددې ډير غوره والى (فضيلتونه) يې بيان کړي دي. په دې لړکې ځومبارک احاديث دادي: رسول الله ﷺ خپلو دواړه مبارکو ګوتو ته چې نژدې کړې يې وې اشاره وکړه او ويې فرمايل:

**وَأَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ فِي الْجَنَّةِ هَكَذَا وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى وَفَرَّجَ بَيْنَهُمَا شَيْئًا (بخارى)**

ديتيم ماشوم پالنه اوکفالت کوونکى به په جنت کې ماته دومره نژدې وي لکه ځرنګه چې دا دواړه ګوتې سره نژدې دي. په يوبل حديث شريف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ

وفرمایل:
**السَّاعِي عَلَى الْأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِينِ كَالْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ كَالَّذِي يَصُومُ النَّهَارَ وَيَقُومُ اللَّيْلَ (بخارى)**
دکونډو، بیوزلواو اړمنو خلکو دمرستې لپاره هڅه اوکوښښ کوونکې مسلمان دالله په لاره کې دجهاد کوونکي له درجې سره برابر دی او په ثواب کې دهغه مسلمان سره برابر دی چې تل دورځې روژه وي اودشپې نفلونه کوي).
په یو بل حدیث کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ مسلمانانو ته حکم وکړ:
**أَطْعِمُوا الْجَائِعَ وَعُودُوا الْمَرِيضَ وَفُكُّوا الْعَانِيَ**
**(صحيح البخاري - (16 / 466)**
(ځوک چې وږی وي دهغوی لپاره خواړه برابرکړئ، درنځورانو پوښتنه وکړئ اوبندیان ازادکړئ).
په یوبل حدیث کې راغلي دي چې نبي کريم ﷺ خلکو ته څولاړښوونې وکړې اوددې په ترڅ کې یې وفرمایل:
(دمصیبت وهلو سره مرسته کوئ او لار ورکو ته لیاره ښایئ.)
په دغو مبارکو احادیثو کې نبي کریم ﷺ دمسلمان اوغیرمسلمان کوم تخصیص نه دی کړی بلکه په ځینو احادیثو کې خو نبي کریم ﷺ دځاروو اوحیواناتو سره هم دښه اونیک چلن په اړه ډیر سخت تینګار فرمایلی دی اوپربې ژبو حیواناتو زړه سواندي کوونکي اودهغوی خبر اخیستوونکو وګړو ته یې دالله تعالی درحمت زیرې اورولې دی. په حقیقت کې اسلام دټول عالم اوګرد مخلوق لپاره رحمت دی اوزمونږ سردار اوستر لارښود حضرت محمد ﷺ رحمة للعالمین دی خو مونږ پخپله دخوږ نبي ﷺ له احکامو اوپیغام څخه لیرې شوي یو.

کاش! مونږهم ريښتوني مسلمانان شو اودتولې نړی لپاره رحمت وګرځو.

## پريو مسلمان دبل مسلمان حقوق:

دخپلوانو، ګاونډيانو او عامو انساني حقونو سربېره پرهر مسلمان د نورو مسلمانانو ځېنې اسلامي حقونه شته، په دې باره کې درسول الله ﷺ ځومبارک احاديث دادی:

**الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يُسْلِمُهُ وَمَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللَّهُ فِي حَاجَتِهِ وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً فَرَّجَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرُبَاتِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ (بخارى)**

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: (مسلمان دبل مسلمان ورور دی،نه پرې خپله ظلم کوي اونه يې بل ظالم ته سپاري، او څوک چې دخپل مسلمان ورور په اړتياپوره کولو کې لګيا وي نو الله تعالى به دده اړتياوې پوره کړي،کوم مسلمان چې دخپل مسلمان ورور څخه تکليف لرې کړي نو الله تعالى به دقيامت په ورځ له هغه څخه دقيامت کړاونه لرې کړي، اوڅوک چې دمسلمان په عيبونو پرده واچوي نوالله به دقيامت په ورځ دهغه په عيبونو پرده واچوي.

په يو بل حديث کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

**لَا تَبَاغَضُوا وَلَا تَحَاسَدُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا وَلَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ (بخارى)**

(تاسې يوتربله بغض اودښمني مه کوئ، حسد مه کوئ، غيبتونه مه کوئ اوديو الله پاک بنده ګان ورونه ورونه شئ ،د هيڅ مسلمان لپاره حلال نه دي چې دخپل مسلمان ورورسره له دريو ورځو څخه زيات سلام اوخبرې

پریږدي)

په یوبل حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

**كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ مَالُهُ وَعِرْضُهُ وَدَمُهُ حَسْبُ امْرِئٍ مِنْ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ (سنن ابوداؤد)**

(دمسلمان مال، نفس، عزت او ابرو پربل مسلمان بالکل حرام دي،دیوسړي همدومره شر بس دی چې هغه خپل مسلمان وروړسپک وګڼي.

اوس مونږد ټولنیزو آدابو اوخپلمنځي حقوقو دا لړی د رسول الله ﷺ په یو مبارک حدیث سره پای ته رسوو چې دهرمسلمان زړه لړزوي:

**قَالَ تَدْرُونَ مَنْ الْمُفْلِسُ قَالُوا الْمُفْلِسُ فِينَا يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ لَا لَهُ دِرْهَمَ وَلَا دِينَارَ وَلَا مَتَاعَ قَالَ الْمُفْلِسُ مِنْ أُمَّتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ يَأْتِي بِصَلَاةٍ وَصِيَامٍ وَزَكَاةٍ وَيَأْتِي قَدْ شَتَمَ عِرْضَ هَذَا وَقَذَفَ هَذَا وَأَكَلَ مَالَ هَذَا وَضَرَبَ هَذَا فَيُقْعَدُ فَيَقْتَصُّ هَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ وَهَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ فَإِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْضَى مَا عَلَيْهِ أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَ عَلَيْهِ ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ (مسنداحمد)**

رسول الله ﷺ یوځل له اصحابوکرامو څخه پوښتنه وکړه، تاسو وواياست چې مفلس او ناداره څوک دی؟ اصحابوکرامو وویل: (مفلس هغه دی چې دینار او درهم ورسره نه وي) نبي υ وفرمایل: زما د اُمت مفلس هغه دی چې دقیامت په ورځ به دلمانځه، روژې اوخیراتونو سره راشي خو په دنیا کې به هغه چاته بدې ردې اوکنځلې کړې وي، پرچابه یې بهتان لګولې وي، څوک به یې وهلې وي، دچامال به یې په ناحقه خوړلی وي، کله چې هغه دحساب په ځای کې ودرول شي نوپرده دعوی کوونکي خلک به راشي اود هغوی دحقونو په اندازه به دده له نیکیو څخه هغوی ته ورکړای شي تردې پورې چې دده ټولې نیکۍ به

ختمې شي نوبيابه دهغوی ګناهونه پرده واچول شي او دوزخ ته به ورتيل وهل شي.

**حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ خَمْسٌ رَدُّ السَّلاَمِ وَعِيَادَةُ الْمَرِيضِ وَاتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ وَإِجَابَةُ الدَّعْوَةِ وَتَشْمِيتُ الْعَاطِسِ (بخارى)**

**يومسلمان په بل مسلمان پنځه حقونه لري: دسلام ځواب ورکول، دناروغ پوښتنه، دجنازې پسې تلل، دبلنې اودعوت قبلول اودپرنجي ځواب يې ورکول.**

ورونو! په دې مبارکو احاديثو غوروکړئ اوفکروکړئ چې دنوروخلکو حقونه ترپښولاندې کول، هغوی ته بدې ردې ويل او دهغوی غيبتونه کول خپل ځان ځومره په هلاکت اوتباهی کې اچول دي.

دالله بنده ګانو! که چيرې تاسود چاحق تلف کړی وي نوپه دنيا کې دهغې حساب وکړئ، يادهغه بدله ورکړئ ياترې معافي او بښنه وغواړئ اود راتلوونکې لپاره داحتياط ژمنه اوهوډ وکړئ که نه په آخرت کې ددې انجام ډيربد دی.

نهم څپرکی

# ښه اخلاق او غوره صفات

دښو اخلاقو اوغوره خویونو او صفتونو ښوونه هم داسلام له اساسي ښوونو څخه ده اودوګړو اخلاقي او روحاني اصلاح او رغاونه له هغوڅانګړو موخواومقاصدو ځینې دي چې ددې د پوره والي او تکمیل لپاره نبي کریم ﷺ د پیغمبر په توګه رالیږل شوی دی، پخپله رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

**عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- :« إِنَّمَا بُعِثْتُ لأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الأَخْلاَقِ » (بيهقى)**

(رسول الله وفرمایل: زه دالله پاک له طرفه ددې لپاره رالیږل شوی یم چې دښو اوغوره اخلاقوښوونه وکړم اودا دکمال هسکې مرتبې ته ورسوم).

## دښو او نیکو اخلاقو اهمیت او غوره والی:

په اسلام کې چې دنیکواوغوره اخلاقو کوم اهمیت اوغوره والی دی، ددې اندازه د رسول الله ﷺ ددې مبارکو احادیثو څخه کیدای شي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**۱-عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ قَالَ:"إِنَّ مِنَ الإِيمَانِ حُسْنُ الْخُلُقِ، (المعجم الكبير للطبراني - (7 / 200)**

**نبي کریم غرمایلي دي چې غوره اخلاق دایمان برخه ده.**

په یو بل حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

**۲-وَإِنَّ مِنْ أَقْرَبُكُمْ إِلَيَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَحَاسِنُكُمْ أَخْلاقًا"**

**(طبرانی)**

(دقیامت په ورځ به ماته ترټولو زیات نږدې هغه مسلمان وي چې دهغه اخلاق ترټولو غوره وي)

په یو بل حدیث کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

**٣ـمَا مِنْ شَيْءٍ أَثْقَلُ فِي الْمِيزَانِ مِنْ حُسْنِ الْخُلُقِ (سنن ابوداؤد)**

(دقیامت په ورځ به داعمالو په تله کې تولو درونډشی غوره اوښه اخلاق وي.

په یو بل روایت کې راغلي دي چې:

**٤ـوَسُئِلَ عَنْ أَكْثَرِ مَا يَلِجُ بِهِ الْجَنَّةَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُسْنُ الْخُلُقِ (مسند أحمد - (16 / 107)**

دنبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وشوه هغه کوم صفات دي چې انسان جنت ته رسوي ؟ نبي ﷺ وفرمایل: غوره او ښه اخلاق.

په یوبل حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

**٥ـوَإِنَّ صَاحِبَ حُسْنِ الْخُلُقِ لَيَبْلُغُ بِهِ دَرَجَةَ صَاحِبِ الصَّوْمِ وَالصَّلَاةِ (سنن الترمذي - (7 / 285)**

(دښو او نیکو اخلاقو لرونکي مومن ته به په ورځو کې دروژو نیوونکي اوپه شپوکې دلمونځ کوونکي (یعنې دنفلي لمونځونواوروژو ) اجراوثواب ورکول کیږي.

**٦ـحسن الخلق نصف الدين (الديلمى عن أنس)**

**(جامع الأحاديث - (12 / 122)**

**غوره او ښه اخلاق نیمایي دین دی.**

مطلب دادی چې که دالله پاک دکوم بنده ایمان په برخه شوې وي اوهغه دالله تعالی مقرر کړای شوي فرض ادا کوي اوزیاتې نفلي روژې نه نیسي اونه دشپې ډیر زیات نفلي لمونځونه کوي خو دهغه اخلاق ښه وي نوالله پاک

به هغه ته دخپلو دغو ښواوغوره اخلاقو له وجې دهغو وګړو برابراجراوثواب ورکوي چې صايم النهار او قايم الليل وي (يعنې د ورځې روژې نيوونکي اود شپې نفلي لمونځونه ادا کوونکي وي).

## دبدواخلاقو ناوړه اغيزې:

په کوم ډول چې رسول الله ﷺ دښو اخلاقو غوره والى او فضيلتونه بيان کړي دي همدارنګه نبي کريم ﷺ مونږدبدواخلاقو له ناوړه اغيزو څخه هم خبرکړي يو.

په يو حديث کې راغلي دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل:

**١-حسن الخلق من أخلاق أهل الجنة وإن سوء الخلق من أخلاق أهل النار (ابن عساكر)(جامع الأحاديث - (36 / 466)**

غوره اوښه اخلاق دجنتيانودااخلاقوڅخه او بد اخلاقي ددوزخيانو له اخلاقوڅخه دي.

**٢-وإنَّ سُوءَ الخُلُقِ لَيُفْسِدِ العملَ كما يُفْسِدُ الخلُّ العسلَ (جامع الأحاديث - (1 / 433)**

اوبداخلاق اعمال داسې فاسداوخرابوي لکه سرکه چې عسل اوشهدخرابوي.

**٣-« خصلتان (1) لا يكونان في مؤمن : سوء الخلق ، والبخل » (شعب الإيمان للبيهقي - (17 / 51)**

دوه خويونه دي چې په مؤمن کې نه پيدا کيږي: يو بداخلاقي او بل بخل او شومتيا.

په يو بل حديث کې راغلي دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل:

**٤-ومن شقاوة ابن آدم سوء الخلق (الخرائطى عن سعد) (جامع الأحاديث - (22 / 50)**

دبني آدم د بدبختى اوشقاوت نښه اوعلامه بداخلاقي ده.

## دځينو مهمواو اړينو اخلاقو بيان

په قرآن مجيد او احاديثو کې خو دټولو ښواونيکو اخلاقو اوغوره روحاني صفتونو ښوونه شوې ده اودګردو بدو اخلاقو اوناوړه عادتونو څخه دځان ساتلو په کلکه غوښتنه شوې ده خودلته مونږ يواځې داسلام دځو اساسي او اړينو اخلاقي لارښوونو يادونه کوو چې له دې څخه پرته کوم انسان ريښتونې مومن اومسلمان نشي کيداى.

## ريښتينولي اوصداقت:

په اسلام کې رښتيا ويل اوريښتنولي دومره زيات اهميت لري چې هرمسلمان ته دتل رښتياويلو سربيره په ډيرټينګار سره ددې لارښوونه هم شوى ده چې هغه دې تل دريښتونو وګړو سره او د ريښتيا ويوونکو وګړو سره ملګرتيا کوي، الله تعالى فرمايي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَكُونُواْ مَعَ ٱلصَّٰدِقِينَ ١١٩ ﴾

التوبة: ١١٩

اى مومنانو! دالله پاک څخه وويريږئ اويواځې دريښتنوسره ملګري شئ.

**١-ِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَصْدُقُ حَتَّى يَكُونَ صِدِّيقًا وَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللَّهِ كَذَّابًا**

**(صحيح البخاري - (19 / 45)**

**صدق اوريښتيانيکى ته لارښوونه اونيکي جنت ته لارښوونه کوي، اويوسړى ريښتيا وايي ترددې چې وګرځي صديق. اودرواغ لارښوونه کوي بدى ته اوبدي لارښوونه کوي اورته، اويوسړى دروغ وايي ترددې چې دالله تعالى په وړاندې**

کذاب ولیکل شي.
۲ـفَإِنَّ الصِّدْقَ طُمَأْنِينَةٌ وَإِنَّ الْكَذِبَ رِيبَةٌ (سنن الترمذي - (9 / 58)
صدق اوریښتیا ډاډ او اطمنان دی او دروغ شک اوتردید دی.
۳ـأَلَا إِنَّ الصِّدْقَ وَالْبِرَّ فِي الْجَنَّةِ أَلَا إِنَّ الْكَذِبَ وَالْفُجُورَ فِي النَّارِ

(مسند أحمد - (1 / 50)
خبردار ! صدق اونیکي په جنت کې دي، خبردار ! دروغ او فجور په اور کې دي.
٤ـعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا عَمَلُ الْجَنَّةِ قَالَ الصِّدْقُ وَإِذَا صَدَقَ الْعَبْدُ بَرَّ وَإِذَا بَرَّ آمَنَ وَإِذَا آمَنَ دَخَلَ الْجَنَّةَ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا عَمَلُ النَّارِ قَالَ الْكَذِبُ إِذَا كَذَبَ الْعَبْدُ فَجَرَ وَإِذَا فَجَرَ كَفَرَ وَإِذَا كَفَرَ دَخَلَ يَعْنِي النَّارَ

(مسند أحمد - (13 / 390)
له عبدالله بن عمروبن عاص τ څخه روایت دی چې یوسړی رسول الله ﷺ ته راغې او ویې ویل : یا رسول الله ! دجنت عمل څه شی دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: صدق او ریښتیا ! کله چې بنده ریښتیا وایي نوهغه نیک شي اوکله چې نیک شي نومؤمن شي اوکله چې مؤمن شي نوجنت ته داخل شي. هغه سړي وویل : یارسول الله ! داور کوم عمل دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: دروغ ! کله چې بنده دروغ وایي نو فاجرشي، او کله چې فاجرشي نوبیاکافرشي اوکله چې کافرشي نوبیا اور ته داخل شي.
٥ـعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَجْتَمِعُ الْإِيمَانُ وَالْكُفْرُ فِي قَلْبِ امْرِئٍ وَلَا يَجْتَمِعُ الصِّدْقُ وَالْكَذِبُ جَمِيعًا وَلَا تَجْتَمِعُ الْخِيَانَةُ وَالْأَمَانَةُ جَمِيعًا
(مسند أحمد - (17 / 280)

له ابوهريرة τ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ايمان او كفر ديوسړي په زړه كې نه جمع كيږي، اونه صدق او كذب دواړه په يو زړه كې را جمع كيږي، او نه خيانت او امانت دواړه په يو زړه كې راجمع كيږي.

په يو بل حديث كې راغلي دي چې نبى كريم ﷺ وفرمايل:

**٦ـاعلم أن من آية الإيمان أن تؤثر الصدق حيث يضرك على الكذب حيث ينفعك (شعب الإيمان للبيهقي - (10 / 366)**

(پدې پوه شئ چې دايمان له نښو څخه يوداده چې رښتيا ويل اختياركړئ سره له دې چې تاسوته په كې زيان او ضرر وي په داسې حال كې چې دروغ ويل هغه مهال درته گټه رسوي.

څرنگه چې په اصل كې نجات او ژوند په رښتيا كې دی نوله دروغو څخه ځان وساتئ سره له دې چې تاسوته نجات اوبريااليتوب څرگندشي ځكه چې د دروغو انجام بربادي اوبدمرغي ده.

الله تعالى دې مونږ ټولوته توفيق راكړي چې دتل لپاره رښتيا اختيار كړو چې نجات وركونكي، جنت ته رسونكي او دالله اود رسول محب اومحبوب جوړونكي دي. او له دروغو څخه پوره ځانو نه وساتو چې پايله يې تباهي، بربادي اود الله او رسول له طرفه د لعنت او ناراضتيا سبب دي اود منافقينو نښه او علامت دی.

## د وعدې اوژمنې پابندي:

داهم په اصل کې درښتیا یو ځانګړی ډول دی چې دچا سره کومه ژمنه وکړئ هغه پوره کړئ په قرآن مجید او احادیثو کې په ځانګړي توګه په ټینګار او تاکید سره ددې لارښوونه شوې ده.

الله تعالی فرمايي:

﴿وَأَوۡفُواْ بِٱلۡعَهۡدِۖ إِنَّ ٱلۡعَهۡدَ كَانَ مَسۡـُٔولٗا ٣٤﴾ الإسراء: ٣٤

او وعده موپوره کړئ بې له شکه چې دوعدې په هکله پوښتنه کیدای شي.

اود قرآن مجید په یوبل آیت کې یې دنیکیودیادولو په لړ کې فرمايلي دي:

﴿وَٱلۡمُوفُونَ بِعَهۡدِهِمۡ إِذَا عَٰهَدُواْۖ ١٧٧﴾ البقرة: ١٧٧

او دخپلو وعدو پوره کوونکي دي کله چې وعده وکړي.

په حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ به په خپلو خطبوکې داسې فرمایل:

**(( وَلَا دِينَ لِمَنْ لَا عَهْدَ لَهُ )) ((مسند أحمد - (24 / 481)**

(څوک چې دخپلې وعدې پابندي نه کوي دهغه په دین کې برخه نشته)

په یوبل حدیث کې راغلي دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل:

**وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ (صحيح البخاري - (1 / 59)**

اوکله چې ژمنه اوعهدوکړي نوغدرکوي.

دوعدې نه پوره کول دمنافقانو له ځانګړو نښو څخه دي.

نو د رسول الله ﷺ ددې فرمان سره سم د وعدې ماتول او د ژمنې خلاف کول د ایمان سره نه شي جمع کیدای. الله پاک دې له دغو بدو عادتونو څخه مونږ ټول وساتي.

## د امانت ساتنه:

دامانت ساتل هم په اصل کې درښتیا او ریښتینولی یو ځانګړی ډول دی، په اسلام کې ددې تینګار او تاکید په خصوصیت سره شوی دی، الله پاک فرمایي:

﴿ ۞ إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُكُمۡ أَن تُؤَدُّواْ ٱلۡأَمَٰنَٰتِ إِلَىٰٓ أَهۡلِهَا ۝٥٨ ﴾ النساء: ٥٨

الله پاک تاسې ته امرکوي چې امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارئ

اود قرآن مجید په یو بل آیت کې دریښتینو مومنانو د صفتونو دیادولو په ترڅ کې فرمایې:

﴿ وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِأَمَٰنَٰتِهِمۡ وَعَهۡدِهِمۡ رَٰعُونَ ۝٨ ﴾ المؤمنون: ٨

او هغوی چې دخپلو امانتونو او وعدو رعایت کوي

درسول الله ﷺ څخه روایت شوی چې هغوی به په خپلو خطبو کې داسې فرمایل:

**١-((لَا إِيمَانَ لِمَنْ لَا أَمَانَةَ لَهُ)) (مسند أحمد - (24 / 481)**

په چاکې چې د امانت ساتنې صفت نه وي نو ګواکې په هغه کې ایمان نشته.

رسول الله ﷺ دحجة الوداع په تاریخي خطبه کې په تاکید سره وفرمایل:

**٢-وَمَنْ كَانَتْ عِنْدَهُ أَمَانَةٌ فَلْيُؤَدِّهَا إِلَى مَنْ ائْتَمَنَهُ عَلَيْهَا**

**(مسند أحمد - (42 / 179)**

او له چا سره چې امانت وي نو هغه چاته دې وسپاري چې په ده یې باور او اعتماد کړی دی.

**٣-« أربع إذا كان فيك لا يضرك ما فاتك من الدنيا : حفظ أمانة ، وصدق حديث ، وحسن خليقة ، وعفة طعمة »**

**(المستدرك على الصحيحين للحاكم - (18 / 247)**

څلور صفات که په تاکې وي نو ددنیا له لاسه وتل درته زیان نه رسوي: یو د امانت

ساتل، ريښتيا ويل، غوره اخلاق اوپاکوالي دطعام.

په يو حديث کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

**٤ـوَأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ:مَنْ كَانَ فِيهِ وَاحِدَةٌ مِنْ ثَلاثٍ زَوَّجَهُ اللَّهُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ مَنْ كَانَتْ عِنْدَهُ، يَعْنِي أَمَانَةٌ خَفِيَّةٌ شَهِيَّةٌ، فَأَدَّاهَا مِنْ مَخَافَةِ اللَّهِ (المعجم الكبير للطبراني - (17 / 212)**

اونبي υ وفرمايل: په چاکې چې ددې دريو څخه يوصفت هم وي نوهغه ته الله جل جلاله حورې واده کوي: چې له چا سره داسې امانت وي چې هغه پټ وي او دخوښې شی هم وي خو هغه يې يواځې دالله جل جلاله له ويرې وسپاري.

رسول الله ﷺ دمعراج دپيښې او حالاتو په لړ کې داسې فرمايلي دي:

**٥ـثم مر على رجل قد جمع حزمة عظيمة لا يستطيع حملها ، وهو يريد أن يزيد عليها قال : يا جبريل ما هذا ؟ قال : هذا رجل من أمتك عليه أمانة لا يستطيع أداءها ، وهو يزيد عليها .**
**(دلائل النبوة للبيهقي - (2 / 274)**

**بيامونږ په داسې يوسړي باندې تيرشو چې ډير زيات لرګي يې را ټول کړي وه چې وړلا ی او پورته کولای يې نه شول، خو هغه به دنورو اراده هم کوله ،ما وويل: ياجبرائيل ! داڅوک دی ؟ هغه وويل: داستا دأمت يوسړی دی چې په هغه باندې امانتونه بار دي او هغه يې ادا کولای نه شي خوهغه نور هم پرې ورزياتوي.**

ګرانو ورونو! که چيرې مونږ غواړو چې د الله پاک په وړاندې ريښتوني مومنان اود هغه درحمتونو مستحق شو نو لازمه ده چې په هره معامله کې داما نت ساتنه او ايمان داري اختيار کړو او دوعدې پوره کول دخپل ژوند اصول وګرځوو.په ياد ولرئ چې زمونږ څخه په کوم يوه کې دغه صفتونه نه وي نو هغه دالله

او رسول په وړاندې ریښتوني مومن او کامل مسلمان نه دی.

## عدل او انصاف:

اسلام په هره معامله کې دعدل او انصاف په کولو ډیرسخت ټینګارکړی دی الله پاک فرمایې:

﴿ ۞ إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَٱلۡإِحۡسَٰنِ ﴿٩٠﴾ ﴾ النحل: ٩٠

بې له شکه الله پاک تاسې ته دعدل او احسان کولو حکم کوي.

بیا په اسلام کې په عدل اوانصاف باندې دومره ټینګار یواځې دخپلوانو په حق کې نه دی شوی بلکه دپردیوپه حق کې هم او د نفس، مال، دین او ایمان د دښمنانو په حق کې هم د عدل او انصاف ټینګار شوی دی، دقرآن شریف څرګند او روښانه ارشاد دی:

﴿ وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شَنَـَٔانُ قَوۡمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعۡدِلُواْۚ ٱعۡدِلُواْ هُوَ أَقۡرَبُ لِلتَّقۡوَىٰۖ ﴿٨﴾ ﴾ المائدة: ٨

دیوه قوم دښمني او کینه باید تاسې دانصاف پریښودلو ته اړنه باسي، انصاف وکړئ ځکه چې انصاف تقوی ته نژدې دی.

له دې آیت څخه په واضح ډول څرګندیږي که چیرې دکوم سړي یا کوم قوم سره زمونږ دښمني اوجنګ وي نوبیا هم مونږ له هغوی سره بې عدالتي اوبې انصافي نشو کولای اوکه بې انصافي ورسره وکړو نو دالله پاک په وړاندې به سخت مجرم او ګناهګاریو.

درسول الله ﷺ څخه روایت دی چې نبي ﷺوفرمایل:

**١ ـ إِنَّ أَحَبَّ النَّاسِ إِلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَقْرَبَهُمْ مِنْهُ**

**مَجْلِسًا إِمَامٌ عَادِلٌ وَإِنَّ أَبْغَضَ النَّاسِ إِلَى اللَّهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَشَدَّهُ عَذَابًا إِمَامٌ جَائِرٌ** (مسند أحمد - (22 / 290)

(دقيامت په ورځ به الله پاک ته ترټولو زيات نژدې اوډير خوښ عادل امام وي (يعنې دالله پاک دحکم سره سم په عدل او انصاف سره حکومت کوونکي واکمن) او له الله پاک څخه به ترټولو زيات لرې اوپه ډيرسخت عذاب اخته به جائراوظالم امام وي (يعنې په ظلم اوبې انصافی سره حکومت کوونکي واکمن ).

په يوبل حديث شريف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ يوه ورځ اصحابوکرامو ته وفرمايل:

**٢- أَتَدْرُونَ مَنْ السَّابِقُونَ إِلَى ظِلِّ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالُوا اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ وَرَسُولُهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْلَمُ قَالَ الَّذِينَ إِذَا أُعْطُوا الْحَقَّ قَبِلُوهُ وَإِذَا سُئِلُوهُ بَذَلُوهُ وَحَكَمُوا لِلنَّاسِ حُكْمَهُمْ لِأَنْفُسِهِمْ**

((مسند أحمد - (49 / 418)

(تاسو پوهيږئ چې دقيامت په ورځ به دالله پاک درحمت سيوري ته کوم خلک مخکې کيږي؟ اصحابوکرامو وويل: الله او رسول ته ښه معلوم دي (نو ځکه نبي کريم ﷺ دې مونږ ته ووايې چې کوم نيک مرغه بندګان به دقيامت په ورځ درحمت سيوري ته مخکې بوتلل کيږي ! نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: (دابه هغه بندګان وي چې کله دهغوی حق ورته ورکړل شي نوقبول يې کړي اوکله چې له هغوی څخه خپل حق وغواړي نو پرته له ځنډه يې حق اداکړي اودنوروليپاره هم په کامله توګه داسې پريکړه اوحکم کوي چې په څه ډول يې دځان لپاره کوي (يعنې دخپل ځان اوپردي په معامله کې کوم توپيرنه کوي).

**٣-عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ**

**وَسَلَّمَ:يَوْمٌ مِنْ إِمَامٍ عَادِلٍ أَفْضَلُ مِنْ عُبَادَةِ سِتِّينَ سَنَةً، وَحَدٌّ يُقَامُ فِي الأَرْضِ بِحَقِّهِ أَزْكَى فِيهَا مِنْ مَطَرٍ أَرْبَعِينَ عَامًا. (المعجم الكبير للطبراني - (10 / 31)**

له ابن عباس τ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: دعادل امام یوه ورځ دشپیته کلونو عبادت څخه غوره ده،اوپه حقه سره دالله جل جلاله یو حد په ځمکه کې جاري کیدل دڅلویښتوکلونوباران څخه غوره دی.

**٤ـقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمُقْسِطِينَ عِنْدَ اللَّهِ عَلَى مَنَابِرَ مِنْ نُورٍ عَنْ يَمِينِ الرَّحْمَنِ عَزَّ وَجَلَّ وَكِلْتَا يَدَيْهِ يَمِينٌ الَّذِينَ يَعْدِلُونَ فِي حُكْمِهِمْ وَأَهْلِيهِمْ وَمَا وَلُوا (صحيح مسلم - (9 / 350)**

رسول الله ﷺ فرمایلي :عدل او انصاف کوونکي به دالله جل جلاله شي لوري ته دنور په ممبرونوباندي ناست وي په داسي حال کې چې دالله جل جلاله دواړه لاسونه ښې دي،داعادلان هغه څوک دي چې عدل به کوي په خپل حکم کې،په خپل اهل کې او په هغوی کې چې ددوی تر لاس لاندي دي.

افسوس! مونږ مسلمانانو داسلام دغه سپځلي لارښوونې بيخي هيرې کړي دي، که چيرې نن په مسلمانانو کې دغه صفتونه پيداشي چې ريښتوني خپلې وعدې ته ژمن، دامانت ساتونکي اود هرچاسره دعدل او انصاف کوونکي شي نود نړی عزتونه به دهغوی قدمونه ښکلوي اوپه جنت کې به يې هم اوچتې درجې په برخه شي.

## زړه سواندې اوښنه کول:

که چيرې تاسې څوک دکړاو، غم او درد په حالت کې ووينئ نو پر هغه زړه سوې کول اوخواخوږي ورسره کول اود کوم خطاکوونکي

له خطا څخه تیریدل اوبښنه ورته کول هم له هغو اخلاقو څخه دي چې په اسلام کې ډیر اهمیت اوغوره والی لري. په یو حدیث کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

١-وَإِنَّمَا يَرْحَمُ اللَّهُ مِنْ عِبَادِهِ الرُّحَمَاءَ (صحيح البخاري - (20 / 341)

او الله جل جلاله په هغوخلکورحم کوي چې په خلکو رحم کوونکي وي.

٢-قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَا يَرْحَمْ لَا يُرْحَمْ وَمَنْ لَا يَغْفِرْ لَا يُغْفَرْ لَهُ (مسند أحمد - (39 / 246)

رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې رحم نه لري په هغه رحم نه کیږي، څوک چې معافي اوبښنه نه کوي هغه ته بښنه نه کیږي.

په یوبل حدیث کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

٣-((مَنْ لَا يَرْحَمُ لَا يُرْحَمُ )) (صحيح البخاري - (18 / 403)

(څوک چې په بل رحم نه کوي نوپرهغه به رحم نه کیږي.

په یوبل حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

٤-قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَرْحَمُ اللَّهُ مَنْ لَا يَرْحَمُ النَّاسَ (( صحيح البخاري - (22 / 368)

**په هغه چا الله رحم نه کوي چې په نورو خلکورحم نه کوي.**

په یو حدیث کې راغلي دي رسول الله ﷺ وفرمایل.

٥-(الرَّاحِمُونَ يَرْحَمُهُمْ الرَّحْمَنُ ارْحَمُوا أَهْلَ الْأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ )) ((سنن أبي داود - (13 / 103)

(په رحم کوونکو باندې رحمن (ذات) رحم کوي، تاسو دزمکې په اوسیدونکو رحم وکړئ نو د آسمان والا به پرتاسو رحم وکړي).

له دي حديث څخه په څرګنده معلوميږي چې اسلام د دوست او دښمن ټولو سره بلکه په زمکه کې هستوګن دټولو مخلوق سره دزړه سوي اورحمدلی تعليم اوښوونه کوي، په يو حديث کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

**٦-« بينما رجل يمشي في طريق أصابه عطش ، فوجد بئرا ، فنزل فيها فشرب ، ثم خرج ، فإذا كلب يلهث يأكل التراب من العطش ، فقال الرجل : لقد بلغ هذا الكلب من العطش مثل الذي كان بلغ بي ، فنزل البئر فملأ خفه (1) من الماء ، ثم أمسك الخف (2) بفيه ، فسقى الكلب ، فشكر الله فغفر له » فقالوا : يا رسول الله ، وإن لنا في البهائم لأجرا ؟ فقال رسول الله ﷺ : « في كل ذات كبد رطبة (3) أجر »**

**(مستخرج أبي عوانة - (11 / 38)**

يوسړی په لاره روان ووچې تږي شو،نوکوهي يې پيداکړ،هغې ته ښکته شواو اوبه يې وڅښلې،کله چې راپورته شونويوسپې يې وليده چې له تندي يې تيږه وهله،هغه وويل:دي هم زما په څېر تږي شوی،نوکوهي ته ښکته شو اوپخپله موزه کې يې اوبه راپورته کړې اوسپي ته يې ورکړی،نوالله پاک په دې کاراوعمل سره هغه ته بښنه وکړه،صحابه کراموپو ښتنه وکړه چې ايا په څارويوکې هم مونږته اجرشته دی ؟ نو رسول الله وفرمايل:دهرځګرخاوندپه خدمت کې اجر او ثواب دی.

افسوس! دالله پاک پر مخلوق زړه سوې کول اود ټولو سره د خواخوږی صفت له مونږ څخه وتلي دی چې له کبله يې مونږ دخدای پاک درحمتونو څخه بې برخې يو.

نرم خوي اواساني کول:

په راکړه ورکړه اوپه هر راز چال چلن

کې نرمي او اساني کول هم د اسلام له ځانګړو ښوونو څخه دي، په يو حديث کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

**١-عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ يُحْرَمْ الرِّفْقَ يُحْرَمْ الْخَيْرَ** **(صحيح مسلم - (12 / 483)**

نبي υ فرمايلي دي:څوک چې له نرمی څخه بې برخې شو هغه له خيرڅخه بې برخې شو.

**٢-عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَنْظَرَ مُعْسِرًا أَوْ وَضَعَ لَهُ أَظَلَّهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تَحْتَ ظِلِّ عَرْشِهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ** **(سنن الترمذي - (5 / 127)**

له ابوهريرة τ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: چاچې تنګ لاسي ته وکتل يايې پريښوده نوالله جل جلاله به دقيامت په ورځ هغه دعرش ترسيوري لاندې کړي چې پرته له دې بل سيورې نه شته.

په يو بل حديث کې راغلي دي چې:

**٣-أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا عَائِشَةُ إِنَّ اللَّهَ رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ وَيُعْطِي عَلَى الرِّفْقِ مَا لَا يُعْطِي عَلَى الْعُنْفِ وَمَا لَا يُعْطِي عَلَى مَا سِوَاهُ** **(صحيح مسلم - (12 / 486)**

رسول الله ﷺ وفرمايل: اي عايشې! الله تعالی نرمي کونکې دی او نرمي خوښوي او په نرمی دومره ورکړه کوي چې هومره په سختی نه ورکوي، اونه يې په بل شي ورکوي.

## زغم او صبر کول:

د ناخوښو خبرو زغمل اوپه دغه مهال دقهرنه کول اويادهغې کمول له هغو اخلاقو څخه دي چې اسلام يې په ټولو انسانانو کې پيدا کول غواړي اود الله پاک په وړاندې دهغو مومنانو لويه درجه ده چې په خپل ځان کې دغه صفت پيدا کړي. په قرآن مجيد کې چې

کوم ځای دهغو خلکو یادونه شوې چې دهغوی لپاره جنت شایسته کړای شوی دی نو هلته دهغو خلکو په ځانګړي ډول یادونه هم شوې ده، لکه چې الله تعالی فرمایي.

﴿ وَٱلۡكَٰظِمِينَ ٱلۡغَيۡظَ وَٱلۡعَافِينَ عَنِ ٱلنَّاسِۗ ﴿١٣٤﴾ ﴾ آل عمران: ١٣٤

اوقهر زغمونکي او خلکو ته عفوه کوونکي وي

دداسې خلکو لپاره د رسول الله ﷺ دارنګه زیرې دی:

**١-عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ (صحيح البخاري - (19 / 72)**

له ابوهریرة τ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: قوت اوځواک په پهلوانی کې نه دی،بلکې قوت اوځواک په دې کې دی چې دقهر اوغضب په وخت کې ځان کنترول کړي.

**٢-قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:"إِنَّ الْغَضَبَ يُفْسِدُ الأَمْرَ كَمَا يُفْسِدُ الْخَلُّ الْعَسَلَ" (المعجم الكبير للطبراني - (14 / 352)**

رسول الله ﷺ وفرمایل: قهر او غصب کار داسې خرابوي لکه سرکه چې شهد او عسل خرابوي.

**٣-من كف لسانه ستر الله عورته ومن ملك غضبه وقاه الله عذابه ومن اعتذر إلى ربه قبل الله عذره (ابن أبى الدنيا عن ابن عمر)**

**(جامع الأحاديث - (21 / 368)**

چاچې خپله ژبه وساتله نوالله جل جلا له به یې عیبونه پټ کړي،چاچې قهراوغضب کنترول کړنوالله جل جلاله به یې له عذاب څخه خوندي کړي،چاچې خپل رب ته عذروړاندې کړنو الله جل جلاله به یې عذرومني.

ډیر نیکمرغه دی د الله پاک هغه بنده چې د

قهر راتلو پروخت دغه آيتونه او احاديث رايادکړي اوخپل قهر اوغصه وزغمي نو الله پاک به ددې په بدل کې له هغه څخه خپل عذاب منع کړي.

ښې خبرې اوخوږه ژبه:

داسلام له اخلاقي ښوونو څخه يوه ځانګړې ښوونه داهم ده چې ښايې خبرې اترې په ښو اخلاقو او خوږه ژبه وکړای شي، له سختو خبرو او بدې ژبې څخه ځان وساتل شي. الله پاک فرمايي:

﴿ وَقُولُواْ لِلنَّاسِ حُسْنًا ﴿٨٣﴾ ﴾ البقرة: ٨٣

اوخلکوته ښې اوغوره خبرې کوئ.

اسلام ښې اوغوره خبرې کول دنيکۍ کار ګرځولی دی او سختې خبرې يې ګناه ښودلې ده، رسول الله ﷺ فرمايلي دي.

**١-ومن ملك لسانه ستر الله عورته (المجالسة وجواهر العلم - (1 / 748)**

**چاچې خپله ژبه کنترول کړه الله جل جلاله به يې عيبونه پټ کړي.**

**٢-عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : وَإِنَّ اللَّهَ يُبْغِضُ الْفَاحِشَ الْبَذِيَّ (شرح السنة (احاديث فقط) - (1 / 825)**

**نبي ﷺ فرمايلي دي: اوالله جل جلاله بدګڼي فاحشې خبرې او بد ژبې کول.**

**٣-قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ ، وَلا بِاللَّعَّانِ ، وَلا الْفَاحِشِ ، وَلا الْبَذِيِّ**

**(شرح السنة - (1 / 838) (مسند البزار - (1 / 480)**

**رسول الله ﷺ فرمايلي دي: مؤمن نه وي طعن ويونکې،لعن ويونکې،فاحش او بدژبې.**

الله پاک دې دبد ژبې اوسختو خبرو له دغه تيري کوونکي او منافقت له خصلت څخه زمونږ ساتنه او حفاظت وکړي چې دالله پاک مومن او

نیک بنده ګان شو.

## عاجزي او تواضع:

اسلام چې کوم عادتونه په خپلو پیروانو او منوونکو کې پیدا کول،پخول او عام کول غواړي له هغو څخه یو دا هم دی چې د الله پاک د نورو بنده ګانو په وړاندې انسان خپل ځان کم ښکاره کړي اوخپل ځان عاجز او متواضع وګڼې یعنې له غرور،تکبراو لویې څخه خپل زړه پاک وساتي او ددې پر ځای عاجزي اوتواضع خپله تګ لاره وګرځوي، دالله پاک په وړاندې عزت او سرلوړي دهغو نیکمرغو خلکو لپاره ده چې په دې نړۍ کې په تواضع او خاکسارۍ سره ژوند کوي.

الله پاک فرمايي:

﴿ وَعِبَادُ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى ٱلْأَرْضِ هَوْنًا ﴿٦٣﴾ ﴾ الفرقان: ٦٣

اودمهربان خدای بنده ګان هغه کسان دي چې په خورا وقار سره په ځمکه ګرځي.

په بل ځای کې الله پاک فرمايي:

﴿ تِلْكَ ٱلدَّارُ ٱلْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا ﴿٨٣﴾ ﴾ القصص: ٨٣

داد اخرت کور مونږ یوازې هغو خلکو ته ورکوو چې په ځمکه کې دلویې اوفساد هڅې نه کوي.

په یو حدیث کې رسول الله ﷺ وفرمایل:

**١-مَنْ تَوَاضَعَ لِلَّهِ دَرَجَةً رَفَعَهُ اللَّهُ دَرَجَةً حَتَّى يَجْعَلَهُ فِي عِلِّيِّينَ (مسند احمد)**

(هغه څوک چې یوه درجه تواضع او عاجزي اختیار کړي الله پاک به دهغه درجه او مرتبه دومره اوچته کړي چې هغه به اعلی علیین ته

ورسوي، چې دجنت تر ټولو اوچته درجه ده).
او ددې پرعکس الله پاک ته غرور اوتکبر دومره نا خوښ دی چې په يو حديث کې رسول الله ﷺ وفرمايل:

**٢-مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ كِبْرٍ أَكَبَّهُ اللَّهُ عَلَى وَجْهِهِ فِي النَّارِ (مسند احمد)**

(دچاپه زړه کې چې د وري د دانې هومره تکبرهم وي نو الله پاک به هغه پړمخې دوزخ ته واچوي)

په يوبل حديث کې راغلي دي چې:

**٣-وَلَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ أَحَدٌ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةِ خَرْدَلٍ مِنْ كِبْرِيَاءَ (مسلم)**

(دچاپه زړه کې چې دوري ددانې هومره غرور او تکبر وي هغه به جنت ته داخل نه شي)

په يوبل حديث کې رسول الله ﷺ وفرمايل:

**٤-مَا مِنْ رَجُلٍ يَمُوتُ حِينَ يَمُوتُ وَفِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ كِبْرٍ تَحِلُّ لَهُ الْجَنَّةُ أَنْ يَرِيحَ رِيحَهَا وَلَا يَرَاهَا (مسند أحمد - (35 / 239)**

کله چې يوسړی مړشي اودهغه په زړه کې د اوري د دانې په اندازه کبروي نوهغه ته جنت نه ورکول کيږي، نه يې بوې په نصيب کيږي اونه يې ليدل اوديدار.

الله پاک دې مونږ ټول له دغه شيطاني خوې اوخصلت څخه وساتي اوهغه عاجزي اوتواضع دې راپه برخه کړي چې هغه يې خوښوي اود بندګۍ غوښتنه ده. خو دلته موږ داهم بايد په ياد ولرو چې زمونږ عاجزي او تواضع او خاکساري دې دخپل نفس او شخصيت په معامله کې وي خو دحق په معامله او د دين په باره کې ښايي چې مونږ قوت او پوخوالي ښکاره او جوت کړو، په داسې موقع د الله او رسول حکم دغه شان دی. لنډه داچې دمومن حالت دادی چې

هغه به خپل نفس او شخصيت کم او عاجز ګڼي او پر حق باندې به تل کلک او ټينګ ولاړ وي اود چا له ويرې او ډاره به په دې کې کمزوري نه ښکاره کوي.

## صبر، ميړانه اوشجاعت:

په دې نړۍ کې پر انسانانو دکړاوونو او ستونځو وخت هم راځي، کله ناروغي او رنځونه وي، کله دبيوزلى او اړمنتيا حالت وي نو ددغه ډول حالاتو لپاره داسلام ځانګړى لارښوونه داده چې د الله پاک بنده له صبر او همت څخه کار واخلي او د زړګونو ستونځو او کړاوونو سره سره په پوره ځواک او ميړانه پرخپلو اصولو کلک ودريږي، دداسې خلکو لپاره دقرآن مجيد زيرې دى چې دغه خلک دالله پاک خوښ دي.

﴿ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلصَّـٰبِرِينَ ﴿١٤٦﴾ ﴾ آل عمران: ١٤٦

الله پاک مينه کوي دصبرکوونکو سره

په بل آيت کې دي:

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّـٰبِرِينَ ﴿١٥٣﴾ ﴾ البقرة: ١٥٣

بې له شکه الله دصبر کوونکو ملګرى دى.

په يوبل آيت شريف کې دهغو مومنانو ستاينه شوې ده چې دستونځو او کړاونو په حالت کې اود حق لپاره په جهاد کې کلک او ثابت قدم وي او له سرښندنې څخه دريغ نه کوي. الله فرمايي:

﴿ وَٱلصَّـٰبِرِينَ فِى ٱلْبَأْسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَحِينَ ٱلْبَأْسِ ۗ أُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُوا۟ ۖ وَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُتَّقُونَ ﴿١٧٧﴾ ﴾ البقرة: ١٧٧

اودسختيو،مرضونو، جنګ او جګړې په وخت کې صبر کوونکي وي، هو! همدا ريښتينې اوهمدا

پـرهیـزګـار خـلک دي.
پـه یـوحدیـث شریـف کـې راغلـي دي چې رسـول الله ﷺ وفـرمـایـل:
**(( وَمَا أُعْطِيَ أَحَدٌ عَطَاءً خَيْرًا وَأَوْسَعَ مِنْ الصَّبْرِ )) (صحيح البخاري - (5 / 318) (سنن الترمذي - (7 / 321)**
(دصبـر لـه تـوفـیـق څخـه غـوره او پـراخـه نـعمت بـل کـوم نـشته.
پـه یـوبـل حدیـث کـې راغلـي دي چې:
**« الصبر نصف الإيمان » (المستدرك على الصحيحين للحاكم - (8 / 336)**
(صبـرنـیـم ایـمـان دی)
اوددې پـرخلاف بـې صـبـري اوبـې زړه تـوب داسلام لـه نـظـره ډیـر نـاوړه عیـب دی، نـبـي کـریـم ﷺ پـخپـلـو دعاګـانـو کـې لـه دې نـه پـنـاه غـوښتـلـه. الله تـعـالـی دې مـونـږ ټـولـو تـه دصبـر او همت تـوفـیـق را پـه بـرخـه کـړي اولـه بـې صـبـری او بـې زړه تـوب څخـه دې مـونـږ پـه خپـلـې پـنـاه کـې وسـاتـي.

## اخلاص اود نیت سمول:

اخلاص دټـولـو اسـلامـي اخلاقـو بـلـکـې دټـول اسلام روح اوجـان دی. داخلاص مطلـب دادی چـې مـونـږ هرکـارکـوو هغـه دالله اود هغـه درضـالـپـاره تـرسره کـړو اوپـرتـه لـه دې زمـونـږهیڅ کـوم غرض او مـوخـه نـه وي، داسلام اساس او بـنسټ تـوحیـد دی اود تـوحیـد تـکمیـل پـه اخـلاص سـره کـیـږي، یـعنې کـامـل تـوحیـد دادی چـې زمـونـږهرکـار دالله پـاک درضا،خوښی، اجـر او ثـواب لـ پـاره وي، رسول الله ﷺ فـرمـایـلـي دي:
**١ـمَنْ أَحَبَّ لِلَّهِ وَأَبْغَضَ لِلَّهِ وَأَعْطَى لِلَّهِ وَمَنَعَ لِلَّهِ فَقَدْ اسْتَكْمَلَ**

**الْإِيمَانَ (سنن ابوداؤد)**

(چاچې دالله پاک لـ پاره محبت اوبغض وکړ اوچاچې د الله پاک لپاره یې ورکړه او منع وکړه نو هغه خپل ایمان مکمل کړ.

مطلب دادی چې څوک خپلې اړیکې اومعاملات دخپلو شخصي غوښتنو اونورو موخو پر ځای یواځې دالله پاک درضا اوخوښی په خاطر تابع کړي نو همغه دالله پاک په وړاندې کامل مومن دی، په یوبل حدیث کې نبي کریم ﷺ وفرمایل:

**٢-إِنَّ اللَّهَ لَا يَنْظُرُ إِلَى أَجْسَادِكُمْ وَلَا إِلَى صُوَرِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ (مسلم)**

(الله پاک ستاسو شکلونو اوبدنونو ته نه ګوري بلکه ستاسو زړونو ته ګوري) یعنې دالله پاک له طرفه دجزا او ثواب معامله د اخلاص اونیت سره سم صورت نیسي. په یو بل حدیث کې راغلي دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل:

**٣-ويطعمون الطعام على حبه مسكينا ويتيما وأسيرا ، إنما نطعمكم لوجه الله لا نريد منكم جزاء ولا شكورا » معرفة السنن والآثار للبيهقي - (7 / 87)**

او دالله پـه مینـه کشـګیګ مسـکین او یتـیم او بنـدي تـه خـواؤه ورکوی ( او هغوته وائی چیګ ) مونږ تاسیګ تـه یوازیګ دالله پـه خاطر خواؤه درکوو ، مونږ له تاسیګ څګځـه نـه څګه بدلـه غـواؤو نه شکریه

**٤-عن رافع ، قال : سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم ، يقول : « العامل في الصدقة لوجه الله بالحق كالغازي في سبيل الله حتى يرجع إلى أهله » مسند عبد بن حميد - (1 / 489)**

لـه رافع څخه روایت دی چې ماله رسول الله څخه واریدل چې فرمایل یې: دالله پاک لپاره دزکات او صدقې په حق سره راټولوونکې په شان دغازي دی په لاره دالله پاک کې ترهغې چې

بیرته کورته راګرځي.

**٥-ومن فتح باب عطية ابتغاء لوجه الله أعطاه الله خير الدنيا والآخرة (ابن جرير فى تهذيبه عن أبى هريرة) (جامع الأحاديث - (99 / 21)**

**چاته چې دالله پاک لپاره دورکړې دروازه پرانستل شوه نوهغه ته الله پاک ددنيا اواخرت خير په برخه کړ.**

په پاي کې ديوبل حديث شريف يادونه کوو چې په اوريدو يې ښايي مونږ ټول ولړزيږو، په ځينو روايتونو کې راغلي دي چې کله به حضرت ابو هريره τ دا حديث بيانولو نو کله کله به هغه بيهوشه شو، رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

**إِنَّ أَوَّلَ النَّاسِ يُقْضَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَيْهِ رَجُلٌ اسْتُشْهِدَ فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا قَالَ قَاتَلْتُ فِيكَ حَتَّى اسْتُشْهِدْتُ قَالَ كَذَبْتَ وَلَكِنَّكَ قَاتَلْتَ لِأَنْ يُقَالَ جَرِيءٌ فَقَدْ قِيلَ ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ وَرَجُلٌ تَعَلَّمَ الْعِلْمَ وَعَلَّمَهُ وَقَرَأَ الْقُرْآنَ فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا قَالَ تَعَلَّمْتُ الْعِلْمَ وَعَلَّمْتُهُ وَقَرَأْتُ فِيكَ الْقُرْآنَ قَالَ كَذَبْتَ وَلَكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ الْعِلْمَ لِيُقَالَ عَالِمٌ وَقَرَأْتَ الْقُرْآنَ لِيُقَالَ هُوَ قَارِئٌ فَقَدْ قِيلَ ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ وَرَجُلٌ وَسَّعَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَأَعْطَاهُ مِنْ أَصْنَافِ الْمَالِ كُلِّهِ فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا قَالَ مَا تَرَكْتُ مِنْ سَبِيلٍ تُحِبُّ أَنْ يُنْفَقَ فِيهَا إِلَّا أَنْفَقْتُ فِيهَا لَكَ قَالَ كَذَبْتَ وَلَكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ هُوَ جَوَادٌ فَقَدْ قِيلَ ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ (مسلم)**

د قيامت په ورځ به تر ټولومخکې د هغه سړي په هکله پريکړه اوفيصله وکړای شي چې شهيد شوې وي، هغه به راوستل شي، الله جل جلاله به هغه ته د خپلو نعمتونو يادونه وکړي هغه به يې ومني او اقرار به وکړي الله جل

جلالـــهبـه ورتـه وفـرمـايـي: تـا د دغو نـعمـتـونـو پـه بـاره کې څه طريقـه اختيـار کړي وه ؟ هغه بـه ووايـي: مـا سـتـا پـه لار کې جهاد کړی ؤ تـر دې چې شهيـد شوم ! الله جل جلالـــهبـه ورتـه وفـرمـــايـې : تـا درواغ وويـل، تـا ددې لـپاره جنګ کـــړی وو چې خلک درتـه ميړنـــې او بـــاتـوروو ايـي، او دا درتـه ويـل شوي دي، بـيا بـه د هغه پـــه هکلـــه حکم وکړای شي، پـړ مخې بـه يـــې پـــه راښـــکلـو دوزخ تـه ورواچوي.

او هغه سړی چې د(ديـن) علم يـې زده کـــړی او نـــورو تـــه يـــې ښــوولـې وي او قـــرآن يــــې لـوستلې وي هغه بـه راوستلې شـــي الله پـــاک بـــه ورتـه د خپـلو نـعمتـونـو يـادونـه وکـړي چې هغـــه بـه يـې وپـيـژنـي او اقـرار بـه وکړي نـو پـوښتـنـه بـه تـرې وکړي تـا ددغو نـعمتـونـو پـه بـاره کـــې څه طريـقـه غوره کړي وه؟ هغه بـه ووايـي: مـــا علم زده کړی ؤ نـوروتـه مې ښوولـې ؤ او ســتـا د رضا لـپاره مې قـرآن لـوستلـي ؤ الله بـه ورتـــه وفـرمـايـي: تـــا درواغ وويــــل ! تـــا عـلـــم ددې لـپاره زده کړی ؤ چې خلک درتـه عالـم ووايـــي او قـرآن د ې لـوستلـې ؤ ددې لـپاره چـــې خلـــک درتـه د قـرآن مـاهر او پـــوه ووايــــې، نـــو دا درتـه ويـل شوي دي، بـيا بـه د هغه پـــه بـــاره کې حکم وشي او پـړمخې بـه پـــه راښـــکلـو دوزخ تـه واچول شي.

او هغه سړی چـــې الله پـراخـــه هـــر ډول مـــال دولـت ورکـړې وي هغه بـه راوستـل شـــي، الله پـــاک بـه ورتـه د خپـلو نـعمتـونـو يـادونـه وکـــړي نــــو هغه بـه يـــې وپـيـژنـــي او اقـــرار بـه وکـــړي، پـوښتـنـه بـه تـرې وشي، تـا د دغو نـعمتـونـو پـــه بـاره کې کومه طريـقـه اختيـار کړي وه ؟ هغـــه بـه ووايـي: مـا پـه هر هغه لاره کـــې ســتـا پـــه خاطر لـګښت کړي ؤ چې هلته يـې لـګول ستا خوښ وو ، الله پـاک بـه ورتـه وفـرمـايـي: تـــه درواغ

**وایې، تــا ددې لــپاره خپل مـــال دو لت مصــرف کړي ؤ چې خلک درتـه سخي ووایـې او دا درتـــه ویـل شوي دي، بـېا بـه د هغه په بـاره کې حکم وشي او پـړمخې بـه په راشکلو دوزخ تـه واچول شي.**

ورونـو! مـونـږتـه ښایـې چې خپـلو عمـلونـو تـــه ددې حدیـث شریـف پـه رڼـاکې وګـورو اوپـه خپـلـــو زړونـو او نـیـتـونـو کې د اخلاص پـیـداکـولـو کـوښښ وکړو. ای الله! مـونـږ ټـولـو تـه اخلاص پــه بـرخـــه کـړې او زمـونـږ ارادې او نـیـتـونـه یـواځې پـخپل فـضل او مـهـربـانـی سره سم کړې او مـونـږ پـخپـلـو مـخلصو بـنـده ګـانـو کې وشمـیـرې.
آمـیـن

لسم څپرکې

## ترټولو زيات دالله پاک جل جلاله، رسول الله ﷺ او دين سره مينه کول:

ورونو! څنګه چې اسلام مونږ ته په الله پاک او رسول الله ﷺ د ايمان لرلو او دلمانځه، روژې، حج، اوزکات د اداکولو ښوونه کوي اود ايمان داری، پرهيزګاری، ښو اخلاقو او نيک چال چلن اختيارولو لارښوونه او تينګار کوي نو په همدې ډول د اسلام يوه ځانګړی لارښوونه دا هم ده چې مونږ د دنيا دهر شي څخه زيات تردې پورې چې د خپل مور او پلار، ميرمن اولادونو، ځان، مال، عزت او آبرو څخه هم د الله پاک، دده د رسول ﷺ او دده د سپيڅلي او پاک دين سره مينه وکړو. يعنې که چيرې کله داسې نازک،حساس او سخت وخت راشي چې ددين په پيروی او دالله پاک او رسول الله په حکمونو دعمل کولو له امله مونږ ته دځان، مال، عزت او ابرو ويره او خطره وي نو په دغه ډول وخت کې هم الله پاک ، رسول الله او دين پرې نږدو او پرځان، مال يا عزت او ابرو چې څه تيريږي هغه ټول په ورين تندي وزغمو. په قرآن مجيد او احاديثو کې ځای په ځای فرمايل شوي دي: کوم خلک چې د اسلام دعوی کوي او هغوی د الله پاک،رسول ﷺ او ددين سره دغه شان مينه او دد غه درجې اړيکې او تړاونه لري نو هغه اصلي مسلمانان نه دی بلکه هغه دالله پاک له طرفه د سختې سزا او عذاب وړ دی.

دالتوبې په سورت کې الله پاک فرمايې:

﴿ قُلْ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَٰنُكُمْ وَأَزْوَٰجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ

وَأَمْوَٰلٌ ٱقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَٰرَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٍ فِى سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُوا۟ حَتَّىٰ يَأْتِىَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٢٤﴾ التوبة: ٢٤

ای محمده ! ووایه که چیرې ستاسې پلرونه، ځامن، ورونه، ښځې، خپلوان اوهغه مالونه چې په خواری مو ګټلې دي اوهغه تجارت چې په کوټه کیدلو یې ډاریږی او زړه ته نږدې کورونه، د الله، دهغه له رسول او د هغه په لیار کې له جهادنه درته ډیر ګران وي نو درنګ وکړئ ترڅو الله پاک خپل حکم راولیږي، الله پاک فاسق قوم ته روغه لیار نه ښایې.

له دې آیت شریف څخه معلومه شوه چې کوم خلک دالله، رسول اود هغه ددین په مقابله کې دمور پلار یا میرمن اولادونو یا مال او جایداد سره مینه کوي اوچاته چې دالله اورسول دخوښۍ اوددین دخدمت اوپرمختګ څخه زیات فکر ددې شیانو وي نو هغه دالله پاک سخت نافرمان اودهغه دقهر اوغضب وړ دی.

په یو مشهور او صحیح حدیث کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

**ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ حَلَاوَةَ الْإِيمَانِ مَنْ كَانَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ ممَّا سِوَاهُمَا وَمَنْ أَحَبَّ عَبْدًا لَا يُحِبُّهُ إِلَّا لِلَّهِ عَزَّ وَجَلَّ وَمَنْ يَكْرَهُ أَنْ يَعُودَ فِي الْكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنْقَذَهُ اللَّهُ مِنْهُ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ يُلْقَى فِي النَّارِ (بخاری ،مسلم)**

(دایمان خوږوالی او د دین لذت هغه مسلمان ته په برخه کیږي چې درې خبرې پکې وي:

لومړۍ دا چې دالله پاک او رسول ﷺ محبت هغه ته دهرشي څخه زیات وي.

دوهم دا چې دچاسره مینه کوي یواځې دالله

لپاره ورسره مینه کوي یعنې ذاتي او حقیقي محبت یواځې دالله سره وي .
دریم داچې دایمان څخه وروسته کفرته ور ګرځیدل او دین پریښودل هغه ته دومره مشکل او ستونځمن وي لکه څنګه چې په اورکې اچول دي.)
نو معلومه شوه چې دالله او رسول په وړاندې اصلي او ریښتوني مسلمان هغه دی چې دهغه د الله، رسول او داسلام د سپیڅلي دین سره مینه دنړی له ټولو انسانانو او ټولو شیانو څخه زیاته وي تردې پورې که چیرې هغه دکوم انسان سره مینه کوي نو د الله دپاره ورسره مینه وکړي او ددین سره یې داسې الفت او مینه وي چې داپریښودل او کفرته ورګرځیدل هغه ته دومره مشکل او ستونځمن بریښي لکه څنګه چې په ګرم اورکې اچول کیږي. په یوبل حدیث کې راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
**قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ (بخارى)**
(نبي علیه السلام فرمایلي دي :په تاسو کې هیڅ انسان ترهغه وخته پورې پوره مومن اوحقیقي مسلمان نشي کیدای ترڅوچې زما سره دخپل مور، پلار، اولاد، اود نړی له ټولو انسانانو څخه زیاته مینه ونلري.
ورونو! ایمان په اصل کې ددې نوم دی چې انسان په کامل ډول دالله او رسول شي اوخپلې ټولې اړیکې، تړاونه او غوښتنې دهغه په اړیکو اود هغه په دین باندې قربان کړي لکه څنګه چې
**كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ آخِذٌ بِيَدِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللَّهِ لَأَنْتَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ إِلَّا مِنْ نَفْسِي فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ**

**حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْكَ مِنْ نَفْسِكَ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ فَإِنَّهُ الْآنَ وَاللَّهِ لَأَنْتَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ نَفْسِي فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْآنَ يَا عُمَرُ (بخاري)**

**مونږ درسول الله سره وو اوهغه دعمربن الخطاب (رض) لاس نیولي وو،نوعمر(رض) ورته وویل:یارسول الله ! تاسې ماته له هرشي څخه غوره یاست خوله خپل ځان څخه نه ! نونبي علیه السلام ورته وفرمایل: داسې نه ده ،قسم په هغه ذات چې ځماساه دهغه په لاس کې ده ترڅوپورې چې زه درته له خپل ځان څخه هم ګران نه شم (ایمان دې کامل نه دی) ،عمر(رض) وفرمایل: نواوس په الله قسم ! تاسې ماته له خپل ځان څخه هم محبوب یاست ! نونبي علیه السلام وفرمایل: اوس نوسمه شوه.**

او نن هم دالله پاک دریښتنو اوصادقو بنده ګانو همدغه حال دی، سره له دې چې ددوی شمیر ډیر لږ دی، الله پاک دې مونږ ټول دهغوی سره ملګري اوله هغوی څخه وشمیري.
آمین

## یوولسم څپرکې

# دالله پاک دسپیڅلي دین خدمت او بلنه

وروڼو!لکه څنګه چې زمونږ لپاره اړين دي چې په الله پاک او رسول ﷺ ايمان راوړو او دهغوی په ښودلې د نیکی او پرهیز ګاری پر هغه سمه او روښانه لیار پل کیږدو چې دهغې نوم اسلام دی، همدارنګه پرمونږفرض دي چې دالله پاک کوم بنده ګان له دغې لیارې څخه خبرنه دي یادخپل طبیعت دبدی له امله په دغه لیار تګ نه کوي نوهغوی هم له دې څخه دخبرولو اوپه دې لیار د روانولو هڅه او کوښښ وکړو یعنې څرنګه چې الله پاک پرمونږ دا فرض کړي دي چې مونږ دهغه ښه فرمان منوونکي، عبادت کوونکي او پرهیزګاره بنده ګان شو په همدې ډول هغه داهم فرض کړي دي چې ددې موخې لپاره دهغه په نورو بنده ګانو هم کوښښ وکړو، ددې نوم د دین خدمت او د دین بلنه ده. د الله پاک په وړاندې دغه کار دومره ستر او لوړ دی چې الله پاک ډیر زيات شمیر پیغمبران دې نړی ته د همدې مقصد لپاره رالیږلي دي اودغو پیغمبرانو راز راز کړاونه او ستونځې ګاللي اودهر ډول ربړونو په زغملو سره یې ددین دخدمت اوبلنې کار په ښه توګه سرته ر سولې اود وګړو د اصلاح او لارښوونې دپاره یې کوښښونه کړي دي.

الله پاک دې پرهغوی، دهغوي پر پیروانو او ملګرو بې شمیره رحمتونه نازل کړي.

دپیغمبری دغه لړی دالله پاک په اخري پیغمبر حضرت محمد ﷺ باندې پای ته ورسیده

او الله پاک دهغوی په وسیله دخپلې دې ځانګړې پریکړې اعلان هم کړی دی چې ددین د ښوونې اوبللنې او دانسانانو داصلاح او لارښوونې دپاره اوس په راتلوونکې وخت کې کوم نوي پیغمبرنه رالیږل کیږي بلکه اوس به تر قیامته پورې دغه کار هغه وګړي سرته رسوي چې د رسول الله ﷺ راوړې برحق دین یې قبول کړی اودهغه لارښوونې یې دزړه له تله منلي دي. لنډه داچې د نبوت او رسالت د لړی دپای ته رسیدو څخه وروسته د دین دبللنې اود انسانانو د اصلاح او لارښوونې ټول مسؤلیت او دنده دتل لپاره د رسول الله ﷺ امت ته سپارل شوې ده اوپه اصل کې دا ددې امت ډیر ستر او لوی غوره والی دی بلکې په قرآن شریف کې دغه کار (د بللنې مسؤلیت) اودغه دبللنې خدمت ددې امت د وجود او شتون موخه او مقصد ښودل شوی دی، ګواکې دا امت دهمدې کار لپاره پیدا کړای شوی دی، الله پاک فرمایي:

﴿ كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ ﴿١١٠﴾ ﴾ آل عمران: ١١٠

اي محمدي اُمت ! تاسې هغه غوره ډله یاست چې دخلکو دښیګڼې لپاره راویستل شوي یاست ځکه چې دنیکی په لور بلنه کوئ، دبدی مخه نیسئ اوپه الله ایمان لرئ.

له دې آیت څخه معلومه شوه چې محمدي امت دنړی په نورو امتونو اوټولګیو کې له دې کبله ممتاز او غوره دی چې پخپله دایمان اونیکی په لاره دتللو برسیره نور هم د نیکی په لیاره د روانولو اوله بدیو څخه دمنع کولو کوښښ کول د دوی ځانګړی خدمت او خاص مسؤلیت دی اود همدې لپاره دوی

(خیرامة) ګرځول شوي دي. له دې څخه دا هم معلومه شوه که چیرې دا امت د دین بلنه اود وګړو د اصلاح او لارښوونې فرض ادا نه کړي نوبیا دوی ددغه غوره والي وړنه دي بلکې سخت مجرمان او ګنهګار به وي ځکه چې الله پاک د دومره ستر او لوی کار مسؤلیت دوی ته سپارلی دی او دوی دغه مسؤلیت پوره نه کړ. ددې مثال په کامل ډول داسې دی چې یو پاچا د پولیسو او عسکرو یوه ډله په ښار کې ددې کار لپاره مقرره کړي چې هغوی بدی او بدمعاشان منع کړي خودغه پولیس او عسکر دغه کار سرته ونه رسوي بلکې پخپله هم په هغو ټولو جرمونو او بدیو کې لګیا شي چې دهغو د منع کولو لپاره پاچا هغوی ته دنده سپارلې وه. نو څرګنده ده چې د غه مجرم پولیس او عسکر به دانعام او ماموریت د وړتیاموندلو څخه پرته دسختې سزا وړهم وي. بلکه که چیرې هغوی ته دنورو مجرمینو او بدمعاشانو څخه زیاته سزاورکړای شي نوبې ځایه به نه بلکې مناسب به وي.

افسوس! چې نن داسلامي امت حال دا دی چې ددین د خدمت او بلنې او ددنیا د اصلاح او لارښوونې یادونه وکړه نو پخپله په دوی کې څو فیصده داسې نه دي پاتې شوي چې په سمه معنا کې مومن او مسلمان وي، د نیکیو کوونکي او له بدیو څخه ځان ساتوونکي وي نو په داسې حالت کې زمونږ ترټولو لومړنی مسؤلیت دادی چې د دین دبلنې اود اصلاح او لاښوونې کار لومړې ددې امت په هغو طبقو کې و شي چې له دین، ایمان، نیکی او پرهیزګاری څخه لرې شوي وي او ددې یو لامل خو دادی چې کوم خلک ځانته مسلمانان وایي یا ورته ویل کیږي دهغوی عملي حالت څه ډول دي، په هرحال دایمان او اسلام په اقرار

کولو سره دالله پاک، رسول (ص) او د دین سره یې یو ډول اړیکې او یو شان ځانګړتیا پیداکړې ده اود اسلامي ټولنې او وروکلوی یو فرد ګرځیدلی دی نو له دې کبله زموږ لپاره دهغه داصلاح او روزنې فکر په هر حال کول پکار دي، لکه څرنګه چې په فطري توګه هم پر هر انسان دهغه د اولاد او نږدې خپلوانو خبراخیستلو او پالنې او روزنې مسؤلیت دنورو وګړو پرتله زیات وي اویو بل لامل داهم دی چې دنړی عام وګړي دمسلمانانو د موجود حالت په لیدلو د اسلام په ښه والي اوغوره والي هیڅکله هم نه شي پوهیدای بلکه پرعکس له هغوی څخه کرکه اوبیزاره کیږي، تل دعامو وګړو همدا طریقه وي چې دکوم دین د پیروانو او منونکو دحالت او دهغوی دکړو وړو او اخلاقو په لیدلو دهغه دین په هکله ښه یا بده رأی قایموي، تر کوم مهال پورې چې په عمومي توګه ریښتوني مسلمانانو ژوند کاوه اوپه پوره ډول یې داسلام پرحکمونو عمل کاوه نود نړی خلکو به یواځې دهغوی په لیدلو د اسلام په سپیڅلي دین مشرف کیدل او ډیري سیمې او قومونه به پرلپسې داسلام په سپیڅلي دین کې داخلیدل خو له کومه وخته چې په مسلمانانو کې زیات شمیر د داسې وګړو داخل شو چې خپلو ځانونو ته یې مسلمانان ویل خو دهغوی کړه وړه او اخلاق به اسلامي نه وه او د هغوی زړونه، دایمان او پرهیزګاری له نور او رڼا څخه خالي و نو له هماغه وخته نړی د اسلام په اړه بدګمانه شوي ده. په هر حال ښایې مونږ په دې حقیقت په ښه توګه ځان پوه کړو چې داسلامي امت دژوند طرز او د مسلمانانو عملي حالت داسلام په حق کې تر ټولو لویه شاهدي او ګواهي ده او که چیرې د دوی حالت

ښه شي نو داسلامي نړۍ په اړه به ښه رایه رامینځ ته کیږي او وګړي به پخپله ددې لورته راشي او که چیرې ددوی حا لت بدوي نوبیابه نړیوال هم ددوی په اړه ښه نظرنه لري اوکه بیاد اسلام لور ته بلنه ورکړای شي نو اغیز به وربانديې نه کوي نو په نورو کې د اسلامي بلنې کار هم په دې پوري تړلی دی چې په اسلامي امت کې اسلامي ژوند یعنې ایمان او صالح عمل عمومیت وموومي، په هرحال له دې کبله هم دا اړینه ده چې لومړې د مسلمانانو د اصلاح او لارښوونې فکر اوپه دوی کې د دیني ژوند دعام کولو لپاره په پوره ځواک سره هڅه اوکوښښ و شي.

د دین خدمت، بلنه او دوګړود اصلاح او لارښوونې کوښښ ته جهاد هم ویل شوی بلکه (جهاد کبیر) یعنې لوی جهاد ورته ویل شوی دی.

په سورت فرقان کې داسې راغلي دي:

﴿ فَلَا تُطِعِ ٱلۡكَـٰفِرِينَ وَجَـٰهِدۡهُم بِهِۦ جِهَادٗا كَبِيرٗا ﴾ الفرقان: ٥٢

دکافرانوپیروي مه کوه اودهغوی سره په دې قرآن لوی جهادکوه.

ددې آیت په هکله دمفسرینو عمومي رایه داده چې له دې څخه تبلیغ او دعوت مراد دی.

اوپه دې کې هیڅ شک نشته که چیرې دبلنې کار په اخلاص، نیک نیتی او یواځې د الله پاک درضا په خاطر وشي نوبې شکه دا دالله پاک په وړاندې ډیر لوی جهاد دی، ډیر وګړي دا ګڼي چې جهاد یواځې دهغه جنګ نوم دی چې د دین د اصولو او احکامو سره سم دالله پاک په لاره کې کیږي خوصحیح خبره داده چې دد ین بلنه او دالله پاک د بنده ګانو د اصلاح او لارښوونې دپاره چې په څه وخت کې دکوم کوښښ کولو

توان وي ددغه وخت خاص جهادهمدادی، رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعثت څخه وروسته نژدې دولس دیارلس کاله په مکه معظمه کې ژوند کاوه، په دې ټوله موده کې د نبي ﷺ او دده د خوږو اصحابو کرامو جهاد همدا ؤ چې دمخالفتونو او راز راز کړاونو سره پخپله پر سپیڅلي دین ښه کلک ولاړ اود نورو انسانانو داصلاح او لارښوونې کوښښونه یې کول او دالله پاک بنده ګانو ته یې په ښکاره او پټه د دین بلنهورکوله.

لنډه داچې د الله پاک څخه دغافلو او دهغه دلارې څخه دګرځیدلو بنده ګانو بیرته د الله پاک طرف ته دراګرځولو ، په سمه لاره د روانولو کوښښ کول اوپه دې لاره کې خپل مال او شتمني لګول، د خپل وخت، آرام او راحت قربانول دا ټول دالله پاک په وړاندې په جهاد کې شمیرل کیږي، ددې کار کوونکو ته چې په آخرت کې کوم اجر او ثواب ورکول کیږي او دنه کوونکو لپاره چې د الله پاک له لوري دلعنت اوقهر کوم خطرونه متوجه دي دا ددې احادیثو څخه په ښه توګه څرګندیږي:

**((مَنْ دَعَا إِلَي هُدًى كَانَ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ تَبِعَهُ لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا )) ( صحيح مسلم - (13 / 164)**

(کوم مسلمان چې خلکو ته دسمې لارې بلنه ورکړي او دنیکۍ لورته یې راوبلي نو کوم خلک چې د هغه خبره ومني او څومره نیکۍ اود خیرکارونه چې هغوی کوي اوددغو نیکیو کوونکو ته چې څومره اجر او ثواب ورکول کیږي نو هومره اجر او ثواب به هغه چاته هم ورکول کیږي چې ده ته یې دنیکۍ بلنه ورکړې ده او له دې امله به پخپله د نیکۍ کوونکو په اجر او ثواب کې کوم کموالی نه راځي) .

ددې حدیث څخه معلومه شوه که چیرې ستا

په بلنې اوکوښښ سره لس شل کسان اصلاح شي او هغوی خدای او رسول وپيژني او ددين پر احکامو عمل وکړي، لمونځونه ادا کړي، او په همدې توګه نورهم همدا فرايض ادا کړي او له ګناهونو اوبدو خبرو څخه ځان وساتي نو ددې کارونو څومره اجر او ثواب چې دغوټولو ته ورکول کيږي دهغوی ټولو دمجموعې برابر به يواځې تاته هم درکول کيږي.

نو اوس تاسو فکر وکړئ چې دابه څومره اجر او ثواب وي چې يو مسلمان ته د سلګونو انسانانو دعبادتونو او نيکيو برابر اجر او ثواب ورکول کيږي ؟ په يو بل حديث کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ حضرت علی کرم الله وجهه ته دخيبردفتح اوجګړې په مهال وفرمايل:

**فَوَاللَّهِ لَأَنْ يُهْدَى بِكَ رَجُلٌ وَاحِدٌ خَيْرٌ لَكَ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ**

**((صحيح البخاري - (10 / 94)**

(ای علی! په الله قسم! که چيرې ستاپه وسيله يو انسان ته هم لارښوونه وشي نو ستاپه حق کې داله دې څخه غوره ده چې ډير سره اوښان په لاس درشي. (ښکاره دې وي چې عربو به سره اوښان ډير لوی دولت او شتمني ګڼله). په حقيقت کې دالله پاک بنده ګانو ته لارښوونه اود هغوی اصلاح اود نيکی په ليار دهغوی دروانولو هڅه او کوښښ کول لکه چې پورته يادونه وشوه ډيره اوچته نيکي او خدمت دی اود انبياء ‌ځانګړې وراثت اونيابت دی، بيا دنړی تر ټولو ستر مال او شتمني ددې په وړاندې لږ اوکم شي دی. رسول الله ﷺ په يوبل حديث کې دخلکو دلارښوونې اود هغوی داصلاح کولو دکار اهميت ديو عام پوهيدونکي مثال په واسطه هم روښانه کړی

فرمايي:

مَثَلُ الْمُدْهِنِ فِي حُدُودِ اللَّهِ وَالْوَاقِعِ فِيهَا مَثَلُ قَوْمٍ اسْتَهَمُوا سَفِينَةً فَصَارَ بَعْضُهُمْ فِي أَسْفَلِهَا وَصَارَ بَعْضُهُمْ فِي أَعْلَاهَا فَكَانَ الَّذِي فِي أَسْفَلِهَا يَمُرُّونَ بِالْمَاءِ عَلَى الَّذِينَ فِي أَعْلَاهَا فَتَأَذَّوْا بِهِ فَأَخَذَ فَأْسًا فَجَعَلَ يَنْقُرُ أَسْفَلَ السَّفِينَةِ فَأَتَوْهُ فَقَالُوا مَا لَكَ قَالَ تَأَذَّيْتُمْ بِي وَلَا بُدَّ لِي مِنْ الْمَاءِ فَإِنْ أَخَذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَنْجَوْهُ وَنَجَّوْا أَنْفُسَهُمْ وَإِنْ تَرَكُوهُ أَهْلَكُوهُ وَأَهْلَكُوا أَنْفُسَهُمْ

**(صحيح البخاري - (9 / 185)**

د الله پاک په حدودو کې د سستۍ اومداهنت کوونکي او د هغو د ماتوونکي مثال داسې دی لکه چې یوه ډله خلک په کشتۍ باندې پچه واچوي، نو څه خلک ددې کشتۍ په پاس پوړکې او څه په لاندې پوړ کې شي نو د لاندې پوړ خلک داوبو اخستلولپاره د پورتني پوړ په خلکو تیریږي نو هغوی ته تکلیف رسیږي نو هغوی تبر راواخلي او د کشتۍ په لاندې برخه کې سورې کول شروع کړي، خلک هغه ته ورشي او ورته ووایې چې دا څه کوی؟ هغه ورته وایې: زما د پورته تلوراتلو څخه تاسو ته تکلیف رسیږي او ماته خامخا اوبه پکار دي (ځکه په کشتۍ کې سورې کوم) نو که چېرې هغوی دده لاس ونیسي نو دی به هم وژغورل شي او خپل ځانونه به هم وژغوري او که هغه (په کشتۍ کې سوري کولو ته) پریږدي نو هغه به هم هلاک شي او خپل ځانونه به هم هلاک کاندي.

په کامل ډول دګناهونو او بدیو همدغه حال دی،که چیرې دکوم ځای خلک دناپوهۍ په خبرو او ګناهونو کې ښکیل وي او ددغه ځای نیک او هوښیار خلک دهغوی د اصلاح او لارښوونې کوښښ ونه کړي نو پایله به یې دا کیږي چې ددغو مجرمانو او ګناهګارانو له امله به د الله پاک عذاب نازلیږي اوبیا به

ټول په خپله لمن کې رانغاړي او که له دغو ګناهونو او بدیو څخه یې دمنع کولو هڅه او کوښښ وکړ نو بیا به ټول له عذاب څخه ژغورل کیږي.

په یوبل حدیث کې رسول الله ﷺ په ډیر ټینګار،تاکید او قسم کولو سره وفرمایل:

**وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنْ الْمُنْكَرِ أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللَّهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عِقَابًا مِنْهُ ثُمَّ تَدْعُونَهُ فَلَا يُسْتَجَابُ لَكُمْ (ترمذی)**

(په الله قسم! چې دهغه په واک کې زما روح دی! تاسو خلکو ته دنیکی حکم کوئ اوله بدیو څخه یې منع کوئ په یاد ولرئ که چیرې تاسو دا کار ونه کړئ نو ډیره ممکنه ده چې الله پاک به په تاسو باندې سخت عذاب مسلط کړي اوبیابه تاسو دالله څخه دعاګانې غواړی اوستاسې دعاګانې به نه قبلیږي).

وروڼو! ددې زمانې دځینو روڼ زړو، نیکو او پرهیزګارو خلکو په فکر چې وایې پر مسلمانانو چې له یوی مودې څخه کوم کړاوونه او خواری راروانې دي او په کومو اندیښنو او ستونځو کې ښکیل دي چې د زرګونو، دعاګانو، ختمونو او وظیفو سره نه دریږي نو ددې ستر سبب او لامل دادی چې مونږ ددین خدمت، بلنه او د خلکو د لارښوونې او اصلاح کار پرېې ایښې دی دکوم لپاره چې مونږ پیدا کړای شوي یو اود ختم نبوت څخه وروسته مونږ ته په کامل ډول دغه دنده او مسؤلیت راسپارل شوی دی او دنړی دغه قانون دی چې کوم عسکر خپله ځانګړې دنده ادا نه کړي نوهغه له خپلې دندې څخه ګوښه کوي او پاچا چې کومه سزا دهغه لپاره وړ ګڼي همغه ورکوي.

راشئ! په راتلونکې کې ددغه مسؤلیت د ادا کولو لپاره مونږ ټول ژمنه او هوډ وکړو الله پاک دې له مونږ سره مرسته او کومک وکړئ دهغه وعده ده:

﴿ وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓۚ ﴿٤٠﴾ ﴾ الحج: ٤٠
الله پاک به دهغوکسانو سره هرومرو مرسته کوي چې دده له دین سره کومک کوي.

دولسم څپرکې

## پر دین استقامت ،کلک او ټینګ دریدل

له ایمان راوړلو څخه وروسته چې پر بنده د الله پاک له لوري کوم څانګړي مسؤلیتونه لازمیږي په هغې کې یو ستر مسؤلیت داهم دی چې بنده په پوره کلکوالي، همت اوهوډمنتیا سره پردین باندې مضبوط ولاړ وي اوکه حالات او زمانه د هغه لپاره هر څومره ناموافقه شي خو هغه بایدپه هیڅ حالت کې دین پریښودلو ته اماده او تیارنشي، دهمدې نوم استقامت دی، په قرآن کریم کې د داسې خلکو لپاره د ډیر سترو نعمتونو او لوړو درجو یادونه شوی ده. الله پاک فرمایې:

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَبۡشِرُواْ بِٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ ﴿٣٠﴾ نَحۡنُ أَوۡلِيَآؤُكُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَشۡتَهِيٓ أَنفُسُكُمۡ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ﴿٣١﴾ نُزُلٗا مِّنۡ غَفُورٖ رَّحِيمٖ ﴾ فصلت: ٣٠ - ٣٢

بې له شکه هغوکسانو چې ویلي دي الله زمونږ رب دی اوبیا په همدې خبره ټینګ ولاړ وي نو ملایکې به پرې نازلیږي او ورته وایې به چې

مه ویریږئ اومه غم کوئ اود هغه جنت زیري واخلئ چې له تاسې سره يې وعده کيدله، مونږ په دنيا کې ستاسې دوستان يو او په آخرت کې هم او په جنت کې به تاسې ته ټول هغه څيزونه تيار وي چې تاسې يې هيله وکړی او ټول هغه څه به مو په مخکې وي چې تاسې يې وغواړی، داد بښونکي او مهربان الله ميلمستيا ده.

سبحان الله! په دين باندې دټينګ او کلک دريدونکو اود بندګۍ حق ادا کوونکو لپاره په دې مبارکو آيتونو کې څومره لوی زيري دی. رښتيا خو داده که دځان اومال اوهر څه په سرښندنې هم څوک دغه درجه ومومي نودا ډيره لويه نيکمرغي ده.

په يو حديث شريف کې راغلي دي:

**عَنْ سُفْيَانَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الثَّقَفِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قُلْ لِي فِي الْإِسْلَامِ قَوْلًا لَا أَسْأَلُ عَنْهُ أَحَدًا غَيْرَكَ قَالَ أَبُو مُعَاوِيَةَ بَعْدَكَ قَالَ قُلْ آمَنْتُ بِاللَّهِ ثُمَّ اسْتَقِمْ (مسند احمد)**

(له سفيان بن عبدالله ثقفي څخه روايت دی هغه وايي چې ماله رسول الله ﷺ څخه غوښتنه وکړه چې ماته داسې پوره نصيحت وکړئ چې له تاڅخه وروسته مې بل چاته دپوښتنې اړتيا پاتې نه شي! رسول الله ﷺ راته وفرمايل: (ووايه! بس يوائې الله پاک زما رب دی او بيا په دې باندې ټيد ټنګ او کلک ودريږه اوددې سره سم ژوندکوه.

په قرآن کريم کې زموږ دلارښوونې دپاره الله پاک دخپلو وفادارو بنده ګانو ډيرې عبرتناکې پيښې بيان کړي دي چې هغوې په ډيرو سختو، ستونځنو او ناموافقو حالاتو کې هم پر خپل دين ټينګ اوکلک ولاړ وو، د ډيرو سترو شتمنيو په ورکولو او دډيرو سختو ربړونو او کړاوونو له ويرې هيڅکله هم

هغوی د خپل دین څخه نه دي اوښتي. په دې کې یوه واقعه د هغو جادوګرانو ده چې فرعون د موسیυ دمقابلې لپاره راغوښتلي وو اوله هغوې سره یې ډیرو انعامونو او درناویو ورکولو ژمنه کړي وه خو خاص دمقابلې پرمهال چې کله د موسیυ ددین او دهغه دبلنې ریښتنتوب هغوی ته ښکاره او روښانه شو نو هغوی بیا نه ددې پروا وکړه چې فرعون ورسره دکومو انعامونو، درناویو او لویو چوکیو ورکولو ژمنه کړې ده نو له هغو څخه به بې برخې شي اونه یې ددې پروا وکړه چې فرعون به مونږ ته څومره سخته سزا راکوي، په هر حال هغوی د ټولو خطرونو څخه بې پروا شول اود ټولو وګړو په ستره ټولنه او اجتماع کې یې په لوړ آواز وویل:

﴿ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ هَٰرُونَ وَمُوسَىٰ ﴿٧٠﴾ ﴾ طه: ٧٠

مونږ ایمان راوړې دی په رب دهارون او موسی باندې.

یعني هارون او موسی ﷺ چې دکوم رب د بندګی بلنه ورکوي مونږ پر هغه ایمان راوړی دی.

بیا چې د الله پاک دښمن فرعون هغوی وویرول چې زه به ستاسې لاسونه او پښې پریکړم اوپه دار به مو وځړوم نو هغوی په پوره ایماني هوډ او جرات سره ځواب ورکړ:

﴿ قَالُواْ لَن نُّؤْثِرَكَ عَلَىٰ مَا جَآءَنَا مِنَ ٱلْبَيِّنَٰتِ وَٱلَّذِى فَطَرَنَا ۖ فَٱقْضِ مَآ أَنتَ قَاضٍ ۖ إِنَّمَا تَقْضِى هَٰذِهِ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَآ ﴿٧٢﴾ إِنَّآ ءَامَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَٰيَٰنَا ﴿٧٣﴾ ﴾ طه: ٧٢ - ٧٣

نوڅه چې دې په توان کې وي ویې کړه، ستا توان یوازې او یوازې په همدې نړۍ کې

چلیږي، مونږ په خپل رب ایمان راوړی چې زمونږ ګناهونه را وبښي.

او له دې څخه زیاته عبرتناکه پیښه پخپله دفرعون دمیرمنې بې بې آسیه ده، تاسوته به معلومه وي چې فرعون دمصر دپاچاهی په یواځې څان واکمن ؤ او دهغه میرمن دمصر دملکې سربیره فرعون ته هم ډیره ګرانه او زړه ته یې نږدې وه نو یواځې له دې څخه وانګیرئ چې هغې ته به ددنیا څومره عزت او څنګه ښه ژوندپه برخه ؤ کله چې دموسی علیه السلام د دین او دهغه دبلنې ریښتینوالې د الله پاک پردغه نیکمرغه میرمنې باندې څرګند او ښکاره شو نو هغې بیخي ددې پروا ونه کړه چې فرعون به په مابانديې څه ډول راز راز ظلمونه کوي اود دنیا ددې شاهانه ژوند پرځای به زه دڅومره سترو کړاوونو او ربړونو سره مخ کیږم، لنډه داچې له دغو ټولو خبروڅخه په بشپړ ډول بې پروا هغې دخپل ایمان راوړلو اعلان وکړ اوبیا دحق په لیاره کې دالله پاک دغې پاکې میرمنې دومره بې شمیره کړاوونه او ستونځې وزغملې چې دهغو په تصور کولو سره هم د انسان غونې زیږ زیږ کیږي اود انسان پښتورګي ویلې کوي، بیا دې ته فکر وکړئ چې دالله پاک له طرفه هغې ته کومه لوړه درجه ورکړای شوې ده، په قرآن مجید کې په ډیر عزت سره دهغې یادونه شوې اود مسلمانانو لپاره دهغې صبر او سرښندنه دبیلګې په توګه ښودل شوې ده، الله فرمايي:

﴿ وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱمْرَأَتَ فِرْعَوْنَ إِذْ قَالَتْ رَبِّ ٱبْنِ لِي عِندَكَ بَيْتًا فِي ٱلْجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِن فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهِۦ وَنَجِّنِي مِنَ ٱلْقَوْمِ

ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١١﴾ التحريم: ١١

او الله پاک دمومنانو لپاره دفرعون دښځې مثال وړاندې کوي هغې ویلي وو: ای زما ربه! ماته له خپل پلوه په جنت کې یو کور جوړ کړه اودفرعون اود هغه له کړنو مې خلاصه کړه او له ظالم قوم نه مې وژغوره.

سبحان الله! څومره لویه مرتبه او لوړ مقام دی چې دټول امت لپاره یعنې له حضرت ابوبکر صدیق τ څخه نیولې ترقیامته پورې دټولو مسلمانانو دپاره الله پاک دخپلې دغه نیکې بندې پردین ټینګ او کلک دریدل (استقامت) مثال اوبیلګه ګرځولې ده.

په حدیث شریف کې راغلي دي:

**عَنْ خَبَّابِ بْنِ الْأَرَتِّ قَالَ شَكَوْنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُتَوَسِّدٌ بُرْدَةً لَهُ فِي ظِلِّ الْكَعْبَةِ قُلْنَا لَهُ أَلَا تَسْتَنْصِرُ لَنَا أَلَا تَدْعُو اللَّهَ لَنَا قَالَ كَانَ الرَّجُلُ فِيمَنْ قَبْلَكُمْ يُحْفَرُ لَهُ فِي الْأَرْضِ فَيُجْعَلُ فِيهِ فَيُجَاءُ بِالْمِنْشَارِ فَيُوضَعُ عَلَى رَأْسِهِ فَيُشَقُّ بِاثْنَتَيْنِ وَمَا يَصُدُّهُ ذَلِكَ عَنْ دِينِهِ وَيُمْشَطُ بِأَمْشَاطِ الْحَدِيدِ مَا دُونَ لَحْمِهِ مِنْ عَظْمٍ أَوْ عَصَبٍ وَمَا يَصُدُّهُ ذَلِكَ عَنْ دِينِهِ وَاللَّهِ لَيُتِمَّنَّ هَذَا الْأَمْرَ حَتَّى يَسِيرَ الرَّاكِبُ مِنْ صَنْعَاءَ إِلَى حَضْرَمَوْتَ لَا يَخَافُ إِلَّا اللَّهَ أَوْ الذِّئْبَ عَلَى غَنَمِهِ وَلَكِنَّكُمْ تَسْتَعْجِلُونَ (صحيح البخاري - (11 / 44)**

((خباب بن الارت (رض) وایي چې مونږشکایت وکړرسول الله (ص) ته هغه مهال چې په مکه مکرمه کې مشرکینو مسلمانانو ته سخت ربړونه، کړاوونه او تکلیفونه ورکول اود هغوی ظلم اوتیري له حده څخه زیات شو، رسول الله ﷺ دکعبې سیوري ته تکیه کړې وه،مونږوویل: ایا تاسې څمونږ لپاره دنصرت غوښتنه نه کوئ او څمونږ لپاره له الله پاک څخه دُعا نه غواړئ؟ نو رسول الله ﷺ وفرمایل: ستاسو څخه په مخکې خلکو کې به

یوسړي ته کنده وویستل شوه اوهغه به یې په کې ودراوه،بیا به یې په سر ورته آره کیښوده او دوه ټوټې به یې کړ خودې کار به هغه له دین څخه نه اړولو، داوسپنو پر ږمنځو به دهغوی څخه غوښې او پوستکې رالرې کیدل خودې کاربه هغه له دین څخه نه اړولو، په الله تعالی قسم ! دادین به برلاسې کیږي ان تردې چې یوسپوربه دصنعاڅخه حضرموت ته یواځې راځي پرته له الله څخه به له بل شي ویره نه لري اویاداچې لیوه یې په رمه حمله وکړي،خوتاسې ډیره بیړه کوئ ) .

الله پاک دې مونږ کمزورو او عاجزو بنده ګانو ته هم دخپلو دغو ریښتنو بنده ګانودهمت اوپر دین دکلک اوټینګ دریدلو (استقامت) څه ذره راپه برخه کړې او که چیرې دغه ډول کوم وخت راته لیکل شوی وي نود خپلو دغو وفادارو بنده ګانو دپښوپر پلونو دتللو توفیق دې راکړي.

بناکردند خوش رسمی بخاک وخون غلطیدن

خدا رحمت کند این عاشقان پاک طینت را

## دیارلسم څپرکې

# د دین لپاره کوښښ،دهغې مرسته او ملګرتیا (جهادفی سبیل الله)

له مومنانو څخه دالله پاک ځانګړې غوښتنه
اوډیر په ټینګار سره یو حکم دا هم دی چې
کوم ریښتونې، داسلام سپیڅلې دین او د
بندګۍ کومه غوره تګ لاره چې هغوی ښه او
ریښتونې منلې او غوره کړې ده نو ددې د
ژوندۍ او ښیرازه ساتلو او ددې دزیات
خپرولو او رسولو په خاطر چې کومې هڅې او
کوښښونه دهغوی په توان کې وي هرومرو هغه
ترسره کړي، ددین په ځانګړی اصطلاح ددې نوم
جهاد دی اود حالاتو په بدلون سره ددې
صورتونه هم مختلف کیږي، دمثال په توګه که
چیرې په کوم وخت کې حالات په دې ډول وي چې
پخپله دخپل ځان، کورنۍ، خپل قوم اوټولنې
پر دین باندې ټینګ دریدل ستونځمن وي اوله
دې امله خدای مکړه د کړاوونو او مشکلاتو
سره مخامخ کیږي نو په دغه وخت کې دخپل
ځان، کورنۍ او قوم پردین باندې دټینګ او
کلک دریدلو کوښښ کول اوپه کلکه، پخه
اراده او هوډمنتیا سره پر خپل د ین ټینګ
پاتې کیدل لوی جهاد دی. همدارنګه که چیرې

په کوم وخت کې مسلمانان دناپوهی او غفلت له امله دخپل دین څخه دلیرې کیدو په لور رهي وي نو دهغوی داصلاح او دیني روزنې کوښښ کول اوپه دې لیاره کې خپل ځان اومال قربانول هم دجهاد یو ډول دی. همدارنګه که چیرې دالله پاک کوم بنده ګان د رب له ریښتوني دین اود هغه له نازل کړیو احکامو څخه بې خبره وي نو هغوی ته په معقولیت او ریښتوني خواخوږی سره د دین د پیغام په رسولو اودالله پاک له احکامو څخه دخبرولو په لاره کې هلې ځلې کول هم د جهاد یو صورت دی اوکه چیرې داسي وخت وي چې په الله پاک او رسول الله ﷺ دایمان لرونکي (جماعت) په لاس کې تولنیز ځواک او طاقت وي نو په دغه وخت کې دالله پاک دتاکلیو قوانینو سره سم د دین دساتنې اومرستې لپاره دځواک اوقوت استعمالول هم جهاد دی خو ددې دجهاد او عبادت کیدو لپاره دوه ځانګړې شرطونه دي. یوداچې دهغوی دغه اقدام دکوم شخصي یاقومي (توکمیزې) ګټې یاد شخصي او قومي تعصب او دښمنۍ له امله نه وي بلکه اصلي هدف او موخه یواځې دالله پاک دحکم عملي کول اود هغه ددین خدمت وي، دوهم داچې ددې قوانینو او اصولو په کامله او بشپړه توګه پابندي وکړي. له دغو دواړو شرطونو پرته که ځواک استعمال شي نو ددین له نظره به هغه جهاد نه بلکه فساد وي. همدا راز دظالم او جابرو واکمانو په وړاندې (که دمسلمانانو څخه وی یاد نامسلمانانو څخه) دحق خبره کول هم دجهاد یو ځانګړی ډول دی. په حدیث شریف کې ورته (افضل الجهاد) ویل شوی دی. ددین دکوښښ، ساتنې او ملګرتیا دغه ټول صورتونه (چې پورته یې یادونه وشوه) درجه په درجه واقع دي، په دې د تینګار او غوره والي په

باره کې څو آيتونه او احاديث واورئ.
الله پاک فرمايي:

﴿ وَجَٰهِدُواْ فِي ٱللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِۦۚ هُوَ ٱجۡتَبَىٰكُمۡ ﴿٧٨﴾ ﴾ الحج: ٧٨

دالله په لیار کې داسې حق جهاد وکړئ چې له هغه سره ښايي، هغه تاسې غوره کړی یاست.
الله پاک فرمايي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ هَلۡ أَدُلُّكُمۡ عَلَىٰ تِجَٰرَةٖ تُنجِيكُم مِّنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ ﴿١٠﴾ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿١١﴾ يَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡ وَيُدۡخِلۡكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةٗ فِي جَنَّٰتِ عَدۡنٖۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿١٢﴾ ﴾ الصف: ١٠ - ١٢

ای مؤمنانو! ایایو داسې تجارت در وښایم چې تاسې له دردناک عذاب څخه وژغوري ؟ په الله او رسول یې پوخ ایمان راوړئ ، په مال او سر د الله په لیار کې جهاد وکړئ که پوهیږئ نو دا درته خورا غوره ده. الله پاک به ستاسې ګناهونه وبښي او هغو باغونو ته به مو داخل کړي چې لاندې له ونو او ماڼیو یې ویالي بهیږي اوپه تل پاتې باغونو کې به ډیر غوره اوښه کورونه درکړي، همدغه ډیر لوی بری دی.

په حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

**عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ قَالَ إِيمَانٌ بِاللَّهِ وَجِهَادٌ فِي سَبِيلِهِ (صحيح البخاري - (8 / 440)**

(له ابوذر(رض) څخه روایت دی چې ما له رسول الله څخه وپوښتل چې کوم عمل غوره دی ؟ هغه راته وفرمایل:په الله پاک ریښتوني ایمان او ددین لپاره جهاد کول تر ټولو اعمالو

غوره او افضل دي).
په یو حدیث شریف کې راغلي دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل:
**أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا اغْبَرَّتْ قَدَمَا عَبْدٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَتَمَسَّهُ النَّارُ (صحيح البخاري - (9 / 385)**
(دکوم بنده په پښو باندې چې د الله په لاره کې دتګ کولو په وجه دوړه اوګرد ولګیږي نو دانشي کیدای چې د دوزخ اور ورته ورسیږي.
په یوبل حدیث کې دي:
**فَإِنَّ مُقَامَ أَحَدِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهِ فِي بَيْتِهِ سَبْعِينَ عَامًا (سنن الترمذي - (6 / 206)**
(په تاسو کې چې کوم یو دالله پاک په لیاره کې (یعنې دالله پاک ددین لپاره جهاد، مرستې اوساتنې کې) دریدل او څه برخه اخستل په خپل کورکې د اویاوو کالو دلمانځه څخه غوره دي. الله پاک دې موږ ټولو ته توفیق راکړي چې دالله ددین لپاره دجهاد کولو، مرستې او ملګرتیا دغه اجر او ثواب موږ ته برخه شي.
آمین.

خوار لسم څپرکې

# دشهادت فضيلت اود شهيدانو مرتبه

د اسلام په حق او سپيڅلي دين د ټينګ او کلک دريدلو له امله که چيرې دالله پاک کوم بنده ووژل شي يا ددين لپاره په جهاد او ملګرتيا کې دکوم نيکمرغه مسلمان ځان ولاړ شي نو ددين په ځانګړي اصطلاح کې دې ته شهيد ويل کيږي او دالله پاک په وړاندې داسې وګړي ډيره لوړه او اوچته درجه لري. ددغو ډول وګړو په باره کې په قرآن مجيد کې لارښوونه شوې چې هغوی هيڅکله هم مړه ونه ګڼئ بلکې د شهيد کيدو وروسته د الله پاک له لوري هغوی ته ځانګړی ژوند په برخه کيږي او بې شميره راز راز نعمتونه ورکول کيږي.

الله پاک فرمايي:

﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتًۢا ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴿١٦٩﴾ ﴾ آل عمران: ١٦٩

دالله په لاره کې په وژل شوو دمړوګمان مه کوئ بلکې دوی دخپل پروردګارپه وړاندې ژوندي دي او روزي ورکول کيږي.

دشهيدانو سره الله پاک ځومره محبت لري اوهغوي ته څنګه راز راز نعمتونه ورکول کيږي ددې اندازه د رسول الله ﷺ له دې حديث شريف څخه کيدای شي.

نبي کريم ﷺ وفرمايل:

**مَا أَحَدٌ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ يُحِبُّ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا وَلَهُ مَا عَلَى الْأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا الشَّهِيدُ يَتَمَنَّى أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا فَيُقْتَلَ عَشْرَ مَرَّاتٍ لِمَا يَرَى مِنْ الْكَرَامَةِ** (صحيح البخاري - (396 / 9)

(په جنتیانو کې به هیڅ یو تن دانه غواړي چې هغه دې بیا دنیا ته ولیږل شي سره له دې چې هغه ته به وویل شي چې تا ته به ټوله دنیا درکړای شي خو شهید به ددې هیله کوي، یو ځل نه بلکه چې لس ځله هغه دنیا ته ولیږل شي ترڅو هر ځل هغه د الله پاک په لاره کې شهید شي اوبیا راشي، هغوی به دا هیله د شهادت دلوړو درجو او ځانګړیو نعمتونو په لیدو سره کوي)
دشهادت د ارزو په شوق کې پخپله د رسول الله ﷺ حال دا ؤ ،فرمایي:

**(( وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ وَدِدْتُ أَنِّي أُقَاتِلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَأُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ ))**
**((صحيح البخاري - (22 / 178)**

(قسم په هغه ذات چې زما روح دهغه په لاس کې دی ! زما زړه غواړي چې د الله په لاره کې ووژل شم بیا راژوندی شم او بیا ووژل شم بیارا راژوندی شم اوبیا ووژل شم بیارا راژوندی شم. په یو حدیث کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

**(( لِلشَّهِيدِ عِنْدَ اللَّهِ سِتُّ خِصَالٍ يُغْفَرُ لَهُ فِي أَوَّلِ دَفْعَةٍ وَيَرَى مَقْعَدَهُ مِنْ الْجَنَّةِ وَيُجَارُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَيَأْمَنُ مِنْ الْفَزَعِ الْأَكْبَرِ وَيُوضَعُ عَلَى رَأْسِهِ تَاجُ الْوَقَارِ الْيَاقُوتَةُ مِنْهَا خَيْرٌ مِنْ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا وَيُزَوَّجُ اثْنَتَيْنِ وَسَبْعِينَ زَوْجَةً مِنْ الْحُورِ الْعِينِ وَيُشَفَّعُ فِي سَبْعِينَ مِنْ أَقَارِبِهِ ( سنن الترمذي - (6 / 226)**

(شهید ته د الله پاک له طرفه شپږ انعامونه ورکول کیږي: لومړي داچې په اول ځل به ورته بښنه کیږي،دویم داچې په جنت کې به ورته خپل کور او د اوسیدو ځای ښودل کیږي. دریم داچې دمحشر دورځې دسخت هیبت او پریشانی څخه به په امن کې وي چې له هغه څخه به هلته ټول پریشانه وي (اِلا ماشاءالله.

څلورم داچې دقیامت په ورځ به هغه ته دعزت او وقار داسې تاج په سر شي چې د هغه تاج یو یاقوت به له دنیا او مافیها څخه غوره وي. پنځم دا چې د جنت له حورو څخه به ۷۲ حوري هغه ته په نکاح شي. شپږم داچې دهغه له خپلوانو څخه به د اویاوو کسانوپه حق کې دهغه شفاعت قبلیږي.

په یوحدیث کې راغلي دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل:

**(( يُغْفَرُ لِلشَّهِيدِ كُلُّ ذَنْبٍ إِلَّا الدَّيْنَ )))**

**((صحيح مسلم - (9 / 469)**

(شهید ته ټول ګناهونه بښل کیږي خو که چیرې دچا پور او قرض وربانديې وي نو هغه به وربانديې پاتې وي. او یاده دې وي چې ثواب اوغوره والې یواځې په دې پورې تړلې نه دی چې ددین په لیاره کې انسان ووژل شي بلکې که چیرې ددین له امله کوم مومن وربړول شي، بې عزته کړای شي، ووهل شي، مال تري واخستل شي یا کوم بل دول زیان ورته ورسول شي نوپه دې ټولو به دالله پاک له طرفه هغه ته ثواب ورکول کیږي او الله پاک به دغو خلکو ته دومره لوی مرتبې ورکړي چې لوی لوی عابدان او زهدان به وربانديې غبطه او رشک کوي لکه څرنګه چې په دنیاوي حکومتونو کې دهغو چاروکو ډیر درناوې کیږي او هغوی ته ستر انعامونه او القاب ورکول کیږي چې دخپل حکومت په وفاداری کې تپیان شي، ووهل شي او بیا هم خپل حکومت ته وفاداروي. په همدې ډول د الله په وړاندې دهغو بنده ګانو لپاره ځانګړی عزت دی چې پر خپل دین د ټینګ او کلک دریدلو له امله یا ددین دپرمختګ او خپرولو دکوښښ کولو په لړ کې ووهل شي، یابې عزته کړای شي یا بل راز کوم زیان ورته ورسیږي. نود قیامت په

ورځ به الله پاک دغو خلکو ته خپل خاص نعمتونه، عزت او درناوی په برخه کړي نو نور وګړي به دهغوی مرتبې ته ارمان کوي او داسې به وایي: کاشکې! زمونږ سره هم په دنیا کې داسې عمل شوی وای، ددین لپاره مونږ خوار کړای شوي وای، وهل ټکول شوي وای او زمونږ جسمونه ټپي شوي وای ترڅو نن موږ ته هم دغه نعمتونه را په برخه شوي وای.

ای الله! که چیرې زمونږ لپاره څه وخت داسې ازمېښتونه لیکل شوي وي نو مونږ پرخپل دین کلک او ټینګ وساته اود خپل رحمت او مرستې څخه مو مه بې برخې کوه. آمین

## پنځلسم څپرکی

# له مرګه پس: قبر، قیامت او آخرت

په دومره خبره خوټول پوهیږئ او منې یې چې څوک په دې دنیا کې پیدا شوي دي نو هرومرو به یوه ورځ له مینځه ځي اومړه کیږي به خو له خپله ځانه داخبره چاته معلومه نه ده اونه داڅوک معلومولای شي چې له مرګه پس به څه کیږي ؟ داخبره یواځې الله پاک ته معلومه ده اود هغه په لارښوونې پیغمبرانو ﷺ ته معلومیږي، دالله پاک هر پیغمبر په خپل خپل وخت کې خپل قوم او امت ته په ښه تینګار او پوره ډول ښودلي او ویلي دي چې له مرګه پس به تاسې له کومو کومو مرحلو څخه تیریږئ اوپه دنیا کې ستاسې دکړیو عملونو جزا او سزا به په هر پړاو کې تاسې ته درکول کیږي. څرنګه چې رسول الله ﷺ دالله پاک وروستې او آخري پیغمبر او رسول دی اوله ده څخه وروسته بل کوم پیغمبر تر قیامته پورې نه راځي نو له دې کبله نبي کریم صلی الله علیه وسلم پس له مرګه د ټولو مراحلو او منزلونو د پوره تفصیل او تشریح په هکله کامل اوبشپړ بیان په څرګند ډول فرمایلې دی که چیرې دغه ټول یوځای راجمع شي نویو لوی کتاب تری جوړیدای شي.

په قرآن مجید اود رسول الله ﷺ په مبارکو احادیثو کې چې په دې لړ کې کومې لارښوونې شوي دي دهغې لنډیز دادی:

له مرګه پس درې منزلونه راتلونکي دي:
لومړۍ مرحله اومنزل دمرګ له وخته دقیامت تر راتلو پورې دي، دې ته عالم برزخ

اودقبر عالم ویل کیږي، له مرګه پس که دانسان بدن په قبر کې ښخ شي یاپه دریاب کې لاهو شي یاوسوزول شي او خاورې ایرې شي خو دهغه روح په هیڅ صورت کې هم نه فنا کیږي، یواځې دومره کیږي چې هغه زمونږ له دې نړۍ څخه یوې بلې نړۍ او عالم ته انتقال مومي، هلته دالله پاک ملایکې ورڅخه دهغه درب، دین اوپیغمبر په اړه ځینې پوښتنې کوي نو که چیرې هغه ریښتونې مومن وي نو سم ځواب به ورکوي چې د سم ځواب دورکولو په صورت کې ملایکې هغه ته زیرې اوروي چې ته تر قیامته پورې په خوښۍ او ډاډمنتیا سره اوسه او که چیرې ه غه مومن نه وي بلکه کافر یا تش په نامه مسلمان یا منافق وي نوله همدغه شیبې څخه به په سخت عذاب،درد او غم کې ښکیل کیږي، چې دغه لړۍ به ورباندې ترقیامته پورې جاري او روانه وي، دا د برزخ منزل او مرحله ده چې ددې زمانه دمرګ له وخته نیولې تر قیامته پورې ده.

له دې وروسته دویم منزل د قیامت او حشر دی، دقیامت مطلب دادی چې داسې یو وخت هرومرو راتلوونکی دی چې دالله پاک په حکم سره به دا ټوله دنیا په یو ځل ورانه شي لکه څنګه چې په سختو او شدیدو زلزلو سره ډیرې سیمې او منطقې ویجاړیږي، په همدې ډول به په دغه وخت کې ټوله دنیا ګډه وډه او ویجاړه شي اوپر ټولو شیانو به په یو ځل مرګ اوفنا راشي. بیابه د څه مودې وروسته کله چې الله پاک وغواړي ټول به له سره راژوندي کړي، په دغه وخت کې به د ټولې دنیا مخکنې او وروستنې انسانان بیرته راژوندي کړي اود هغوی د دنیاوي ژوند په هکله به له هریو سره پوره حساب

کیږي، په دې حساب کې چې د الله پاک کوم بنده ګان نجات ومومي او دجنت وړ او مستحق شي نو دهغوی په اړه به دجنت حکم وشي اوکوم ظالمان او مجرمان چې دالله پاک د عذاب اود دوزخ وړ او مستحق شي نو هغوی ته به د دوزخ حکم واورول شي، دا منزل له مرګه پس دویم منزل دی چې د قیامت او حشر په نوم یادیږي.

له دې څخه وروسته به جنتیان د تل لپاره جنت ته ولاړ شي چې هلته به یوائې خوشحالي،ډاډمن ژوند، راحتونه ،خوندونه اولذتونه وي چې په دې نړۍ کې به نه چا لیدلي وي، نه به چا اوریدلي وي او نه به یې په زړه کې دهغې خیال او تصور تیر شوی وي.

او دوزخیان به په دوزخ کې واچول شي چې هلته به هغوی ته سخت عذابونه او دردونه په برخه شي، الله پاک دې مونږ ټول له دوزخ څخه وساتي. دغه جنت او دوزخ له مرګه پس دریم او وروستني منزل دی اوبیابه خلک تل ترتله دخپلو کړو وړواوعملونو سره سم په دوزخ یا جنت کې اوسیږي، له مرګه پس ددغو مرحلوپه اړه دالله پاک پیغمبرانو او په ځانګړي ډول اخري پیغمبر سیدنا محمدمصطفی صلی الله علیه وسلم چې کوم څه ښودلي او فرمایلي دي، په قرآن مجید او احادیثو کې چې کومې یادونې شوي دي دهغې لنډیز پورته بیان شو، اوس څو آیتونه او احادیث دبیلګې په توګه واورئ:

الله پاک فرمایي:

﴿ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ ۖ ثُمَّ إِلَيْنَا تُرْجَعُونَ ﴿٥٧﴾ ﴾ العنكبوت: ٥٧

هر ساکښ دمرګ څکونکې دی، بیابه ماته تاسې ټول راګرځول کیږئ.

﴿ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ ۗ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ ۖ ﴿١٨٥﴾ ﴾ آل عمران: ١٨٥

هر ساکښ ځکونکي دی د مرگ اوبې شکه پوره به درکړای شي تاسي ته اجرونه ستاسې په ورځ دقیامت.

او ددې دسختو هیبتونو او کړاونو یادونه د قرآن مجید په سلگونو آیتونو کې شوي ده، څو آیتونه دلته لیکو:

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُوا۟ رَبَّكُمْ ۚ إِنَّ زَلْزَلَةَ ٱلسَّاعَةِ شَىْءٌ عَظِيمٌ ﴿١﴾ يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّآ أَرْضَعَتْ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى ٱلنَّاسَ سُكَـٰرَىٰ وَمَا هُم بِسُكَـٰرَىٰ وَلَـٰكِنَّ عَذَابَ ٱللَّهِ شَدِيدٌ ﴿٢﴾ ﴾ الحج: ١ ـ ٢

ای خلکو! له خپل رب نه وډار شئ اوپوه شئ چې دقیامت زلزله خورا درنه ده،په کومه ورځ چې سره مخ شي نو وبه گوري چې هره تې ورکوونکې به له خپل تي خورنه بې پروا او هره بلاربه به په خیټه بچې وغورځوي او خلک به درته نیشه ښکاره شي، هغوی به له مستی نیشه نه وي بلکه دالله عذاب خورا ډیر سخت دی.

او دالمزمل په سورت کې الله پاک د قیامت په هکله فرمایي:

﴿ يَوْمَ تَرْجُفُ ٱلْأَرْضُ وَٱلْجِبَالُ وَكَانَتِ ٱلْجِبَالُ كَثِيبًا مَّهِيلًا ﴿١٤﴾ ﴾ المزمل: ١٤

په هغه ورځ چې ځمکه او غرونه ولړزیږي او غرونه دشگو دروانو او خوزیدونکو ډیرو پشان وي، او په همدې سورت کې یې دقیامت په اړه فرمایلي دي.

﴿ يَوۡمٗا يَجۡعَلُ ٱلۡوِلۡدَٰنَ شِيبًا ﴿١٧﴾ ﴾ المزمل: ١٧

داسې ورځ ده چې هیبت اوویره یې کوچنیان بوډاګان کوي.

اودعبس په سورت کې الله پاک فرمايي:

﴿ فَإِذَا جَآءَتِ ٱلصَّآخَّةُ ﴿٣٣﴾ يَوۡمَ يَفِرُّ ٱلۡمَرۡءُ مِنۡ أَخِيهِ ﴿٣٤﴾ وَأُمِّهِۦ وَأَبِيهِ ﴿٣٥﴾ وَصَٰحِبَتِهِۦ وَبَنِيهِ ﴿٣٦﴾ لِكُلِّ ٱمۡرِيٕٖ مِّنۡهُمۡ يَوۡمَئِذٖ شَأۡنٞ يُغۡنِيهِ ﴿٣٧﴾ وُجُوهٞ يَوۡمَئِذٖ مُّسۡفِرَةٞ ﴿٣٨﴾ ضَاحِكَةٞ مُّسۡتَبۡشِرَةٞ ﴿٣٩﴾ وَوُجُوهٞ يَوۡمَئِذٍ عَلَيۡهَا غَبَرَةٞ ﴿٤٠﴾ تَرۡهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَفَرَةُ ٱلۡفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾ ﴾ عبس: ٣٣ - ٤٢

نو کله چې کنونکې چیغه وشي، په هغه ورځ به هرسړی له خپل وروړ څخه تښتي له مور او پلار له ښځې اوبچیو څخه، په دې ورځ به هرسړی له داسې حالت سره مخ وي چې له بل څخه به یې بې پروا کوي، ځنیې مخونه به په دې ورځ روښانه، خندان، تازه او خوښ وي.ځینې مخونه به په همدې ورځ په خړو ګردونو کې پټ او تک تور اوښتي وي. هو! همدوې کافران او بدچلنه دي.

دقیامت په ورځ به ټول انسانان دالله پاک په وړاندې حاضر شي، هیڅوک به په هیڅ ځای کې پټ پاتې نشي، الله پاک فرمايي:

﴿ يَوۡمَئِذٖ تُعۡرَضُونَ لَا تَخۡفَىٰ مِنكُمۡ خَافِيَةٞ ﴿١٨﴾ ﴾ الحاقة: ١٨

په همدې ورځ به تاسو الله ته وړاندې کړای شئ اوهیڅ به موپټ نه وي.

او دالکهف په سورت کې الله پاک فرمايې.

﴿ وَيَوۡمَ نُسَيِّرُ ٱلۡجِبَالَ وَتَرَى ٱلۡأَرۡضَ بَارِزَةٗ وَحَشَرۡنَٰهُمۡ فَلَمۡ نُغَادِرۡ مِنۡهُمۡ أَحَدٗا ﴿٤٧﴾ وَعُرِضُواْ عَلَىٰ رَبِّكَ صَفّٗا لَّقَدۡ جِئۡتُمُونَا كَمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةِۭۚ بَلۡ زَعَمۡتُمۡ أَلَّن

﴿ وَحَشَرۡنَٰهُمۡ ... نَّجۡعَلَ لَكُم مَّوۡعِدٗا ٤٨ وَوُضِعَ ٱلۡكِتَٰبُ فَتَرَى ٱلۡمُجۡرِمِينَ مُشۡفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَٰوَيۡلَتَنَا مَالِ هَٰذَا ٱلۡكِتَٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةٗ وَلَا كَبِيرَةً إِلَّآ أَحۡصَىٰهَاۚ وَوَجَدُواْ مَا عَمِلُواْ حَاضِرٗاۗ وَلَا يَظۡلِمُ رَبُّكَ أَحَدٗا ﴾ الكهف: ٤٧ - ٤٩

هغه ورځ را په زړه کړه چې مونږ غرونه له خپلو ځایونو بې ځایه او ځمکه بیخې لغړه ومومې اوټول انسانان له مخې راټول کړو چې یو هم رانه پاتې نشي. اوټول کتار کتار ستا رب ته وړاندې کړای شي، الله به وواېي: دادی اوس ماته راغلئ لکه څنګه مې چې لومړی ځل پیدا کړي واست؟ که نه نو ستاسې ګومان خو دا وو چې مونږ به تاسې ته د وعدې کوم ځای او وخت ونه ټاکو او عملنامې به کیښوولې شي نو ته به وګورې چې ګناه ګاران به له هغه څه نه چې په عملنامو کې یې کښل شوي ډېر ډاریدونکي وي اوواېي به: های زمونږبد بختی! دا څه دي په دې لیکنه کې؟ زمونږ هره کوچنۍ او لویه راټوله شوې ده! او خپلې کړنې به مخامخ وګوري او ستا رب به په هیچا تیرې ونه کړي.

په قیامت کې د انسان لاسونه، پښې اود هغه ټول غړي او اعضاء هم د هغه پر کړو وړو اوعملونو شاهدي اوګواهي ورکوي. په سورت (یس) کې الله پاک فرمايي:

﴿ ٱلۡيَوۡمَ نَخۡتِمُ عَلَىٰٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَتُكَلِّمُنَآ أَيۡدِيهِمۡ وَتَشۡهَدُ أَرۡجُلُهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٦٥ ﴾ يس: ٦٥

نن به مونږ دهغوی خولې بندې کړو او لاسونه به یې له مونږ سره خبرې وکړي او پښې به یې په هغه څه شهادت ووایې چې دوی

کول.

لنډه داچې کوم حالات په قیامت کې منځ ته راځي قرآن مجید په ډیر تفصیل سره ټول بیان کړی دي. یعنې لومړی دسترو زلزلو او لویو چاودنو منځ ته راتلل، بیا دټولې نړی خرابیدل، تردې چې دغرونو ذرې ذرې کیدل، بیا دټولو انسانانو بیرته را ژوندي کیدل، بیا دحساب لپاره دحشر په میدان کې حاضریدل، او هلته د هرانسان په وړاندې دهغه عملنامه راتلل، او پخپله دانسان د خپلو غړو او اعضاوو دهغه پر خلاف شاهدي اوګواهي ورکول او ورپسې داجر او ثواب یا عذاب او بښنې پریکړه کیدل او له دې وروسته دخلکو جنت یا دوزخ ته تلل دا ټول کارونه د قرآن مجید په ځینو سورتونو کې په داسې تفصیل سره بیان شوي دي چې په لوستلو یې دانسان سترګو ته دقیا مت حالت ځرګندیږي. لکه څرنګه چې په یو حدیث شریف کې دا راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

**قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ كَأَنَّهُ رَأْيُ عَيْنٍ فَلْيَقْرَأْ إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ وَإِذَا السَّمَاءُ انْفَطَرَتْ وَإِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ ((سنن الترمذي - (11 / 160)**

(څوک چې غواړي د قیامت منظر داسې وګوري چې ګواکې دا دهغه دسترګو په وړاندې دی نو هغه دې دقرآن مجید: **(اذاالشمس كورت، اذاالسماء انفطرت اواذا السماء انشقت)** سورتونه ولولي.

اوس مونږ دبرزخ،قبر او قیامت په باره کې د رسول الله ﷺ دځو مبارکو احادیثو یادونه کوو:

**((فَإِنَّهُ لَمْ يَأْتِ عَلَى الْقَبْرِ يَوْمٌ إِلَّا تَكَلَّمَ فِيهِ فَيَقُولُ أَنَا بَيْتُ الْغُرْبَةِ وَأَنَا بَيْتُ الْوَحْدَةِ وَأَنَا بَيْتُ التُّرَابِ وَأَنَا بَيْتُ الدُّودِ فَإِذَا دُفِنَ الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ قَالَ لَهُ الْقَبْرُ مَرْحَبًا وَأَهْلًا أَمَا إِنْ كُنْتَ لَأَحَبَّ مَنْ يَمْشِي**

عَلَى ظَهْرِي إِلَيَّ فَإِذْ وُلِّيتُكَ الْيَوْمَ وَصِرْتَ إِلَيَّ فَسَتَرَى صَنِيعِيَ بِكَ قَالَ فَيَتَّسِعُ لَهُ مَدَّ بَصَرِهِ وَيُفْتَحُ لَهُ بَابٌ إِلَى الْجَنَّةِ وَإِذَا دُفِنَ الْعَبْدُ الْفَاجِرُ أَوْ الْكَافِرُ قَالَ لَهُ الْقَبْرُ لَا مَرْحَبًا وَلَا أَهْلًا أَمَا إِنْ كُنْتَ لَأَبْغَضَ مَنْ يَمْشِي عَلَى ظَهْرِي إِلَيَّ فَإِذْ وُلِّيتُكَ الْيَوْمَ وَصِرْتَ إِلَيَّ فَسَتَرَى صَنِيعِيَ بِكَ قَالَ فَيَلْتَئِمُ عَلَيْهِ حَتَّى يَلْتَقِيَ عَلَيْهِ وَتَخْتَلِفَ أَضْلَاعُهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَصَابِعِهِ فَأَدْخَلَ بَعْضَهَا فِي جَوْفِ بَعْضٍ قَالَ وَيُقَيِّضُ اللَّهُ لَهُ سَبْعِينَ تِنِّينًا لَوْ أَنْ وَاحِدًا مِنْهَا نَفَخَ فِي الْأَرْضِ مَا أَنْبَتَتْ شَيْئًا مَا بَقِيَتْ الدُّنْيَا فَيَنْهَشْنَهُ وَيَخْدِشْنَهُ حَتَّى يُفْضَى بِهِ إِلَى الْحِسَابِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ )) (

سنن الترمذي - (8 / 500)

په قبربانديِ هيڅ داسي ورځ نه راځي مګر داچې هغه وايي: زه دغربت کوريم، زه د تنهايي کوريم، زه دخاوروکوريم.کله چې په قبرکې مؤمن بنده خښ شي نوقبرورته وايي: ښه راغلاست! څه ما په سرچې څومره خلک ګرځيدل په هغوټولوکې ته راته ګران وې،نن چې ماته راغلې نوځما ښه سلوک به وګورې،نودسترګو ترديدپورې به ورته پراخه شي اوجنت ته به کړکۍ ورته پرانستل شي.اوکله چې فاجرياکافرپه قبرکې خښ شي نوهغه به ورته ووايي:ستاراتلل دې نامبارک وي څکه ځماپه سرچې څومره خلک ګرځيدل په هغوټولوکې مې ته ډيربدراتللې، خونن چې ماته راغلې نواوس به ځماسلوک وګورې. نوپرې راتنګ به شي تردې چې پښتۍ به يوپه بل کې ننوځي،رسول الله ﷺ خپلې ګوتې يوپه بل کې ننباسلې،الله جل جلاله به پرې اوويا ماران حواله کړي،که چيرې يوددې مارانو دنياته پوکې وکړي نوهيڅ شی به په ځمکه کې ترقيامته پورې راشين نه شي، داماران به يې دحساب تروڅې پورې چيچي اوخوري. رسول

**الله ﷺ وفرمایل:بې شکه قبر دجنت دباغچوڅخه یوه باغچه ده یا د دوزح له کندوڅخه یوه کنده ده.**

له حضرت عبدالله بن عمر τ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

**إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا مَاتَ عُرِضَ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ إِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَمِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَإِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَمِنْ أَهْلِ النَّارِ فَيُقَالُ هَذَا مَقْعَدُكَ حَتَّى يَبْعَثَكَ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ((صحيح البخاري - (5 / 173)**

(کله چې په تاسو کې څوک مړ کیږي نو هغه ته چې کوم ځای اومقام له قیامته څخه وروسته په جنت یا دوزخ کې دخپلو کړو وړو له مخې ورکول کیږي نو هغه هر سهار او ماښام ورته وړاندې کیږي اوهغه ته ویل کیږي چې داستا داوسیدو هغه ځای دی چې ته به ورته رسیږې)

رسول الله ﷺ یو ځل په خپل نصیحت کې د قبر او برزخ عالم د ازمیښت اوددې د حالاتو یادونه وکړه نو ټولو حاضرو اصحابو کرامو په چغو چغو وژړل. په ډیرو احادیثو کې دقبر د حالاتو، پوښتنو او ځوابونو اود هغه ځای د عذاب په تفصیل سره یادونه شوی ده. دلته موږ دلنډیز له امله یواځې ددغو دوو مبارکو احادیثو په یادولو سره کفایت کوو. اوس د قیامت په هکله څو نور مبارک احادیث واورئ. په یوحدیث شریف کې راغلي دي چې:

**« ثم ينفخ في الصور: « فيصعق ثم يصعق الناس فيرسل الله مطرا كأنه الطل » قال : « فتنبت أجسادهم » قال : « ثم ينفخ فيه فإذا هم قيام ينظرون ، فيقال : هلموا إلى ربكم وقفوهم إنهم مسئولون » ((المستدرك على الصحيحين للحاكم - (20 / 41)**

رسول الله ﷺ دقیامت یادونه وکړه اوویې فرمایل: (کله چې د الله پاک په حکم دقیامت

لـومړی شپیلـۍ پـو کړل شي نـو ټـول خلـک بـه بـیهوشه شي او بې ساه به راولـوئـیږي، بیابه الله پاک باران راولیږي لکه دشبنم پـه شـان نـوددوی بـدنـونـه بـه راژونـدي شي،بیابـه دویمه شپیلۍ پـو کړل شي نو ټول بـه راژونـدي او وبه دریږي بیا به حکم وشي چې تاسو ټول دخپل رب په وړاندي د حاضریدو لپاره روان شئ ، ملایکوته بـه حکم وشي دوی وځنډوئ اوویې دروئ، دلته به لـه هغـوی څخـه ددوی دژوند په هکله پوښتني کیږي)

په یوبل حدیث شریف کې راغلي دي چې:

(یـو صحابـي لـه رسـول الله ﷺ څخـه پـوښتـنه وکړه ای دالله رسوله ! الله پاک به دوهم ځل خپل مخلوق څنګه راژوندی کوي ایا پـه دې دنـیا کې ددې کومه نښه اومثال شته؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: ایا کله داسې نه دي شوي چې تاسې دخپل قوم پر کومه زمکه پـه داسې حالت تیر شوي یاست چې هغه وچه او لـه شینکو څخـه خالـي او تشه وي اوبیا پـه داسـې حالـت کـې پرهغې ستاسو تیریدل شوي وي چې هغه راشین او ټوکیدلي وي ؟ (صحابي رض وایـي چې: ما وویـل هـو داسـې شـوي دي، نـو رسـول الله ﷺ وفرمایل: دبیا راژوندي کولو همدغه نښه او مثال دی، همداسې بـه الله پـاک مـړي بیرتـه راژوندي کړي)

یوبل حدیث شریف کې راغلي دي :

**عن أبي هريرة قال قرأ رسول الله صلى الله عليه وسلم هذه الآية يومئذ تحدث اخبارها قال أتدرون ما اخبارها قالوا الله ورسوله اعلم قال فان اخبارها ان تشهد على كل عبد وأمة بما عمل على ظهرها ان تقول عمل كذا وكذا في يوم كذا وكذا فهذه اخبارها ((صحيح ابن حبان - (16 / 340)**

لـه ابـوهریـره (رض) څخـه روایـت دی چـې

رسول الله ﷺ دقرآن مجيد دا آيت ﴿ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا ﴾ (دقيامت په ورځ به زمکه خپل ټول خبرونه بيان کړي) تلاوت کړ، بيا نبي کريم ﷺوفرمايل: تاسو پوهيږئ چې ددې څه مطلب دی؟ اصحابو کرامو وويل: الله اود هغه رسول ډير ښه پوهيږي ! رسول الله ﷺوفرمايل: ددې مطلب دادی چې دقيامت په ورځ به زمکه دالله په هربنده اوهرې بندې باندې شاهدي اوګواهي ورکوي، دهغو کړو وړو اوعملونو په اړه چې هغوی پر زمکې کړي دي، يعنې دالله پاک په حکم به زمکه په دغه ورځ خبرې پيل کړي او وبه وايي چې فلانې بنده يافلانۍ بندې په فلانۍ ورځ زما دپاسه داعمل کړی دی).

په يو بل حديث شريف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺدقيامت د يادولو په لړکې وفرمايل:

**فَيَقُولُ كَفَى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ شَهِيدًا وَبِالْكِرَامِ الْكَاتِبِينَ شُهُودًا قَالَ فَيُخْتَمُ عَلَى فِيهِ فَيُقَالُ لِأَرْكَانِهِ انْطِقِي قَالَ فَتَنْطِقُ بِأَعْمَالِهِ**

**((صحيح مسلم - (14 / 220)**

الله پاک به دقيامت په ورځ بنده ته وفرمايي: نن ته پخپله پخپل ځان شاهد او ګواه يې او زما ليکوونکې ملايکې هم موجودې دي او همدا شاهدان پوره دي. بيا به داسې وشي چې دالله په حکم به دبنده پر خوله مهر ووهل شي چې هغه به په ژبه څه ويلای نشي اود هغه نورو غړو (يعنې لاسونو، پښو او نوروته) به حکم وشي چې تاسې خبرې وکړئ بيابه دغه غړي دهغه د کړو وړو ټول حالات وااوروي.

د يو حديث مفهوم دادی چې:

**عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَجُلًا قَعَدَ بَيْنَ يَدَيْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ**

**فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ لِي مَمْلُوكِينَ يُكَذِّبُونَنِي وَيَخُونُونَنِي وَيَعْصُونَنِي وَأَشْتُمُهُمْ وَأَضْرِبُهُمْ فَكَيْفَ أَنَا مِنْهُمْ قَالَ يُحْسَبُ مَا خَانُوكَ وَعَصَوْكَ وَكَذَّبُوكَ وَعِقَابُكَ إِيَّاهُمْ فَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ بِقَدْرِ ذُنُوبِهِمْ كَانَ كَفَافًا لَا لَكَ وَلَا عَلَيْكَ وَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ دُونَ ذُنُوبِهِمْ كَانَ فَضْلًا لَكَ وَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ فَوْقَ ذُنُوبِهِمْ اقْتُصَّ لَهُمْ مِنْكَ الْفَضْلُ قَالَ فَتَنَحَّى الرَّجُلُ فَجَعَلَ يَبْكِي وَيَهْتِفُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا تَقْرَأُ كِتَابَ اللَّهِ**

**{ وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَإِنْ كَانَ مِثْقَالَ }**

**الْآيَةَ فَقَالَ الرَّجُلُ وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا أَجِدُ لِي وَلِهَؤُلَاءِ شَيْئًا خَيْرًا مِنْ مُفَارَقَتِهِمْ أُشْهِدُكُمْ أَنَّهُمْ أَحْرَارٌ كُلُّهُمْ سنن الترمذي - (10 / 442)**

يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او ويې ويل: ای د الله رسوله! زه څوتنه مريان لرم چې کله کله ناغيږي او شرارتونه کوي، کله ماته دروغ وايي، کله راسره ټګي کوي او زه په دغو نيمګړتياوو له هغوی څخه خفه کيږم، بدې ردې ورته وايم، وهل ټکول ورکوم، نو په قيامت کې به ددې پايله څه وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: الله پاک به په قيامت کې پوره عدل او انصاف کوي.

که چيرې ستا سزا د هغوی د نيمګړتياوو سره مناسب او برابره وي نو نه به تاته څه درکول کيږي اونه به څه ورکوې او که چيرې ستا سزا دهغوی له نيمګړتياوو څخه لږه وي نو ستا زياتې حق به تاته درکړای شي او که ستا سزا دهغوی له نيمګړتياوو څخه زياته وي نو له تا څخه به ددې بدله ستا مريانو ته ورکول کيږي، ددې په اوريدلو سره هغه پوښتونکي سړي ژړا او چغې پيل کړی اوويې ويل: اې دالله رسوله! نوبيا زما لپاره دا غوره ده چې زه هغوی اذاد کړم: زه تا ګواه

کوم، زه تا ګواه کوم چې ما هغوی ټول ازاد کړل ؟ په همدې حديث کې دا هم راغلي دي چې رسول الله ﷺ دغه سړي ته دقرآن مجيد دا آيت شريف واورولو:

﴿ وَنَضَعُ ٱلْمَوَٰزِينَ ٱلْقِسْطَ لِيَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا ۖ وَإِن كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا ۗ وَكَفَىٰ بِنَا حَٰسِبِينَ ﴿٤٧﴾ ﴾

الأنبياء: ٤٧

د قيامت په ورځ به مونږ برابر تول کوونکي تلې کيږدو ، بيا به پر هيڅوک هيڅ ظلم نه وي د چا څومره داوري ددانې په اندازه هم څه کړي وي هغه به مونږ ور مخې ته کړو او د حساب کولو له پاره مونږ کافي يو.

ددې آيت شريف مطلب دادی چې الله پاک فرمايي: مونږ به دقيامت په ورځ د انصاف تله ږدو او دهيچا سره به هلته هيڅ نا انصافي نه کيږي اوکه چيرې دچاکوم عمل ياحق دوري ددانې برابرهم وي نو مونږ به هغه هرومرو حاضر کړو او مونږ پوره حساب اخستونکې يو.

الله پاک دې مونږ ته توفيق راکړي چې له مرګه پس او دقيامت په اړه چې قرآن پاک او رسول الله ﷺ کومې خبرې مونږ ته ښودلي دي مونږ له هغو څخه غافل او بې پروانه شو.

# جنت او دوزخ

په تیر لوست کې یادونه وشوه چې دقیامت ورځ دفیصلې اوپریکړې ورځ ده نوهغه کسان چې مومنان دي اوپه دنیا کې یې نیک اوښه عملونه ترسره کړي وي چې دعذاب وړ نه وي نو هغوی به دقیامت په میدان کې دالهي عرش په سیوري کې په ډیرې خوشحالۍ او آرام سره وي او ډیر ژر به جنت ته ولیږل شي او کوم وګړي چې د سزا موندلو وروسته وبښل شي نو هغوی به دقیامت او محشر په ورځ څه موده کړاوونه اوتکلیفونه ومومي یابه ترڅه مودې پورې په دوزخ کې دخپلو ګناهونو سزا ومومي یابه وبښل شي. په هر حال د چا په زړه کې چې دیوې ذرې په اندازه هم ایمان وي نو هغه به یو وخت جنت ته ورسیږي اوپه دوزخ کې به تل ترتله یواځې هغه کسان پاتې شي چې له دنیا څخه دکفر اوشرک په حالت کې تللي وي. لنډه داچې جنت د ایمان، صالح عمل او الله پاک ته دوفادارئ بدله ده. او دوزخ دکفر، شرک، او دالله پاک څخه دسرغړونې او نافرمانئ سزا ده. دجنت دنعمتونو، راحتونو او د دوزخ دسختیو، کړاوونو او عذابونو بیان په قرآن مجید او احادیثو کې په ډیر تفصیل سره شوی دی، څو مبارک آیتونه او احادیث مونږ دلته ذکر کوو. په سورت آل عمران کې الله پاک فرمایي:

﴿ قُلْ أَؤُنَبِّئُكُم بِخَيْرٍ مِّن ذَٰلِكُمْ ۚ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَأَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللَّهِ ۗ

وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِٱلۡعِبَادِ ﴿١٥﴾ آل عمران: ١٥

دهغو کسانو لپاره چې د الله څخه وېرېږي دتل لپاره داسې باغونه دي چې و یالې به پکې رواني وي، پاکې کړای شوی ښځې او د الله رضا به یې په برخه وي او الله پاک خپل بندګان ښه او پوره ویني.

په سورت (یس) کې الله پاک فرمایي:

﴿إِنَّ أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ ٱلۡيَوۡمَ فِي شُغُلٖ فَٰكِهُونَ ﴿٥٥﴾ هُمۡ وَأَزۡوَٰجُهُمۡ فِي ظِلَٰلٍ عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔونَ ﴿٥٦﴾ لَهُمۡ فِيهَا فَٰكِهَةٞ وَلَهُم مَّا يَدَّعُونَ ﴿٥٧﴾ سَلَٰمٞ قَوۡلٗا مِّن رَّبّٖ رَّحِيمٖ ﴿٥٨﴾﴾ یس: ٥٥ - ٥٨

نن به جنتیان په خوندونو اخیستلو کې بوخت وي، هغوی او میرمنې به یې په ګڼو سیورو کې پر تختونو تکیه کوونکي وي، په جنت کې به یې هرډول میوې په برخه او دڅه هیله چې وکړي ورته به حاضر وي، دمهربان رب له لورې به ورته سلام ویل کیږي.

د الزخرف په سورت کې الله پاک فرمایي:

﴿وَفِيهَا مَا تَشۡتَهِيهِ ٱلۡأَنفُسُ وَتَلَذُّ ٱلۡأَعۡيُنُۖ وَأَنتُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٧١﴾﴾ الزخرف: ٧١

اوهلته به ټول هغه څیزونه وي چې زړه یې خوښوي اوسترګې پرې خوږیږي اوتاسې به تل ترتله هلته ویې.

اوپه سورت محمد کې دجنت حال په دې ډول بیان شوی دی.

﴿مَّثَلُ ٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي وُعِدَ ٱلۡمُتَّقُونَۖ فِيهَآ أَنۡهَٰرٞ مِّن مَّآءٍ غَيۡرِ ءَاسِنٖ وَأَنۡهَٰرٞ مِّن لَّبَنٖ لَّمۡ يَتَغَيَّرۡ طَعۡمُهُۥ وَأَنۡهَٰرٞ مِّنۡ خَمۡرٖ لَّذَّةٖ لِّلشَّٰرِبِينَ وَأَنۡهَٰرٞ مِّنۡ عَسَلٖ مُّصَفّٗىۖ وَلَهُمۡ فِيهَا مِن كُلِّ

ٱلثَّمَرَٰتِ وَمَغۡفِرَةٞ مِّن رَّبِّهِمۡۖ كَمَنۡ هُوَ خَٰلِدٞ فِي ٱلنَّارِ وَسُقُواْ مَآءً حَمِيمٗا فَقَطَّعَ أَمۡعَآءَهُمۡ ﴿١٥﴾ ﴾ محمد: ١٥

هغه جنت چې له پرهيزګارانو سره يې وعده شوې په دې ډول به وي: دصافو نه بدليدونكو اوبو ويالې به پكې رواني اودهغو شيدو ويالې به پكې بهيږي چې په خوند كې يې هيڅ بدلون نه وي راغلې اوهم به پكې دڅښوونكو لپاره دخونده ورو شرابو ويالې اود صافو كړو شوو شاتو نهرونه، هرډول ميوې اوددې دپاسه به د رب له لورې بښنه وي.

او د الحجر په سورت كې دجنت يو صفت دابيان شوى دى.

﴿ لَا يَمَسُّهُمۡ فِيهَا نَصَبٞ وَمَا هُم مِّنۡهَا بِمُخۡرَجِينَ ﴿٤٨﴾ ﴾ الحجر: ٤٨

هلته به نه دستونځوسره مخ كيږي او نه به دجنت څخه ويستلاى شي.

يعنې په جنت كې به يوازې آرام، خوشحالي او ښه د خوښيو څخه ډك ژوند وي، هلته به هيڅ ډول تكليف، درد، رنځ، كړاو او غم نه وي. دا خو دجنت او جنتيانو مختصر حال شو، اوس د دوزخ او دوزخيانو څه حال د قرآن مجيد څخه واورئ په سورت المومنون كې الله پاك فرمايې:

﴿ وَمَنۡ خَفَّتۡ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فِي جَهَنَّمَ خَٰلِدُونَ ﴿١٠٣﴾ تَلۡفَحُ وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ وَهُمۡ فِيهَا كَٰلِحُونَ ﴾ المؤمنون: ١٠٣ - ١٠٤

اودچاچې تلې سپكې شوې نوځانونه يې تاواني كړل او تل به په جهنم كې پاتې وي، مخونه به يې په اور كې سوزي او تل به چينګ داړي وي.

او د الکهف په سورت کې الله پاک فرمايي:

﴿ إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمۡ سُرَادِقُهَاۚ وَإِن يَسۡتَغِيثُواْ يُغَاثُواْ بِمَآءٖ كَٱلۡمُهۡلِ يَشۡوِي ٱلۡوُجُوهَۚ بِئۡسَ ٱلشَّرَابُ وَسَآءَتۡ مُرۡتَفَقًا ٢٩ ﴾ الكهف: ٢٩

مونږ دتيرې کوونکو لپاره آور تيار کړی دی چې هغوی به په خپلو پردوکې ګير کړي او هلته که د کومک(اوبو) غوښتنه وکړي نو دويلي کړای شوومسو په شان اوبه به ورکړای شي چې مخونه به وريتوي، دا ډير ناوړه څښاک او ډيرناوړه استوګن ځای دی.

اود الحج په سورت کې الله پاک فرمايي:

﴿ فَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ قُطِّعَتۡ لَهُمۡ ثِيَابٞ مِّن نَّارٖ يُصَبُّ مِن فَوۡقِ رُءُوسِهِمُ ٱلۡحَمِيمُ ١٩ يُصۡهَرُ بِهِۦ مَا فِي بُطُونِهِمۡ وَٱلۡجُلُودُ ٢٠ وَلَهُم مَّقَٰمِعُ مِنۡ حَدِيدٖ ٢١ كُلَّمَآ أَرَادُوٓاْ أَن يَخۡرُجُواْ مِنۡهَا مِنۡ غَمٍّ أُعِيدُواْ فِيهَا وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ٢٢ ﴾ الحج: ١٩ - ٢٢

نو څوک چې کافران شوي دي دهغوی لپاره د آور لباس غوڅ شوی دی اود سرونو له پاسه به پرې خوټيدلې اوبه اړولای شي، په دې اوبو به يې په ګيډه کې دننه پراته ټول څيزونه اود بدن بيروني پوستکي هم خوړين او ويلي شي اود هغوی د وهلو لپاره به د اوسپنې ګرزونه وي او چې کله هم د ډير غم له لاسه د دوزخ نه د وتلو هڅه وکړي پکې ورټيل وهل کيږي به او ورته به ويل کيږي چې وڅکئ د سوزونکي عذاب خوند.

او د الدخان په سورت کې الله پاک فرمايي:

﴿ إِنَّ شَجَرَتَ ٱلزَّقُّومِ ٤٣ طَعَامُ ٱلۡأَثِيمِ ٤٤ كَٱلۡمُهۡلِ يَغۡلِي فِي

ٱلۡبُطُونِ ۝٤٥ كَغَلۡيِ ٱلۡحَمِيمِ ۝٤٦ خُذُوهُ فَٱعۡتِلُوهُ إِلَىٰ سَوَآءِ ٱلۡجَحِيمِ ۝٤٧ ثُمَّ صُبُّواْ فَوۡقَ رَأۡسِهِۦ مِنۡ عَذَابِ ٱلۡحَمِيمِ ۝٤٨﴾ الدخان: ٤٣ - ٤٨

بېشکه د زقوم ونه د ګناه ګار خوراک دی،چې دویلي شوو مسو پشان به په خېټو کې خوټېږي، لکه جوش کړای شوي اوبه، وبه ویل شي چې ویې نیسئ او د دوزخ مېنځ ته یې کش کړئ او په سریې د خوټېدلو اوبو عذاب ورواړوئ.

اود ابراهیم په سورت کې ددوزخي انسان په باره کې الله پاک فرمایې:

﴿ مِّن وَرَآئِهِۦ جَهَنَّمُ وَيُسۡقَىٰ مِن مَّآءٖ صَدِيدٖ ۝١٦ يَتَجَرَّعُهُۥ وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُۥ وَيَأۡتِيهِ ٱلۡمَوۡتُ مِن كُلِّ مَكَانٖ وَمَا هُوَ بِمَيِّتٖۖ وَمِن وَرَآئِهِۦ عَذَابٌ غَلِيظٞ ۝١٧﴾ إبراهيم: ١٦ - ١٧

په مخ کې یې جهنم دی چې هلته به د زوو او وینو ډکې اوبه ورڅښل کیږي، هغوی به یې غړپوي خوله ستونې څخه به یې نه تیریږي، له هرلوري به ورته دمرګ مخه وي خو مري به نه او د یو سخت عذاب په لور به ور روان وي.

اود النسآء په سورت کې الله پاک فرمایې:

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا سَوۡفَ نُصۡلِيهِمۡ نَارٗا كُلَّمَا نَضِجَتۡ جُلُودُهُم بَدَّلۡنَٰهُمۡ جُلُودًا غَيۡرَهَا لِيَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمٗا ۝٥٦﴾ النساء: ٥٦

بې شکه هغه کسان چې زمونږ په آیاتونو کافر شوي ډیر ژر به یې آور ته ننه باسو،کله هم چې د هغوی پوستکې و سوځي نو مونږ به یې پوستکي وربدل کړو تر څو عذاب وڅکي، بې شکه چې الله تعالی زورور اود حکمت

ښتن دی.
د قرآن کریم په ډیرو آیتونو کې ددوزخ د درد ناک عذاب ډیر زیات تفصیل بیان شوی دی، دلته مونږ ددغو څو آیتونو په یادولو سره اکتفاء کووو. اوس دجنت او دوزخ په باره کې څو مبارک احادیث هم واورئ.

**((وَلَقَابُ قَوْسِ أَحَدِكُمْ مِنْ الْجَنَّةِ أَوْ مَوْضِعُ قِيدٍ يَعْنِي سَوْطَهُ خَيْرٌ مِنْ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا وَلَوْ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اطَّلَعَتْ إِلَى أَهْلِ الْأَرْضِ لَأَضَاءَتْ مَا بَيْنَهُمَا وَلَمَلَأَتْهُ رِيحًا وَلَنَصِيفُهَا عَلَى رَأْسِهَا خَيْرٌ مِنْ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا))**

**صحيح البخاري - (9 / 362)**

دیوی لیندي (کمان) یادیوې قمچنې ځای ستاسي په جنت کې غوره دی له دنیا اوهغه څه چې په دنیا کې دي، اوکه چیرې دجنت له حوروڅخه یوه حوره دنیا ته راښکاره شي نو دځمکې او اسمان منځ به هم روښانه کړي اوهم به یې له خوشبویي څخه ډک کړي،دحورو دسرپړونې او ځادر له دنیا اوهغه څه چې په کې دي غوره اوقیمتي دی.
په یو حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل،چې الله پاک فرمایي:

**((عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ اللَّهُ أَعْدَدْتُ لِعِبَادِي الصَّالِحِينَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ)) صحيح البخاري - (23 / 17)**

(ما د) خپلو نیکو بنده ګانو لپاره (په جنت کې) هغه (نعمتونه) تیار کړي دي چې نه سترګو لیدلي، نه غوږونو اوریدلي اونه د کوم انسان په زړه کې دهغې خیال تیر شوی دی.
بې له شکه جنت یانو ته چې کوم ډیر خوندور، ښه خواړه او نعمتونه ورکول کیږي، کومې میوې چې دهغوی په برخه کیږي همدارنګه دځکلو لپاره چې څومره ښایسته او

خوندور شیان ورکول کیږي اود اغوستن لپاره چې ښومره ښکلې او اعلی جامې او لباس ورکول کیږی اوپه ښومره لوړو ماڼیو او ښکلو باغونو کې چې به دهغوی هستوګنه وي اود جنت ښومره زیاتې ښکلې او شایسته حورې چې دهغوی په برخه رسیږي او له دې سربیره چې هغوی له کومو بې شمیره خوندونو، راحتونو ، خوشحالیو او ډاډمنتیاوو څخه برخمن کیږي لکه چې په پورتني حدیث شریف کې یې یادونه وشوه. حقیقت دادی چې یواځې الله پاک ته ښه معلوم دی چې پردغو ټولو زمونږ ایمان دی.

په یوحدیث شریف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

**یُنَادِي مُنَادٍ إِنَّ لَكُمْ أَنْ تَصِحُّوا فَلَا تَسْقَمُوا أَبَدًا وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَحْيَوْا فَلَا تَمُوتُوا أَبَدًا وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَشِبُّوا فَلَا تَهْرَمُوا أَبَدًا وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَنْعَمُوا فَلَا تَبْأَسُوا أَبَدًا فَذَلِكَ قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ{ وَنُودُوا أَنْ تِلْكُمْ الْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ } (صحيح مسلم - (476 / 13)**

(کله چې جنتیان جنت ته ورسیږي نو د الله پاک له طرفه به یو آواز کوونکی آواز وکړي چې اوس به تاسې تل ترتله روغ رمټ او صحت مند یاست، هیڅکله به ناروغه نه شی، اوس به تل ترتله اوهمیشه ژوندي یاست، نور ستاسو لپاره مرګ نشته، تاسې به تل ځوانان یاست، هیڅکله به بوډاګان نه شی، اوس به تاسې تل په اسودګی او راحت کې یاست هیڅکله به غمژن نه شی) . ترټولو ستر نعمت چې جنت ته د داخلیدو وروسته به جنتیانو ته په برخه شي هغه به دالله پاک دیدار وي، په حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

**إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ قَالَ يَقُولُ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى تُرِيدُونَ**

**شَيْئًا أَزِيدُكُمْ فَيَقُولُونَ أَلَمْ تُبَيِّضْ وُجُوهَنَا أَلَمْ تُدْخِلْنَا الْجَنَّةَ وَتُنَجِّنَا مِنْ النَّارِ قَالَ فَيَكْشِفُ الْحِجَابَ فَمَا أُعْطُوا شَيْئًا أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنْ النَّظَرِ إِلَى رَبِّهِمْ عَزَّ وَجَلَّ ))صحيح مسلم - (1 / 423)**

کله چې جنتیان جنت ته ورسیږي نوالله پاک به هغوی ته وفرمایې: ایا تاسې دا خوښوی کوم نعمتونه چې تاسې ته درکړای شوي دي له دې څخه زیات نور شیان هم تاسې ته درکړل شي؟ هغوی به ووایي. اي زمونږ ربه! تا زمونږمخونه ښکلي او روښانه کړل، له دوزخ څخه دې نجات راکړ او جنت دې راپه برخه کړ (چې په دې کې ټول نعمتونه شته نو اوس مونږ څه شي وغواړو؟ رسول الله ﷺ فرمایي: بیابه پرده لرې کړای شي اوپه دغه وخت کې به هغوی الله پاک ووینې، نو جنت او ددې له ټولو نعمتونو څخه به ورته دالله پاک د دیدار نعمت تر ټولو زیات خوښ او محبوب وي.

الله پاک دې مونږ ټولو ته دغه ټول نعمتونه اوخپل دیدار په خپل فضل او کرم سره راپه برخه کړي. آمین

په یوحدیث کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ دجنت دخوشحالی او راحت او د دوزخ د کړاوونو او عذابونو یادونه وکړه نوویې فرمایل:

**يُؤْتَى بِأَنْعَمِ أَهْلِ الدُّنْيَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُصْبَغُ فِي النَّارِ صَبْغَةً ثُمَّ يُقَالُ يَا ابْنَ آدَمَ هَلْ رَأَيْتَ خَيْرًا قَطُّ هَلْ مَرَّ بِكَ نَعِيمٌ قَطُّ فَيَقُولُ لَا وَاللَّهِ يَا رَبِّ وَيُؤْتَى بِأَشَدِّ النَّاسِ بُؤْسًا فِي الدُّنْيَا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيُصْبَغُ صَبْغَةً فِي الْجَنَّةِ فَيُقَالُ لَهُ يَا ابْنَ آدَمَ هَلْ رَأَيْتَ بُؤْسًا قَطُّ هَلْ مَرَّ بِكَ شِدَّةٌ قَطُّ فَيَقُولُ لَا وَاللَّهِ يَا رَبِّ مَا مَرَّ بِي بُؤْسٌ قَطُّ وَلَا رَأَيْتُ شِدَّةً قَطُّ (صحيح مسلم - (13 / 411)**

(دقیامت په ورځ به یو داسې انسان راوستل شي چې په دنیا کې به یې ترټولو زیات په عیش، ارام او خوشحالی او شان و

شوکت ژوند تیر کړی وي خو د خپلې بدمرغۍ له امله به هغه د دوزخ وړګرځیدلای وي نو ددوزخ په اور کې به یوه غوټه ورکړای شي،بیا به راو ایستل شي او پوښتنه به ترې وشي چې ایا تاکوم وخت په اسودګۍ او راحت سره ژوند کړی ؤ؟ هغه به ووایې: ای زما ربه! ستاپه ذات مې دې قسم وي ! ما هیڅکله هم هوسا ژوند او راحت نه دی لیدلې.

اویو بل سړی به راوستل شي چې په دنیا کې به یې په ډیرو سختیو او کړاونو کې ژوند تیر کړي وي خو دجنت وړ به ګرځیدلې وي نو هغه ته به په جنت چکروکړل شي اوبیا به راوایستل شي او پوښتنه به ترې وشي چې تاچیرې سختي اوکړاوونه لیدلي وه ؟ هغه به ووایې: نه زما ربه! ستاپه ذات مې دې قسم وي ! ماته هیڅکله هم کومه سختي او کړاو نه دی رسیدلي او نه مې لیدلې دی.

حقیقت دادی چې په جنت کې الله پاک داسې هوسا او ډاډمن ژوند او نعمتونه مومنانو ته تیار کړي دي چې ددنیا په سختو ستونزو او کړاوونو کې ژوند کوونکي انسان به یوه شیبه هم جنت ته درسیدلو وروسته د خپل ټول ژوند کړاونه او ستونزې هیرې کړي، او دوزخ دداسې سترو عذابونو او کړاوونو کور دی چې په دنیا کې د ټول عمر په هو ساینې او راحتونو کې ژوند کوونکي انسان به هم یوه شیبه په دوزخ کې دهغې دبدبویې او ناوړه عذابونو په لیدلو دخپل ټول دیناوي ژوند سوکالۍ، خوښۍ او راحتونه هیر کړي او داسې به وایې چې ما هیڅکله خوشحالي او راحتونه نه دي لیدلې.

د دوزخ دعذابونو دسختیو اندازه یواځې له دې یو مبارک حدیث څخه هم کیدای شي:

رسول الله ﷺ وفرمایل:

**إِنَّ أَهْوَنَ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَرَجُلٌ تُوضَعُ فِي أَخْمَصِ قَدَمَيْهِ جَمْرَتَانِ يَغْلِي مِنْهُمَا دِمَاغُهُ (صحيح مسلم - (1 / 481)**

(په دوزخ کې به تر ټولو کم عذاب هغه انسان ته وي چې دهغه ځپلی به داور وي چې له دې امله به یې مازغه داسې خوټیږي لکه څرنګه چې د نغري دپاسه دیګ ایشیږي)

دوزخیانو ته چې به دخوراک اوڅښاک لپاره څه شی ورکول کیږي نو دهغو یادونه د قرآن مجید په آیتونو کې وړاندې وشوه. په دې لړ کې دوه مبارک احادیث نور هم واورئ: رسول الله ﷺ وفرمایل:

**لَوْ أَنَّ دَلْوًا مِنْ غَسَّاقٍ يُهَرَاقُ فِي الدُّنْيَا لَأَنْتَنَ أَهْلَ الدُّنْيَا (سنن الترمذي - (9 / 155)**

(دوزخیان چې به کومې بدبویه وینې زوې څښي که چیرې له هغه څخه یوه بوکه اوډولچه دنیا ته راواچول شي نو ټوله دنیا به دهغې له بد او ناوړه بوې څخه ډکه شي)

په یوبل حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ دهغه زقوم یادونه وکړه چې د دوزخیانو خوراک به وي نو ویې فرمایل:

**لَوْ أَنَّ قَطْرَةً مِنْ الزَّقُّومِ قُطِرَتْ فِي دَارِ الدُّنْيَا لَأَفْسَدَتْ عَلَى أَهْلِ الدُّنْيَا مَعَايِشَهُمْ فَكَيْفَ بِمَنْ يَكُونُ طَعَامَهُ (سنن الترمذي - (9 / 156)**

(که چیرې دزقوم یو څاڅکې دې دنیا ته را وڅڅیږي نوپه نړۍ کې به په خلکوژوندتریخ اوخراب کړي،نوبیاپه هغه انسان به څه تیریږي چې زقوم یې خوراک وي؟

ای الله! مونږ او ټول مومنان د دوزخ د هرډول عذاب څخه خوندي وساتې. آمین

ورونو! دبرزخ ،قبر، قیامت، جنت او دوزخ په باره کې چې د الله پاک کتاب قرآن مجید او دهغه رسول حضرت محمد صلی الله علیه وسلم مونږ ته کومې لارښوونې کړي دي (چې په تیرو

دوو لوستونو کې يې مونږ يادو نه وکړه) نوپه دې کې ديوې ذرې برابر هم شک او شبهه نشته. په الله قسم چې دغه ټولې خبرې حق او ريښتونې دي اوله مرګه پس به مونږ ټول داحالات دسر په سترګو ووينو.

په قرآن مجيد او احاديثو کې دقيامت، جنت او دوزخ يادونه په دومره تفصيل سره اوپه سلګونو ځله ددې لپاره شوې ده چې مونږ د دوزخ له عذاب څخه د ژغورنې اود جنت وړ ګرځيدلو له کوښښونو او هڅو څخه غافل اوبې پروانه شو.

ورونو! دا ددنيا ژوند دڅو ورځو دی، يوه ورځ به هرومرو مونږ ټول له دې فانې نړی څخه سترګې پټوو او مړه کيږوبه او قيامت په يقين سره راتلونکی دی او مونږ ټول به دحساب ورکولو لپاره هرومرو دخپل پالونکي رب په وړاندې حاضريږو او بيا به له دې څخه وروسته زمونږ تلپاتې هستوګن ځای ياپه جنت کې وي ياپه دوزخ کې. اوس ددې وخت دی چې له تيرو ګناهونو څخه په اخلاص توبه وکړو او دراتلوونکې لپاره خپل ژوند سم کړو، له دوزخ څخه د ژغورلو اود جنت حاصلولو فکر او کوښښ وکړو. که خدای مکړه ژوند همداسې په غفلت اوبې پروايي کې تير شي نو له مرګه پس به ارمان اود دوزخ له عذاب پرته نور هيڅ په لاس رانه شي.

اوولسم څپرکې

# دالله پاک ذکر کول

څرنګه چې داسلام دسپيڅلي دين شوونه او غوښتنه داده بلکې ښايې داسې وويل شي چې په حقيقت کې اسلام ددې نوم دی چې دالله پاک بنده خپل ټول ژوند دالهي احکامو لاندې تير کړي اوپه هر حال او هره معامله کې هغه دالله پاک حکم ته غاړه کيږدي.څرنګه چې داخبره په کامله توګه هغه مهال ترلاسه کيدای شي چې بنده هره شيبه الله پاک ته متوجه وي اود هغه ذات لويوالې، عظمت او محبت دده د زړه په ژورو کې ځای ونيسي.

نو له دې کبله داسلام يوه ځانګړې لارښوونه داده چې بنده ډير زيات دالله پاک ذکر وکړي اود الله په تسبيح (سبحان الله) تقديس (پاکی بيانولو) حمد او ثنا سره دهغه ژبه تل لمده وي، په زړه کې دالله پاک د ستروالي ،عظمت او محبت پيدا کولو دا يوه ځانګړی وسيله او ازمويل شوی نسخه ده، دا يوه فطري خبره ده چې کوم انسان دچاد عظمت او کمال په فکر کې هروخت مشغول وي اود چادجمال او ښکلا صفتونه چې شپه ورځ بيانوي نو دهغه په زړه کې دهغه ذات عظمت او محبت هرومرو پيدا کيږي، پرلپسې پرمختګ او ترقي کوي. په هر حال دا يو حقيقت دی چې دذکر ډيروالې اوکثرت دعشق او مينې څراغ روښانه کوي او ددې شغلې نورې هم تيزوي او زياتوي او دا هم يو حقيقت دی چې دکامل اطاعت او بندګی هغه ژوند چې نوم يې اسلام دی دا يواځې له محبت څخه پيدا کيږي، يواځې محبت هغه شی دی چې ريښتوني محبت کوونکي، دخپل رب کامل اطاعت کوونکي اوغاړه ايښودونکي جوړوي.

عاشقي چيست بګو

بنده‌ء جانان بودن.
عاشقي څه شي دى وواېه ؟ دخپل محبوب مرې اوغلام كېدل.
نوله دې كبله په قرآن مجيدكې دالله پاک د ډيرډير ذكر كولو په زيات ټينګار سره لارښوونه شوې ده او رسول الله صلى الله عليه وسلم هم دذكر ډير زيات ثوابونه، اجرونه او غوره والې بيان كړى دى. د مثال په ډول:
الله پاک فرمايي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ ذِكۡرٗا كَثِيرٗا ﴿٤١﴾ ﴾ الأحزاب: ٤١

اى مومنانو! الله ډير ياد كړئ سهار ماښام يې تسبيح وواېې
او الله پاک فرمايي:

﴿ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿١٠﴾ ﴾ الجمعة: ١٠

او الله ډير يادوئ ترڅو مو برې په برخه شي
په ځانګړې ډول دوه شيان داسې دي چې په هغې كې په مشغوليدو او ورننوتلو يا دهغې په نشه كې په مست كيدو سره انسان خپل رب هيروي چې يو يې مال او شتمني ده او دوهم ښځه او اولادونه دي نو له دې كبله ددغو دواړو شيانو په نوم اخيستلو سره يې په ښكاره توګه مسلمانانو ته خبرداري وركړې او داسې لارښوونه يې كړى.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُلۡهِكُمۡ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُمۡ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِۚ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿٩﴾ ﴾ المنافقون: ٩

اى مومنانو! بايد مالونه اوبچيان مو دالله له ذكر نه غافل نه كړي اوهر څوک چې په دى كار اخته شو نو همدوې پوره زيانمن دي.
په اسلام كې پنځه وخته لمونځونه فرض دي اوبې له شكه دا دالله پاک ذكر دى بلكې د

اعلی درجې ذکر دی خو هیڅکله دکوم مسلمان لپاره دا جایز نه دي چې هغه یواځې دلمانځه ذکر پوره او کافې وګڼې او بهر له لمانځه دالله پاک له ذکر او یادولو څخه بې فکره او غافل واوسي.
بلکي داسلام څرګند او روښانه حکم دادی چې دلمانځه برسیره هم چې په هر حال کې وي باید د الله پاک څخه غافل نه شي.
الله پاک فرمايي:

﴿ فَإِذَا قَضَيْتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ قِيَـٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمْ ۚ فَإِذَا ٱطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ ۚ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتْ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ كِتَـٰبًا مَّوْقُوتًا ﴿١٠٣﴾ ﴾ النساء: ١٠٣

بیا کله چیگ له لمانحگه خگخه وزکگار شئ نوپه ولاۇیگ، ناستیگ او ملاستیگ په هر حالت کشگیگ الله یادوئ او کله چیگ أأأه شئ نو پوره لمونحگ ادا کۇئ لمونحگ په حقیقت کشگیگ یوداسیگ فرض دی چیگ دوخت له پابندة سره پر مؤمنانو لازم کؤای شویدی.

تردي پورې چې کوم وګړي دالله په لاره کې دجهاد لپاره وتلي وي نو هغوی ته په ډیر ټینګار سره حکم شوی دی چې دالله پاک له ذکر او یادولو څخه غافل نه شي بلکې دالله پاک ذکر دې ډیر ډیر کوي. د الانفال په سورت کې الله پاک فرمايي:

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَٱثْبُتُوا۟ وَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٤٥﴾ ﴾ الأنفال: ٤٥

ای مومنانو! کله چې د دښمن له کومې ډلې سره مخ شوئ نو پښې مو کلکې کړئ او الله ډیر یادوئ ښایی چې برې موپه برخه شي
له دې مبارک آیت څخه معلومه شوه اود

پورته یاد شوي ایت څخه هم ( وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ) څرګنده شوه چې دمومنانو بریالیتوب او کامیابي د الله پاک د ډیر ډیر ذکر کولو سره ځانګړی تړاو لري اود المنافقون سورت کوم آیت چې پورته نقل شوی دی نو له هغې څخه هم معلومه شوه چې د الله پاک له ذکر اویاد څخه غافل اوبې پروا خلک بدمرغه اوپه زیان کې لویدلي دي اود الرعد سورت په یو مبارک آیت کې د الله پاک د ذکر یو خاصیت اوځانګړتیا دا بیان شوې چې په دې سره دزړه ډاډ او اطمنان حاصلیږي. الله پاک فرمایې:

أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ ﴿٢٨﴾ الرعد: ٢٨

خبرشئ چې په ذکر د الله سره ډاډمن کیږی زړونه

دقرآن مجید دپورتنیو مبارکو آیاتونو له لیکلو څخه وروسته د رسول الله ﷺ څو مبارک احادیث هم واورئ:

**سُئِلَ أَيُّ الْعِبَادِ أَفْضَلُ دَرَجَةً عِنْدَ اللَّهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ الذَّاكِرُونَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتُ (سنن الترمذي - (11 / 228)**

(د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې دقیامت په ورځ به کوم کسان د الله پاک له بنده ګانوڅخه تر ټولو په اوچتو او هسکو درجوکې وي؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: دالله پاک ذکر کوونکي نارینه او ښځې)

په صحیح بخاري او صحیح مسلم کې روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

**مَثَلُ الَّذِي يَذْكُرُ رَبَّهُ وَالَّذِي لَا يَذْكُرُ رَبَّهُ مَثَلُ الْحَيِّ وَالْمَيِّتِ (صحيح البخاري - (20 / 23)**

(دالله پاک دذکر کونکي او نه ذکر کونکي

مثال د ژوندي او مړي دی) یعني ذکر کونکې ژوندی اونه ذکر کونکې مړ بلکه مردار دی.

له حضرت عبدالله بن عمر τڅخه روایت دی چې رسول الله ﷺ په فرمایل:

**« إن هذه القلوب تصدأ ، كما يصدأ الحديد إذا أصابه الماء »**
**قيل : يا رسول الله ، وما جلاؤها ؟ قال : « كثرة ذكر الموت وتلاوة القرآن ((شعب الإيمان للبيهقي - (5 / 26)»**

دازړونه زنګ نیسي لکه څرنګه چې اوسپنې ته اوبه ورسیږي نوزنګ نیسي، وویل شول ! یارسول الله ! ددې صفایي په څه کیږي ؟ هغه وفرمایل: دمرګ زیات یادول او دقرآن مجید تلاوت ( ذکر) .

**((مَا عَمِلَ ابْنُ آدَمَ مِنْ عَمَلٍ أَنْجَى لَهُ مِنْ عَذَابِ اللَّهِ مِنْ ذِكْرِ اللَّهِ**
**موطأ مالك - (2 / 141)**

او د الله پاک له عذاب څخه په ژغورلو کې دالله پاک له ذکر څخه بل زیات اغیزناک شی نشته .

## دذکر حقیقت:

دلته په دې خبره ځان په ښه توګه پوهول پکار دي چې دذکر اصل حقیقت دادی چې انسان د الله پاک څخه غافل نه شي چې په کوم حال او څه مشغولتیا کې بوخت وي نو د الله پاک او دده احکامو ته متوجه وي، د هغه لپاره سره له دې چې دا اړین نه دي چې هر وخت او په هر حال کې په ژبه هم ذکر وکړي خو دا یو واقعیت دی، دالله پاک دکومو بنده ګانو چې دا حال وي نو دهغوی ژبې هم د الله پاک په ذکر سره لمدې وي او دا حال (چې هر وخت د الله پاک اودده د حکمونو طرف ته متوجه وي او هیڅ غفلت ونه کړي) په عمومي توګه د الله پاک دهغو بنده ګانو وي چې پر ژبې دډیر ډیر ذکر کولو په وسیله په خپل زړه او مغزو کې

دیـاد اوتـوجه مستقل کـیفیت پـیدا کـول غواړي، پـه الله الله ویلـــو سـره خپـل د زړه اړیکـې ښـې ټـینګوي نـو لـه دې امله لـسانـي ذکـر (یـعنې پـر ژبـه د ذکـر ډیـر ډیـر کـول پـه هـر حـال اړیـن دي) . ددې عصراوزمـانـې ځینې لـیک لـوستي وګړي پـه نـاسم فـهم کـې شکـیل دي چې هغوی پـه کـثـرت سره د الله پـاک ذکـر کـول پـر ژبـه ګـټور عمل نـه ګـڼي. حال دا چـې د رسـول الله ﷺپـه مبـارکـو احادیـثـو کـې پـه ځرګـنده ددې حکـم مـوجـود دی او نـبـي کـریـم ﷺددې ډیـر فـضیلـتونـه بـیان کـړي دي.

لـه حضرت عبدالله بـن بـسر τ څخـه روایـت دی واي چې (یـوسړی دنـبـي کـریـم ﷺ پـه خـدمت کـې حـاضر شو او عرض یـې وکـړ: ای د الله رسـولـه! داسـلام احکـام ډیـر دي مـاتـه دداسې څیـز لارښوونـه وکـړئ چې پـه کـلکه یـې ونـیـسم، نـبـي کـریـم ﷺ ورتـه وفـرمـایـل:

**(( لَا يَزَالُ لِسَانُكَ رَطْبًا بِذِكْرِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ )) مسند أحمد - (36 / 99)**

ستـا ژبـه دې تـل دالله عزوجل پـه ذکـر لـمده وي.

پـه یـو قـدسي حدیـث شریـف کـې راغلي دي چې لـه حضرت ابـو هریـره τ څخه روایـت شوی دی، الله پـاک فـرمـایـي:

**(( وَأَنَـا مَعَـهُ إِذَا ذَكَرَنِـي )) ((صـحيح البخـاري - (22 / 409)**

(کـله چې بـنده مـا یـادوي او زمـا ذکـر کـوي نـو زه د هغه سره یـم).

# درسول الله صلی الله علیه وسلم ښودلي ځانګړي ذکرونه اواذکار

کـوم مبـارک آیـتونـه او احادیـث چې تـر دې

ځایه ذکر شول نو له هغو څخه دالله پاک د ذکر اهمیت او غوره والې معلوم شو او پورته یادونه وشوه چې د الله پاک په زیات ذکر کولو سره د الله پاک سره محبت پیدا او زیاتیږي، اوس مونږ ته ښایي چې د رسول الله ﷺ خوښ او ښودلې ځانګړې کلمې او ذکرونه وپیژنو:

## تر ټولو غوره ذکر (افضل الذکر):

له حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

**جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَفْضَلُ الذِّكْرِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ (سنن الترمذي - (239 / 11)**

(په ټولو ذکرونو کې غوره د (لا اله الا الله) ذکر دی.

په یو بل حدیث شریف کې دي چې له حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت شوی دی وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا قَالَ عَبْدٌ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ قَطُّ مُخْلِصًا إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ حَتَّى تُفْضِيَ إِلَى الْعَرْشِ مَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ (سنن الترمذي - (12 / 15)**

کله چې کوم بنده په کامل اخلاص سره لا اله الا الله ووایې نو ددې کلمې دپاره د آسمانونو دروازې برسیره کیږي تردې چې دا راسًا عرش ته رسیږي، په دې شرط چې دغه بنده له غټو اوکبیره ګناهونو څخه ځان وساتي.

په یو حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**قَالَ مُوسَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : يَا رَبِّ عَلِّمْنِي شَيْئًا أَذْكُرُكَ بِهِ ، أَوْ أَدْعُوكَ بِهِ ، فَقَالَ : يَا مُوسَى ، قُلْ : لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ ، فَقَالَ : يَا رَبِّ ، كُلُّ عِبَادِكَ يَقُولُ هَذَا ، إِنَّمَا أُرِيدُ شَيْئًا تَخُصُّنِي بِهِ ،**

**قَالَ : يَا مُوسَى لَوْ أَنَّ السَّمَوَاتِ السَّبْعَ وَالأَرَضِينَ السَّبْعَ وُضِعْنَ فِي كِفَّةٍ ، وَلا إِلَـهَ إِلا اللَّهُ فِي كِفَّةٍ ، لَمَالَتْ بِهِنَّ لا إِلَـهَ إِلا اللَّهُ " ((شرح السنة (احاديث فقط) - (1 / 313)**

(يوځل موسى اللهu پاک ته عرض وکړ چې ماته داسې کلمه راوښايه چې په هغې ستا ذکراودعا کوم، الله پاک ورته وفرمايل: له طرفه ځواب ورکړل شو چې د لااله الاالله په وسيله زما ذکر کوه، حضرت موسى عليه السلام عرض وکړ چې دا ذکر خو ستاټول بندګان کوي، زه د کومې ځانګړي کلمې غوښتنه کوم،نوالله پاک وفرمايل: اى موسى! که چيرې اووه آسمانونه او اووه زمکې د تلې په يوه پله کې کيښودل شي او لااله الاالله دتلې په بله پله کې نو د لااله الاالله پله به پرې درنه شي).

په حقيقت کې لااله الاالله ډيره ستره او عظيمه کلمه ده خو خلک دا يواځې يوه ساده او اسانه کلمه ګڼي. دې عاجز (مؤلف) دالله پاک له يوه مخلص او ريښتوني بنده څخه اوريدلي دي چې په يوخاص حالت کې دى ناچيز (مؤلف) ته مخاطب شو او راته يې وويل: (که چيرې دکوم انسان سره ددنيا ډيرې خزانې وي ماته دا ووايي چې دا ټولې خزانې ته واخله او ددې په بدل کې ستا يو ځل د لااله الاالله ذکر ماته راکړه، نو الحمدلله دافقير به په دې باندې راضي اوخوښ نه شي. کوم ناخبره شايي داد مبالغې څخه ډکه دعوى وګڼي خو ريښتوني خبره دا ده دالله پاک په وړاندې چې لااله الا الله کوم قدر، عظمت او ارزښت لري هغه ډير زيات دى. که چيرې الله پاک خپل بنده ته ددې ريښتوني يقين په برخه کړي نو د هغه به دغه حال وي چې دټولې نړى دخزانو په بدل کې به ديو ځل لااله الاالله د ويلو په ورکولو هيڅکله راضي او خوښ نه وي.

کلمه تمجید یا دریمه کلمه:

**عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَبُّ الْكَلَامِ إِلَى اللَّهِ أَرْبَعٌ سُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ (صحيح مسلم - (11 / 77)**

له حضرت سمره بن جندب رضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (په ټولو کلمو او خبرو کې غوره او افضل دا څلور کلمې دي: (سبحان الله والحمدلله و لااله الا الله و الله اکبر.

او د حضرت ابوهریره رضی الله عنه په روایت کې دي وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**سُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ صحيح مسلم - (13 / 205)**

(دا کلمات: **سبحان الله، والحمدلله، ولااله الاالله والله اکبر)** ماته له ټولوهغوشیانو څخه زیات خوښ او محبوب دي چې لمر پرې راخیژي.

په حقیقت کې دا کلمه ډیره هر اړخیزه اوجامع کلمه ده اود الله پاک د ثنا، ستاینې او صفت ټول اړخونه په دې کې داخل دي. په ځینو روایتونو کې د **(الله اکبر)** څخه وروسته **(لاحول ولاقوة الابالله)** هم راغلی دی. زمونږ یو استاذاومرشد به ددې کلمې مختصره تشریح داسې کوله: چې**(سبحان الله)** الله تعالی له هر عیب او نقصان څخه پاک دی اوله هغو ټولو شیانو څخه (منزه) دی چې د هغه دشان مناسب نه دي. **(الحمدلله)** ټولې ښیګڼې اود کمال ټول صفتونه په هغه کې موجود دي نو ځکه ټولې ستاینې یواځې د هغه لپاره دي **(الحمدلله)** څرنګه چې د هغه دا شان دی چې له هرې نامناسبې خبرې څخه پاک او منزه دی اوټولې ستاینې، ښیګڼې او کمالات په هغه کې موجود دي نو یواځې همغه

ذات دعبادت وړ،معبود او مطلوب دی.
**(لااله الاالله)** مونږ یواځې او ایکې یواځې دهغه عاجز او کمزوري بنده ګان یو او د هغه ذات ډیر لوی دی **(الله اکبر)** مونږ په هیڅ ډول دهغه دبندګۍ حق نه شو ادا کولای اود هغه لوړ او اوچت دربار ته نه شو رسیدلای خو داچې هغه زموږ سره مرسته او کومک وکړي **(لاحول ولاقوة الابالله)**.

## دبي بي فاطمې رضی الله عنها تسبیحات:

**سَأَدُلُّكُنَّ عَلَى مَا هُوَ خَيْرٌ لَكُنَّ مِنْ ذَلِكَ تُكَبِّرْنَ اللَّهَ عَلَى إِثْرِ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ تَكْبِيرَةً وَثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ تَسْبِيحَةً وَثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ تَحْمِيدَةً وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ** **(سنن أبي داود - 8 / 219)**

مشهور حدیث دی چې بي بي فاطمې رضی الله عنها به خپل دکور ټول کار پخپله کاوه تردې چې پخپله به یې آوبه راوړلې او پخپله به یې میچن کوله. یوځل هغې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړ چې ددغو کارونو لپاره ورته کوم خادم ورکړي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغې ته وفرمایل (( زه تاته له خادم څخه ښه او غوره څیز ونه ښایم ؟ هغه دادی: چې ته دهر لمانځه نه وروسته او دویده کیدو پروخت ۳۳ ځله سبحان الله ۳۳ ځله الحمدلله او ۳۳ ځله الله اکبر وایه اوپه اخرکې داووایه : **(لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ)** داستا لپاره له خادم څخه په ډیرو درجو غوره اوبهتر دی)).

په یو بل حدیث شریف کې ددغو کلمو فضیلت،غوره والې او خاصیت دا بیان شوی دی:

**((مَنْ سَبَّحَ اللَّهَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ وَحَمِدَ اللَّهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ وَكَبَّرَ اللَّهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ فَتْلِكَ تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ وَقَالَ تَمَامَ الْمِائَةِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ غُفِرَتْ خَطَايَاهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ))**
**((صحيح مسلم - (3 / 262)**

(څوک چې دهر لمانځه څخه وروسته ٣٣ ځله سبحان الله ٣٣ ځله الحمدلله او ٣٤ ځله الله اکبر وايي اوپه آخر کې يوځل داکلمه ووايي:( **لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ)** تول ګناهونه به يې وبښل شي که څه هم دسمندر دځګ په اندازه وي.

## سبحان الله وبحمده

له حضرت ابوهريره رضى الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

**مَنْ قَالَ سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ حُطَّتْ خَطَايَاهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ ((صحيح البخاري - (20 / 20)**

(څوک چې سهاراو ماښام ١٠٠ ځله **(سبحان الله وبحمده)** ووايي نودهغه ګناهونه به محوه شي که دبحردځګ په اندازه هم وي.

اود حضرت ابو هريره رضى الله عنه په يوبل روايت کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

**كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ ((صحيح البخاري - (21 / 20)**

(دوه کلمې دي پرژبه ډيرې اسانې، دميزان په تله کې ډيرې درنې او رحمن ذات ته ډيرې خوښې دي چې هغه **(سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم)** دي.

سره له دې چې له رسول الله ﷺ څخه دالله پاک

دذکر په باره کې نور هم ډير الفاظ او کلمات روايت شوي دي خو مونږ چې ددغو څوکلمو پورته يادونه وکړه که چيرې دالله پاک کوم بنده ددغو يا له دغو کلمو څخه ځينې خپل ورد او ذکر وګرځوي نو پوره اوکافي دي. دذکر په لړ کې يوه بله خبره هم په ځانګړي ډول ډيادولو وړ ده او هغه داچې ترکومه پورې چې د آخرت د اجر او ثواب تړاو دی نو ددې لپاره کومه ځانګړې قاعده او قانون نشته، د الله پاک کوم بنده چې دذکر کومه کلمه هم په اخلاص او د ثواب په نيت سره په کوم وخت اوکوم مقدار ولولي نو انشاءالله هغه به ددې دپوره اجر او ثواب څخه برخمن کيږي.

خو ښاغليو مشايخو په زړه کې ديو ځانګړي کيفيت پيدا کولو دپاره، دمثال په توګه دالله پاک دمحبت دزياتولو لپاره يا په زړه کې دحاضريدو اوبيدارۍ د کيفيت پيداکولو دپاره ياد کوم ځانګړي روحاني اوقلبي رنځ دعلاج او درملنې لپاره په ځانګړيو طريقو د کوم ذکر ښوونه کوي نوپه هغې کې دښودلې شمېر او طريقې پابندي کول اړين دي چې ښوونه يې ورته کړي وي ځکه دکوم مقصد او موخې لپاره چې هغه ذکر کيږي هغه په دغه طريقه لاس ته راتلای شي. ددې يو مثال داد‌ی که چيرې کوم انسان يواځې داجر او ثواب لاسته راوړلو دپاره د الحمد شريف يا د قرآن شريف د کوم سورت تلاوت وکړي نو په دې کې کوم حرج نشته چې يوځل دسهار مهال ددې تلاوت وکړي يو ځل دغرمې او يوځل ماسپښين اويو ځل ماښام اوپه همدې ډول درې څلور ځله دشپې مهال خو که چيرې هغه ددغه سورت يادول (حفظ کول) غواړي نو هغه به پرلپسې شل شل ځله پرته له ځنډه په يو ځل ناستې

کې لولي له دې پرته يې هغه نشې زده کولای نو توپير يواځې همدومره دی، په هغه عمومي ذکر کې چې يواځې داجر او ثواب لپاره کيږي اوپه خاص ذکر کې چې مشايخ يې دتصوف دلارويانو (اهل سلوک) لپاره دعلاج او تدبير په ډول ورانديز کوي. ډير وګړي دذکر ددغو ډولونو ترمنځ دتوپير په هکله دمعلوماتو دنه درلودلو په اړه دعلمي اوفقهي ستونځو سره مخامخ کيږي ځکه (ددغه لنډې خبرې دلته يادونه وشوه.).

## دقرآن مجيد تلاوت:

دقرآن مجيد تلاوت هم دالله پاک ذکر دی بلکه د ډير اعلی او د اوچتې درجې ذکر دی، په يو حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**وَفَضْلُ كَلَامِ اللَّهِ عَلَى سَائِرِ الْكَلَامِ كَفَضْلِ اللَّهِ عَلَى خَلْقِهِ**
**(سنن الترمذي - (10 / 169)**

(دالله پاک دکلام غوره والی دنورو کلامونو په مقابله کې داسې دی لکه د الله پاک فضليت او غوره والی دهغه پر مخلوق).

په يو بل حديث شريف کې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللَّهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا لَا أَقُولُ الم حَرْفٌ وَلَكِنْ أَلِفٌ حَرْفٌ وَلَامٌ حَرْفٌ وَمِيمٌ حَرْفٌ**
**(سنن الترمذي - (10 / 153)**

(څوک چې دالله تعالی دکتاب يو توری (حرف) ولولي نو دهغه لپاره يوه نيکي ده او ددې يوې نيکۍ اجراوثواب دلسو نيکيو برابر دی، بيايې وفرمايل: زه دانه وايم چې (الم) يو حرف دی بلکه الف يو حرف لام بل حرف او ميم بل حرف دی).

په يوبل ځای کې رسول الله صلی الله عليه وسلم

وفرمایل:
**وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللَّهِ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمْ السَّكِينَةُ وَغَشِيَتْهُمْ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمْ الْمَلَائِكَةُ وَذَكَرَهُمْ اللَّهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ**
**(صحيح مسلم - (13 / 212)**

((کله چې يوقوم اوډله دالله پاک په کوم کور کې راجمع شي او دالله پاک دکتاب تلاوت او تدريس کوي نوپه هغوی ډاډاوسکينه نازليږي،رحمت هغوی رانغاړي اودرحمت پرښتې له هغوی څخه راتاويږي،او الله پاک هغوی په خپل مجلس کې يادوي))

دنن سبا دځينو نويو تعليم يافته وګړو دا خيال دی او هغوی په ډيره بې باکی او زور سره ددې خپراوي کوي چې د قرآن مجيد په معنی او مفهوم د پوهيدو پرته تلاوت کول څه ګټه نه لري، دغو خوارانو ښايي داسې انګيرلې وي چې څرنګه دقانون يا اخلاقو نور کتابونه دي نو قرآن مجيد هم ددې په څېر کوم کتاب دی اوڅنګه چې دقانون يا اخلاقو د کوم کتاب لوستل پرته له معنی پوهيدلو بې ګټې دي نو په همدې ډول دغه وګړي د قرآن مجيد تلاوت پرته د معنی پوهيدلو بې ګټې ګڼي حال دا چې قرآن مجيد د نورو ټولو کتابونو څخه توپير لري، دالله پاک ددې سپيڅلي کتاب ځانګړتيا داده چې دا دالله پاک کتاب دی نو له دې کبله په ادب او عظمت سره يواځې ددې تلاوت هم دالله سره دمحبت او بندګی د اړيکودټرګندولو يو عمل دی نو دا پخپله يو مستقل عبادت دی.که چيرې دقرآن مجيد دتلاوت مقصد يواځې پوهيدل وای نو په يو لمونځ کې به څلور ځله د سورت فاتحې دلوستلو حکم نه وای شوی ځکه په معنی او مطلب د پوهيدو لپاره خو يوځل تلاوت کول

پوره وي. ددغه ډول تيروتنو سره يواځې هغه وګړي مخ کيږي چې الله پاک ددنيا د حاکمانو په څير يواځې يو حاکم ګڼې اود الله پاک له مقام سره ناشنا دي يا داسې وګړنۍ کومو وګړو چې يواځې په دماغو سره الله پاک پيژندلې او منلې دی او په زړه سره منل تر اوسه پورې دهغوی نه دي په برخه شوي. ددې سره ښايي دې لورته هم کلکه توجه وشي چې دقرآن کريم کوم اصل مقصد (هدايت اونصيحت) دی نو داله پوهې او پوهيدلو سره تړلې دی نوځکه په دې باندې پوهيدل،په تفکر او تدبر سره يې تلاوت کول د نيکمرغۍ لوړه درجه او اوچت مقام دی، همدا په دې مسله کې داعتدال تګې او حق خبره ده. **(وَلکن اکثرالناس لايعلمون).**

## د ذکر په اړه څو وروستی خبرې

١- په ډير ذکر کولو سره چې الله پاک د کومو بنده ګانو په زړونو کې پوخ ځای نيولې دی اود هغوی د ژوند برخه ګرځيدلې نو هغوی ته د ذکر لپاره د کومې ځانګړې پابندۍ او اهتمام اړتيا نشته،خو که چيرې زمونږ په څېر عام وګړي د ذکر په وسيله د الله پاک سره خپلې اړيکې ټينګول او د ذکر له برکتونو او ښيګڼو څخه برخمن کيدل غواړي نو بيا دا اړين دي چې د خپلو حالاتو په لحاظ سره د ذکر شمير او ددې لپاره وخت مقرر کړي او غوره داده چې د ذکر د کلماتو په ټاکلو کې د کوم ذکر کوونکي څخه مشوره يا د پورته يادو شويو کلماتو څخه د خپل ذکر کولو لپاره اندازه وټاکي همدارنګه د

قرآن مجيد د تلاوت لپاره هم وخت مقرر کړي.
٢- تر څو پورې چې امکان لري نو د کومې کلمې په واسطه چې د الله پاک ذکر کوئ نو معنی ته يې هم په غور او دقت سره توجه کوئ او د الله پاک د عظمت او محبت د شعور او احساس سره ذکر وکړئ او په دې يقين او باور وساتئ چې الله پاک زما سره دی او زما هر لفظ اوري.
٣- د ذکر لپاره اودس شرط نه دی نو ځکه د اودس نه لرلو په حالت کې هم ذکر کولا ی شئ ، انشاء الله تعالی د کوم اجر او ثواب وعده چې شوې ده هغه به درته پوره پوره درکول کيږي خو له اوداسه سره د ذکر تاثير او نورانيت ډير زياتيږي.
٤- پورته يادونه وشوه چې د ذکر په ټولو کلماتو کې کلمهٔ تمجيد (سبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله اکبر) ډيره بشپړه کلمه ده، که چيرې دا خپل ذکر او ورد وګرځوئ نو په دې کې هرڅه شته او مونږ خپل زياتره مشران ليدلي دي چې هغوی پوهانواوذده کوونکوته دپرلپسې ذکر او ورد لپاره همدا کلمه او ددې سره د استغفار او درود شريف ښوونه کوله چې ددې بيان د راتلونکي لوست څخه وروسته راځي. الله پاک دې مونږ ټولو ته توفيق راکړي چې د هغه په ذکر سره زمونږ زړونه ودان او ژبې لمدې وي او ددې انوار، اغيزې، برکتونه او ګټې مو په برخه شي.
زمونږ بوختيا دې ټوله شپه د خپل محبوب په ياد ژړيدل وي او زمونږ خوب دې د خپل محبوب په خيال او فکر کې قربان شي.

# اتلسم ثپرکې

## دُعا

هرکله چې دا خبره یقیني،باوري او منل شوې ده چې د دنیا ټول نظام د الله په حکم سره چلیږي او هرثه د هغه په لاس او واک کې دي نو په هرې کوچنۍ او لویه اړتیا کې الله پاک ته سوال کول او دعا غوښتل په کامل ډول فطري خبره ده. نو له دې کبله د هر مذهب پیروان په خپلو اړتیاوو او ضرورتونو کې د الله پاک ثخه دعا غواړي خو اسلام په ځانګړي توګه او خاص ډول ددې لارښوونه او په دې یې ټینګار کړی دی. الله پاک فرمایي:

(﴿ وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ ﴿٦٠﴾ ﴾ غافر: ٦٠
او ستاسي رب فرمايي: ما وبلئ زه به مو غوښتنې ومنم

﴿ قُلۡ مَا يَعۡبَؤُاْ بِكُمۡ رَبِّي لَوۡلَا دُعَآؤُكُمۡۖ ﴿٧٧﴾ ﴾ الفرقان: ٧٧
ووايه! که ستاسې دعاء او عبادت نه وای نو زما رب ستاسې پروا نه لري.
بيا پر دعا د حکم کولو سربيره دا ډاډ هم ورکړای شوی دی چې:

﴿ وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌۖ أُجِيبُ دَعۡوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِۖ ﴿١٨٦﴾ ﴾ البقرة: ١٨٦

کله چې بندګان زماپه هکله پوښتنه وکړي نوورته ووايه چې الله پاک خپلو بنده ګانو ته ډير نژدې دی او د هغوی دعاګانې اوري او قبلوي يې .
او رسول الله ﷺ مونږ ته دا لارښوونه هم کړې ده چې په خپلو اړتياوو کې د الله پاک څخه غوښتل او دعا کول د اعلى اولوړې درجې عبادت دی بلکې د عبادت روح او ددې مغز دی لکه چې په حديث شريف کې راغلي دي چې:

**عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ**
**((سنن الترمذي - (11 / 220)**

دعا د عبادت مغز او جوهر دی.

**عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ**
**((سنن أبي داود - (4 / 278)**

**دادعاخپله عبادت دی.**

په يوبل حديث کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

**لَيْسَ شَيْءٌ أَكْرَمَ عَلَى اللَّهِ تَعَالَى مِنْ الدُّعَاءِ ((سنن الترمذي - (11 / 218)**

(د الله پاک په وړاندې له دعا څخه زيات بل کوم څيزمکرم اومعزز نشته) . او له همدې

کېله دي چې الله پاک له هغه انسان څخه خفه کيږي چې خپلې اړتياوې له هغه څخه نه غواړي.
لکه چې په يو حديث کې راغلي دي.
**مَنْ لَمْ يَسْأَلْ اللَّهَ يَغْضَبْ عَلَيْهِ ((سنن الترمذي - (11 / 223)**
**ځوک چې له الله پاک څخه سوال اوغوښتنه نه کوي هغه پرې په غضب کيږي.**
يعنې الله تعالى له هغه انسان څخه ناراضه کيږي چې خپلې اړتياوې او حاجتونه له هغه څخه نه غواړي.
سبحان الله! که چيرې په دنيا کې کوم انسان د خپل نژدې او خوږ دوست يا خپل نژدې خپلوان څخه پرلپسې د خپلو اړتياوو په اړه سوال وکړي نو هغه ورڅخه تنګيږي او خفه کيږي خو الله پاک پرخپلو بنده ګانو دومره مهربان دی چې په سوال او دعا نه کولو خفه او ناراض کيږي.
په يوبل حديث شريف کې راغلي دي:
**مَنْ فُتِحَ لَهُ مِنْكُمْ بَابُ الدُّعَاءِ فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الرَّحْمَةِ ((سنن الترمذي - (11 / 459)**
(کوم انسان ته چې د دعا دروازې پرانستل شوې (يعنې د الله پاک له طرفه چې چاته د دعاکولو توفيق ورکړای شي او اصلي دعا کول يې په برخه شي) نو د هغه لپاره د الله پاک د رحمت دروازې پرانستل شوې).په هر حال د کومې اړتيا،موخې اومقصد لپاره الله پاک ته دعا کول دپورته اولوړې درجې يو عبادت هم دی چې الله پاک پرې ډير راضي او خوشحاليږي او له دې امله د رحمت دروازې ورته برسيره کيږي.
دا حيثيت او مقام د هرې دعا دی که د هر ديني مقصد يا دنياوي اړتيا لپاره وکړای شي خو شرط دا دی چې د کوم بد او ناروا کار لپاره نه وي، د ناروا کار

لپاره دعا کول هم ناروا او ګناه ده. دلته یوه خبره د یادولو وړ ده چې هر څومره دعا د زړه له تل او ژورو څخه او د خپل ځان عاجز، کمزوری او ناتوانه ګڼلو او د الله پاک په قدرت او رحمت د څومره باور او یقین سره وکړای شي نو په هماغه اندازه به د هغې د قبولتیا هیله او امید زیات وي، کومه دعا چې د زړه له تل څخه ونه کړای شي بلکې یواځې په رسمي توګه په ژبې سره وشي نو هغه په اصل کې دعا نه وي. په حدیث شریف کې راغلي دي چې:

**ادْعُوا اللَّهَ وَأَنْتُمْ مُوقِنُونَ بِالْإِجَابَةِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَجِيبُ دُعَاءً مِنْ قَلْبٍ غَافِلٍ** ((سنن الترمذي - (383 / 11)

تاسې الله پاک ته داسې دعاکوئ چې دقبولتیایقین درسره وي ځکه الله پاک هغه دعا نه قبلوي چې په غافل زړه سره وکړای شي. سره له دې چې الله پاک د هر وخت دعا اوري خو له احادیثو څخه معلومیږي چې په ځینو خاصو او ځانګړیو وختونو کې دعا ډیره قبلیږي. د مثال په ډول د فرض لمونځونو څخه وروسته او د شپې په وروستۍ برخه کې یا د روژه ماتي پر وخت یا د کوم نیک کار د سرته رسولو څخه وروسته یا د سفر په حالت کې، په ځانګړی توګه چې سفر د دین لپاره او د الله پاک د رضا په خاطر وي، دا خبره هم یاد لرل پکار ده چې د دعا د قبولتیا لپاره د انسان ولي کیدل یا متقي اوپرهیزګاره کیدل شرط نه دي. سره له دې چې په دې کې هیڅ شک او شبهه نشته چې د الله پاک د نیکانو او پرهیزګارو بنده ګانو دعاګانې زیاتې قبلیږي.

خو دا سمه نه ده چې وویل شي دعامو وګړو او ګناهګارو په دعا هیڅ نه کیږي، رحیم او کریم خدای چې څه ډول ګناهګارو ته خوراک

څښاک ورکوي نو په همدې توګه د هغوی دعا ګانې هم اوري، نو ښايي چې ټول د الله پاک څخه دعا وغواړي. مخکې يادونه وشوه چې دعا ځانګړې او مستقل عبادت هم دی، نو له دې کبله به دعا کونکې ته په هر حال اجر او ثواب ورکول کيږي او که چېرې په ځوځله دعا کولو سره مقصد حاصل نه شي نو بيا هم نهيلي کيدل او دعا پريښودل پکار نه دي، الله پاک زمونږ د غوښتنو پابند نه دی کله کله د هغه د حکمت دا غوښتنه وي چې دعا وروسته قبوله شي او د بنده ښيګڼه هم په دې کې وي خو انسان د خپلې ناپوهی له امله په دې نه پوهيږي نو ځکه بيړه او جلتي کوي او په نهيلي کيدو سره دعا کول پريږدي. لنډه دا چې بنده ته ښايي چې د خپلو اړتياوو او مقصدونو د پوره کولو لپاره پرلپسې دعاګانې وکړي معلومه نه ده چې الله پاک يې په کومه ورځ او کومه شپه کې قبلوي. رسول الله (ص) د دعا په باره کې يوه لارښوونه دا هم کړې ده چې:

**مَا مِنْ رَجُلٍ يَدْعُو اللَّهَ بِدُعَاءٍ إِلَّا اسْتُجِيبَ لَهُ فَإِمَّا أَنْ يُعَجَّلَ لَهُ فِي الدُّنْيَا وَإِمَّا أَنْ يُدَّخَرَ لَهُ فِي الْآخِرَةِ وَإِمَّا أَنْ يُكَفَّرَ عَنْهُ مِنْ ذُنُوبِهِ بِقَدْرِ مَا دَعَا مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ أَوْ يَسْتَعْجِلْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ وَكَيْفَ يَسْتَعْجِلُ قَالَ يَقُولُ دَعَوْتُ رَبِّي فَمَا اسْتَجَابَ لِي**
**((سنن الترمذي - (12 / 40)**

(دعا هيڅکله هم نه ضايع کيږي، کله داسې هم کيږي چې الله پاک يو بنده ته دغه څيز ورکول غوره نه ګڼي نو ځکه دغه په لاس نه ورځي خو ددې پرځای کوم بل نعمت هغه ته ورکوي يا کوم راتلونکې مصيبت او بلا له هغه څخه دفع کوي يا دغه دعا د هغه دګناهونو کفاره ګرځوي (خو څرنګه چې بنده له دغه رازاوحکمت څخه خبر نه وي نو ځکه

هغه داسې انګيري چې زما دعا بيکاره شوه) او کله داسې هم کيږي چې الله پاک د خپل بنده لپاره دعا د آخرت توښه او ذخيره ګرځوي يعنې بنده چې د کوم مقصد لپاره دعا کوي الله پاک يې په دې دنيا کې نه ورکوي خو د هغه ددغې دعا په بدله کې د آخرت ډير لوی اجر او ثواب د هغه لپاره ليکل کيږي).

ځينې خلک چې ډيرې دعاګانې يې په دنيا کې نه قبليږي کله چې په آخرت کې د خپلو دعاګانو په بدل کې د ثوابونو او نعمتونو ذخيرې (پانګې او توښې) ووينې نو په ارمان سره به ووايې چې کاشکې! په دنيا کې زمونږ يوه دعا هم نه وای قبوله شوی، او د ټولو بدله مونږ ته دلته راکړی شوی وای. په هر حال په الله پاک باندې ايمان لرونکي هر بنده ته ښايي چې د الله په قدرت او مهربانی په پوره باور او يقين د کامل اميد او توکل سره د خپلې هرې اړتيا د پاره د الله پاک څخه دعا وغواړي او په دې باندې دې پوخ يقين او باور ولري چې دعا هيڅکله نه ضايع کيږي، تر کومه پورې چې امکان لري دعا په داسې ښو او غوره الفاظو سره کول پکار دي چې د خپل ځان عاجزي، کمزوري، بې چاره ګی او د الله پاک عظمت او لويوالې ترې ښکاره او څرګند وي. قرآن مجيد مونږ ته د ډيرو دعاګانو لارښوونه کړې ده او له دې برسيره په مبارکو احاديثو کې هم د رسول الله (ص) په سلګونو دعاګانې راغلي دي. تر ټولو غوره د قرآن پاک او احاديثو دعاګانې دي، له دغو دعاګانو څخه ځلويښت ځانګړې او جامع دعاګانې ددې کتاب په آخر کې هم ليکل شوي دي.

نولسم څپرکی

# درود شریف

درود شریف هم په اصل کې یوه دعا ده چې مونږ بنده ګان یې د رسول اللهﷺ په حق کې د الله پاک څخه غواړو. دا واقعیت دی چې د الله پاک څخه وروسته پرمونږ تر ټولو زیات احسان او لورینه د رسول اللهﷺ نبي کریمﷺ د ډیرو سختو کړاوونو په زغملو سره د الله پاک دین او لارښوونې مونږ بنده ګانو ته را رسولې دي، که هغوی د الله په لاره کې دغه ستونځې او کړاوونه نه وای زغملي نو د دین رڼا به مونږ ته نه وای رارسیدلي او موږ به د کفر او شرک په تږږمیو کې ښکیل پاتې شوي وای او له مرګه پس به د تل لپاره دوزخ ته تللي وای! لنډه دا چې د دین او ایمان

دولت ددې نړۍ ترټولو زيات لوی نعمت دی او دا مونږ ته د رسول اللهﷺ په وسيله را رسيدلې دي نو له دې کبله د الله پاک څخه وروسته رسول اللهﷺ زمونږ سره ترټولو زيات احسان کوونکی دی، مونږ د نبيﷺ ددغه احسان کومه بدله او عوض نه شو ورکولای نو يواځې زيات نه زيات چې زمونږ په توان کې څه دي هغه دا دي چې د الله پاک څخه د نبي کريمﷺ لپاره دعا وغواړو او په دې ډول د خپلې اړتيا او شکر اداء کولو ثبوت ورکړو.

زمونږ له لوري د نبي کريمﷺ د لوړ شان او مقام وړ دا دعا کيدای شي چې الله پاک نبي کريمﷺ د خپلو ځانګړو رحمتونو او برکتونو څخه برخمن کړي او د هغه درجې ترټولو زياتې لوړې او اوچتې کړي. نو همدې ډول دعا ته درود شريف ويل کيږي. په قرآن مجيد کې په ډيره څرګنده توګه او ډير عجيب انداز مونږ ته ددې حکم شوی دی الله پاک فرمايي:

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا ﴿٥٦﴾ ﴾ الأحزاب: ٥٦

الله او دهغه پرښتيګ پر پيګمبر درود وايي ، اۀ مومنانو ! تاسيګ هم پر هغه درود او سلام و وايئ .

په دې آيت شريف کې لومړې دا بيان شوی دی چې الله پاک د خپل پيغمبر پخپله عزت، اکرام اودرناوی کوي او پر هغه مهرباني او شفقت کوي او د هغه د ملايکو هم له پيغمبر سره همدغه سلوک دی چې د پيغمبرﷺ درناوی او احترام کوي او د الله پاک څخه د هغه لپاره د رحمت غوښتنه او دعا کوي له دې نه پس مونږ مومنانو ته حکم شوی

دی چې تاسې هم د هغه لپاره له الله پاک څخه د رحمتونو دعا کوئ پرهغه سلام ولیږئ. ګواکې د حکم کولو څخه مخکې مونږ ته لارښوونه شوې ده چې د کوم کار تاسې ته حکم درکول کیږي هغه الله پاک ته په ځانګړي ډول محبوب او خوښ دی او د ملایکو ځانګړي بوختیا او مشغولیت دی. له دې معلومیدلو څخه وروسته به هغه کوم مسلمان وي چې دا خپله وظیفه جوړه نه کړي. د درود شریف په فضیلتونو کې ډیر احادیث راغلي دي چې دلته د څو مبارکو احادیثو یادونه کوو:

**عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ إِنَّ الدُّعَاءَ مَوْقُوفٌ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَا يَصْعَدُ مِنْهُ شَيْءٌ حَتَّى تُصَلِّيَ عَلَى نَبِيِّكَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ**

**((سنن الترمذي - (2 / 307)**

**له عمربن خطاب (رض) څخه روایت دی وایي چې: دعا داسمان اوځمکې ترمنځ ولاړه وي اوهیڅ شی ورڅخه نه پورته کیږي ترڅو پورې چې په خپل نبي (ص) باندې درود ونه لیږئ.**

د رسول اللهﷺ ډیر مشهور حدیث دی چې نبي کریم ﷺ وفرمایل:

**مَنْ صَلَّى عَلَيَّ وَاحِدَةً صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ عَشْرًا (صحيح مسلم - (2 / 376)**

(څوک چې په ما باندې یوځل درود ووایي الله پاک پرهغه لس رحمتونه نازلوي).

په یوبل روایت کې ددې سره داهم راغلي دي چې:

**مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً وَاحِدَةً صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ عَشْرَ صَلَوَاتٍ وَحُطَّتْ عَنْهُ عَشْرُ خَطِيئَاتٍ وَرُفِعَتْ لَهُ عَشْرُ دَرَجَاتٍ ((سنن النسائي - (5 / 75)**

څوک چې پرمابانديې یوځل درود ووایي نوالله پاک په هغه لس رحمتونه نازلوي، د هغه لس

ګناهونه بښل کيږي او لس درجې يې اوچتيږي.
**مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشْرًا وَكَتَبَ لَهُ بِهَا عَشْرَ حَسَنَاتٍ** ((سنن الترمذي - (2 / 305)
**څوک چې پرما يوځل درود ووايي نوالله پاک پرې لس رحمتونه نازلوي اولس نيکۍ ورته ليکل کيږي.**
په يوبل حديث شريف کې راغلي دي چې رسول اللهﷺ وفرمايل:
**إِنَّ لِلَّهِ مَلَائِكَةً سَيَّاحِينَ فِي الْأَرْضِ يُبَلِّغُونِي مِنْ أُمَّتِي السَّلَامَ** (سنن النسائي - (5 / 51)
(د الله پاک ډيري ملايکې دي چې د هغوی خاص کاردادی چې په زمکې بانـدې ګرځـي او زما کوم امتي چې پرما درود او سلام وايي نو هغه يې ماته رارسوي).
سبحان الله! څومره ستر دولت دی چې زمونږ درود او سلام د ملايکو په واسطه رسول اللهﷺ ته رسيږي او په دې توګه زمونږ يادونه هلته کيږي:
په يوبل حديث شريف کې راغلي دي چې رسول اللهﷺ وفرمايل:
**أَوْلَى النَّاسِ بِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَكْثَرُهُمْ عَلَيَّ صَلَاةً** ((سنن الترمذي - (2 / 305)
(په قيامت کې به ترټولوماته نږدې هغه څوک وي چې په ما باندې ډير زيات درودونه وايي.
په يو حديث کې راغلي دي چې رسول اللهﷺ وفرمايل:
**الْبَخِيلُ الَّذِي مَنْ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ** ((سنن الترمذي - (11 / 456)
(هغه انسان ډير بخيل دی چې د هغه په وړاندې زما نوم واخستل شي او هغه په ما باندې درود ونه وايي). په يوبل حديث کې

راغلي دي چې:
**رَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ ((سنن الترمذي - (11 / 455)**
(د هغه انسان پزه دې په خاورو ککړه شي (يعنې خوار او ذليل دې وي) چې زما نوم د هغه په وړاندې ياد شي او هغه په ما باندې درود ونه وايي). په هرحال په رسول اللهﷺ درود او سلام ليږل پر موږ د نبي کريمﷺ يو لوی حق دی او زموږ لپاره د اوچتې درجې سعادت او نيکمرغي ده او په دنيا او آخرت کې زموږ لپاره د بې شميره رحمتونو او برکتونو سرچينه ده.

د درود شريف الفاظ اوکلمات:
**عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَكَيْفَ الصَّلَاةُ عَلَيْكَ قَالَ قُولُوا اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ ((صحيح البخاري - (14 / 484)**
له کعب بن عجزه څخه روايت دی چې ما له رسول الله څخه وپوښتل : (موږ په تا باندې څنګه درود ووايو؟ نو رسول اللهﷺ وفرمايل چې تاسې ووايي:اوموږته يې د ابراهيمي درود لارښوونه وکړه).
چې په لمانځه کې لوستل کيږي او ددې کتاب په دوهم څپرکې د لمانځه په بيان کې ليکل شوی دی، دې ته نژدې او لږ مختصر د يو بل درود شريف هم نبي کريمﷺ موږته ښوونه کړې ده:
چې په حديث کې دارنګه راغلي دي:
**اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَأَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ**

**إِبْرَاهِيمَ وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَأَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ ((صحيح البخاري - (11 / 155)**

ای الله! پر نبي امي حضرت محمد ﷺ او د هغه پر ازواجو مطهراتو (سپيڅلو بيبيانو) امهات المومنين او د هغه پر اولاد او کورنی رحمتونه نازل کړئ لکه چې تا رحمتونه نازل کړي دي په کورنی د ابراهيم υ بې له شکه ته ستايلی شوی او د لويي څښتن يې.

کله چې مونږ د نبي کريم ﷺ خوږ نوم اخلو او د هغه يادونه کوو يا يې له نورو څخه اورو نو په نبي کريم ﷺ هرومرو درود ويل پکار دي او په دغه وخت کې صل الله عليه وسلم ويل پوره دي.

درود شريف د وظيفې او ورد په توګه:

ځينې د ځانګړي ذوق او همت درلودونکي مسلمانان خو هره ورځ څوڅو زره ځله د درود شريف وظيفه کوي خو زمونږ په څېر کم همته وګړي که چېرې سهار ماښام په ادب او محبت سره يواځې سل ځ له درود شريف ووايو نو انشاء الله چې څه به ومومو او د نبي کريم ﷺ د داسې شفقتونو څخه به برخمن شو چې په دې نړی کې د هغو اندازه نه شي کيدای، کوم ورونه چې د لنډ او مختصر درود لوستل غواړي نو هغوي دې دا مختصر درود زده کړي : **((اللهم صل على محمد النبى الامى واله))**

شلم څپرکې

# توبه او استغفار

الله پاک خپل رسولان او پیغمبران ددې لپاره رالیږلي او خپل کتابونه یې نازل کړي دي ترڅو انسانانو ته خپل نیک، بد، ګناه او ثواب هرڅه معلوم شي او هغوی له ناوړه خبرو اود ګناه له کارونو څخه ځانونه وساتي او د نیکی او ثواب په لیاره رهي شي او د الله پاک رضامندي او له مرګه پس ژوند یعنې په آخرت کې نجات ومومي، نو کومو وګړو چې د الله پاک په رسولانو، پیغمبرانو او د هغه په نازل کړیو کتابونو ایمان نه دی راوړې او منلې یې نه دي نو د هغوی معامله داده چې د هغوی ټول ژوند ګواکې د بغاوت او سرغړونې ژوند دی او د الله پاک د نازل

کړي هدايت او لارښووني سره هيڅ اړيکې او تړاو نه لري.
نو له دې کبله ترڅو پورې چې هغوی د الله پاک په راليږلو رسولانو او پيغمبرانو او د هغه پرنازل کړيو کتابونو او په ځانګړي ډول پر اخري پيغمبر حضرت محمد ﷺ او د هغه په راوړل شوي اخري کتاب قرآن مجيد باندې ايمان رانه وړي او د هغه لارښوونو او هدايت ته غاړه کينږدي نو هغوی د الله پاک خوښي، رضامندی او له مرګه وروسته ژوند کې د کاميابی او نجات څخه نشې برخمن کيدای. ځکه چې د الله پاک، د هغه د رسولانو او پيغمبرانو او د هغه له کتابونو څخه انکار کول داسې ستر جرم دی چې د بښنې وړ نه دی. د الله پاک هر پيغمبر په خپل خپل عصراووخت کې ددې خبرې ډير څرګند او ښکاره اعلان کړی دی. په هرحال د کفر او شرک کوونکو د نجات او ژغورنې لپاره اړين دي چې هغوی ترټولو مخکې له شرک او کفر څخه توبه وکړي او ايمان او توحيد د خپل اصل او بنسټ په توګه د زړه له کومې قبول کړي، ددې څخه پرته نجات او ژغورنه هيڅ امکان نه لري خو کوم وګړي چې په رسولانو او پيغمبرانو ايمان راوړي او د هغوي د لارښوونو او هدايت سره سم د پيروی او تللو اقرار او اراده وکړي نو هغوی کله کله د شيطان په لمسون او د خپل نفس د ناوړه غوښتنو له کبله د ګناه کار کوي نو د داسې ټولو ګناهکارانو د پاره الله پاک د توبې او استغفار دروازه برسيره اوخلاصه پرې ايښې ده. د توبې او استغفار مطلب دا دی چې کله له بنده څخه د الله پاک د سرغړونې او د ګناه کوم کار وشي نو هغه په دې باندې پښيمانه او وشرميږي او په راتلونکې وخت کې ددغه

ګناه د نه کولو او ځان ساتلو پوخ عزم او اراده وکړي او د الله پاک څخه د خپلې کړې ګناه بښنه او معافي وغواړي. په قرآن او احاديثو کې دا ښوونه شوې ده چې په دغه ډول توبې کولو سره الله پاک د خپل بنده څخه راضي کيږي او د هغه ګناه بښي. بايد دا خبره په ياد ولرو چې توبه يواځې په ژبې سره نه کيږي بلکې پر کړې ګناه له زړه نه پښيماني، غم او افسوس کول هم اړين دي او په راتلونکې کې ددغه ګناه د نه کولو او ځان ساتلو اراده او عزم په زړه سره کول اړين دي.

د توبې مثال داسې دی چې کوم انسان د قهر يا خپګان په حالت کې د ځان وژنې په اراده زهر وخوري او کله چې ددې له اغيزې څخه کولمې سوزيدل او سخت تکليف او درد شروع شي نو پخپله په دغه ناسمه کړنه او کار غم او افسوس کوي او د درملنې او علاج لپاره لاس پښې وهي او حکيم او ډاکتر چې ورته کوم درمل ورکړي هغه څښي، په دغه وخت کې به ددې انسان دزړه پريکړه په قطعي ډول دا وي که چيرې زه له مرګه وژغورل شوم نو په راتلونکې وخت کې به هيڅکله هم داسې بې عقلي او حماقت نه کوم، نو له ګناه څخه د توبه کوونکي انسان د زړه کيفيت هم دغه شان پکار دی، يعنې د الله پاک د ناراضتيا او د آخرت د عذاب فکر دې وکړي او پرخپله کړې ګناه دې ښه غمژن، دردمن او افسوس وکړي او د راتلونکې ژوند لپاره دې د هغه د زړه پريکړه او عزم دا وي چې هيڅکله به دغه ګناه نه کوم او څه چې تېرې شوي د هغې لپاره د الله پاک څخه د بښنې او معافی دعاغواړي. که چېرې الله پاک په کومه درجه دغه خبره ستاسې په برخه کړي نو باور او

يقين كول پكاردي چې د ګناه اغيزه بيخي له مينځه ځي او د الله پاک د رحمت دروازه ورته پرانستل كيږي، له دغه ډول توبې څخه وروسته ګناه كونكې د ګناه له اثر څخه په كامل ډول پاكيږي بلكې د الله پاک خوښ او محبوب بنده ګرځي او كله كله له ګناه څخه وروسته د ريښتونې توبې په ذريعه بنده هغه درجې ته رسيږي چې د ډيرو كلونو په عبادت، رياضت اومجاهدې ورته رسيدل ستونځمن وي. ترديې ځای چې څه وليكل شول دا ټول د آيتونو او احاديثو مضمون وو. اوس د توبې او استغفار په باره كې څو مبارک آيتونه او احاديث ليكل كيږي.

الله پاک فرمايي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ تُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ تَوۡبَةٗ نَّصُوحًا عَسَىٰ رَبُّكُمۡ أَن يُكَفِّرَ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَيُدۡخِلَكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ يَوۡمَ لَا يُخۡزِي ٱللَّهُ ٱلنَّبِيَّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥۖ نُورُهُمۡ يَسۡعَىٰ بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَبِأَيۡمَٰنِهِمۡ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَتۡمِمۡ لَنَا نُورَنَا وَٱغۡفِرۡ لَنَآۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٨ ﴾

التحريم: ٨

ای مومنانو ! الله ته توبه وباسئ ، خالصه توبه ، كيګدای شي چيګ الله ستاسيګ بدي له تاسيګ نه لرې كؤی او تاسيګ داسيګ جنتونوته ننباسي چيګ تر هغو لانديګ به وياليګ بهيږي، دابه هغه ورحګ وي چيګ الله خپل پيګغمبر او هغه كسان چيګ له هغه سره ييګ ايمان راوؤی دی رسوانه كؤي، دهغو رنګابه دهغو مخكيګ مخكيګ او دهغو شګي پلوته حګغلي او هغوي به وايي چيګ ای زمونږ ربه ! زمونږ رنګا زمونږ لپاره بشپؤه كؤه او مونږ ته بشګنه وكؤه ته دهر خګه وس اوواك لري .

او د المائده په سورت كې د ګناهګارو او خطاء كوونكو بنده ګانو په هكله الله پاک فرمايي:

﴿ أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى ٱللَّهِ وَيَسْتَغْفِرُونَهُۥ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٧٤﴾ ﴾ المائدة: ٧٤

نو ایا دوی الله ته توبه نه باسي او له هغه نه بشگنه نه غواؤي؟ الله أیربښو ونکې او رحم کوونکی دی .

او په سورت الانعام کې څومره خوږ او ښکلې ارشاد دی:

﴿ وَإِذَا جَآءَكَ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِـَٔايَـٰتِنَا فَقُلْ سَلَـٰمٌ عَلَيْكُمْ ۖ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلَىٰ نَفْسِهِ ٱلرَّحْمَةَ ۖ أَنَّهُۥ مَنْ عَمِلَ مِنكُمْ سُوٓءًۢا بِجَهَـٰلَةٍ ثُمَّ تَابَ مِنۢ بَعْدِهِۦ وَأَصْلَحَ فَأَنَّهُۥ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥٤﴾ ﴾ الأنعام: ٥٤

او کله چې تاته زموږ پر آیتونو مومنان راغلل نو ورته ووایه چې پرتاسې دې سلام وي، ستاسې رب پر خپل ځان مهرباني لازمه کړې ده، ستاسې هر یو چې په ناپوهۍ سره کوم بدکار وکړي او ژر ورپسې توبه وباسي او خپلې کړنې روغې کړي نو بې له شکه چې الله پاک ښه بښونکې خورا مهربان دی.

د الله پاک د مهربانۍ او رحمت نه قربان! هغه رحیم او کریم ذات د توبې دروازه خلاصه او برسیره کړې او زموږ په څېر د گناهگارو انسانانو ستونزه یې ډیره اسانه کړې ده کنه زموږ د اوسیدوځای به چیرې وای ؟ له دغو آیتونو څخه وروسته د رسول الله ﷺ څو مبارک احادیث هم واورئ:

په مسلم شریف کې یو اوږد قدسي حدیث دی، ددې حدیث یوه برخه داده چې الله پاک فرمایي:

**يَا عِبَادِي إِنَّكُمْ تُخْطِئُونَ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَأَنَا أَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا فَاسْتَغْفِرُونِي أَغْفِرْ لَكُمْ** **((صحيح مسلم - (12 / 455)**

(ای زما بنده گانو! تاسې شپه ورځ

ګناهونه کوئ او زه ټول ګناهونه بښم نو تاسي له ماڅخه معافي او بښنه غواړئ زه به تاسي ته بښنه وکړم).

په یو حدیث شریف کې رسول الله ﷺ وفرمایل:

**إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يَبْسُطُ يَدَهُ بِاللَّيْلِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ النَّهَارِ وَيَبْسُطُ يَدَهُ بِالنَّهَارِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ اللَّيْلِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا ((صحيح مسلم - (13 / 322)**

(الله پاک هره شپه د خپل رحمت او بښني اومغفرت لاس غزوي چې د ورځې پر مهال ګناه کوونکي توبه وکړي اود ورځې لاس غزوي چې د شپې پروخت ګناه کوونکي توبه وکړي او د الله پاک دا حالت به ترهغه وخته پورې جاري وي ترڅو چې قیامت ته نژدې لمر د لویدیځ لوري څخه نه وي راختلی).

په یو حدیث شریف کې رسول الله ﷺ وفرمایل:

(د الله پاک یو بنده کومه ګناه وکړه بیایې الله ته عرض اوسوال وکړ، ای زما پالونکیه ربه! ما ګناه کړې ده ماته بښنه وکړې نو الله پاک فرمایي: زما بنده په دې پوهیږي چې د هغه رب شته چې په ګناهونو نیول هم کولای شي او بښنه هم کولای شي! ما د خپل بنده ګناه وبښله، بیا چې ترڅو پورې الله غوښتل هغه بنده له ګناه څخه ځان ساتلو، بیایې کوم وخت ګناه وکړه. او بیایې الله پاک ته سوال وکړ ای زما ربه!

له ما څخه بله ګناه وشوه نو ماته بښنه وکړې، الله پاک وفرمایل: زما بنده په دې یقین لري چې د هغه مالک او رب شته چې ګناه بښي او سزا هم ورکولای شي، ما خپل بنده ته بښنه وکړه څه چې غواړي ودې کړي).

په یو حدیث شریف کې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**التَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لا ذَنْبَ له** ((المعجم الكبير للطبراني - (8 /

**(490**

( له ګناه څخه توبه کونکې انسان د داسې انسان په څېر کیږي لکه چې هغه ګناه نه وي کړې)

په دې مبارکو احادیثو کې د الله پاک د ډیرې زیاتې بښنې، مغفرت او رحمت بیان دی. ددې احادیثو په اوریدو پرګناهونو زړور کیدل یعنې د توبې او بښنې غو ښتلو پر اعتماد نور ډیر ګناهونه کول د مؤمن کاراوصفت نه دی. د بښنې او رحمت له دغو مبارکو ایتونو او احادیثو څخه باید د الله پاک محبت نور هم د مسلمانانو په زړونو کې زیات شي او چې دا درس ورڅخه واخلي چې د داسې مهربان او کریم رب څخه سرغړونه کول ډیره ستره ناپوهي او بې عقلي ده. لږ غوندې فکر وکړئ که چیرې د یو نوکربادار د هغه سره د ډیرې خواخوږی او ښیګڼې چلن وکړي نو ایا دغه نوکر ته دا ښایي چې نور هم زړه ورشي او له هغه څخه سرغړونه وکړي؟ په اصل کې ددغو مبارکو آیتونو او احادیثو مقصد دا دی: که چیرې کوم وخت له یو مؤمن بنده څخه ګناه وشي نو هغه دې د الله پاک د رحمت څخه نهیلې کیږي نه بلکې په توبې سره دې ددغه ګناه تور داغ وینځې او د الله پاک څخه دې بښنه و غواړي، الله پاک به پخپلې مهربانی سره هغه وبښي او د ناراضتیا او قهر پرځای به له هغه څخه نور هم زیات خوښ شي.

په یو حدیث شریف کې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَلَّهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ حِينَ يَتُوبُ إِلَيْهِ مِنْ أَحَدِكُمْ كَانَ عَلَى رَاحِلَتِهِ بِأَرْضِ فَلَاةٍ فَانْفَلَتَتْ مِنْهُ وَعَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ فَأَيِسَ مِنْهَا فَأَتَى شَجَرَةً فَاضْطَجَعَ فِي**

**ظِلِّهَا قَدْ أَيِسَ مِنْ رَاحِلَتِهِ فَبَيْنَا هُوَ كَذَلِكَ إِذَا هُوَ بِهَا قَائِمَةً عِنْدَهُ فَأَخَذَ بِخِطَامِهَا ثُمَّ قَالَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ اللَّهُمَّ أَنْتَ عَبْدِي وَأَنَا رَبُّكَ أَخْطَأَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ**

**((صحيح مسلم - (13 / 296)**

(رسول الله (ص) وفرمايل: کله چې بنده له ګناه څخه وروسته الله پاک ته ورګرځي او په ریښتوني زړه توبه کوي نو الله پاک ددغه بنده په توبې باندې له هغه چانه هم ډیر خوشحالیږي چې د هغه د سورلۍ څاروي په یوه ستره دښته او صحرا کې تري ورک او وتښتي او د هغه د خوراک څښاک سامان هم پرسورلۍ بارورک شي او هغه له دې څخه بیخي نهیلې شي او د مرګ په انتظار کې د کومې ونې سیوري ته ډډه ووهي او بیا په همدغه حالت کې هغه ناڅاپه ووینې چې د هغه څاروې د ټول سامان سره ده ته نژدې ولاړ دی هغه یې ونیسې او بیا له ډیري خوښۍ او مستۍ څخه د هغه له ژبې څخه ووځي: ای الله! ته زما بنده او زه ستا رب یم. [1]

نو رسول الله ﷺوفرمایل: چې څومره دغه سړی د خپلې سورلۍ په موندلو خوشحالیږي الله پاک د خپل ګناهګار بنده په توبه له ده څخه هم زیات خوشحالیږي.

ددغو آیتونو او احادیثو د معلومیدو څخه وروسته چې کوم انسان له ګناهونو څخه توبه ونه کړي او د الله پاک د رضامندۍ او رحمت څخه بې برخې پاتې شي نو بیشکه هغه انسان ډیر لوی مجرم او بدمرغه دی، ډیر خلک په

---

[1] –مطلب دادی چې دغه بنده دومره زیات خوشحاله شي چې له ډیرې خوښۍ څخه د هغه ژبه خطا شي او کومه خبره چې کول غواړي سرچپه یې له خولې څخه ووځي.

دي ګمان په توبه کولو کې بیړه نه کوي چې اوس خولا وخت شته له مرګه مخکې به څه وخت توبه وکړم.

ورونړو! زمونږ او ستاسي د دښمن شیطان دا لوی فریب اودوکه ده، شیطان چې څنګه پخپله د الله پاک د رحمت څخه لرې او تل ترتله دوزخي شوی دی نو په دې ډول مونږ هم د خپل ځان سره ملګري کول غواړي، هیچاته دا معلومه نه ده چې څه وخت به ورته مرګ راځي نو له دې کبله هره ورځ داسې وګڼئ چې ښايي نن ورځ زما د ژوند وروستی ورځ وي نو کومه ګناه چې درڅخه وشي نو په بیړه له هغې څخه توبه کول عقلمندي ده.

په قرآن شریف کې په ښکاره او څرګند ډول لارښوونه شوې ده لکه چې الله پاک فرمايي:

(﴿ إِنَّمَا ٱلتَّوْبَةُ عَلَى ٱللَّهِ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ ٱلسُّوٓءَ بِجَهَٰلَةٍ ثُمَّ يَتُوبُونَ مِن قَرِيبٍ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَتُوبُ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١٧﴾ ﴾

النساء: ١٧

الله پاک یوازې د هغو خلکو توبه مني چې په ناپوهی سره بد کار وکړي او بې له درنګه ترې توبه وباسي نو د همدغو خلکو توبه الله پاک مني او الله پاک په هرڅه ښه پوه او د حکمت څښتن دی.

نو کومې شیبې او ساه ګانې چې پاتې وي ښايي مونږ دغه غنیمت وګڼو او په توبې کولو او خپل حالت سمولو کې هیڅ ځنډونه کړو معلومه نه ده چې مرګ څه وخت را رسیږي او هغه مهال به مونږ ددې توفیق ومومو یا نه ؟ ورونړو! مونږ او تاسې په خپل ژوند کې سلګونه وګړي د مړینې په حال کې لیدلي دي او زمونږ د ټولو عمومي تجربه داده چې څوک په کوم حالت کې ژوند کوي نو په همغه حالت

کې مړ کيږي يعنې داسې نه چې يو انسان ټول عمر د الله پاک څخه غافل وي له هغه څخه پرلپسې سرغړونه کوي خو له مرګه يو اڅې يو دوه ورځې مخکې ناڅاپه توبه وکړي او ولې ترې جوړ شي. نو له دې کبله کوم انسان دا غواړي چې د نيکۍ په حالت کې ورته مرګ راشي نو د هغه لپاره دا اړينه ده چې په خپل ژوند کې نيک وګرځي.

د الله پاک له فضل او مهربانۍ څخه هيله ده چې د هغه پايله اوخاتمه به هرومرو ښه وي او په قيامت کې به د نيکيو سره د هغه حشر کيږي.

## د توبې په هکله يوه اړينه خبره:

که چيرې انسان له کومې ګناه څخه توبه وکړي او بيا ورڅخه دغه ګناه وشي نو بيا دې هم د الله پاک له رحمت څخه نه نهيلې اونه نا اميده کيږي بلکې بيا دې هم توبه وکړي او که بيا توبه ماته کړي نو بيا دې هم توبه وکړي، په دې ډول که ډير کرته هم توبه ورڅخه ماته شي نو نه دې نهيلې کيږي هر کله چې هغه په ريښتوني زړه توبه وکړي د الله پاک وعده ده چې د بنده توبه قبلوي او بښنه ورته کوي د الله پاک رحمت او جنت ډير زيات وسيع او پراخه دی.

## د توبې او استغفار کلمات:

د توبې او استغفار کوم حقيقت چې پورته بيان کړای شو نو په دې به تاسو پوهيدلي ياست چې بنده په کومه ژبه او کومو الفاظو الله پاک ته توبه وکړي او بښنه وغواړي الله پاک د هغه اوريدونکې او قبلوونکې دی خو رسول

الله ﷺخپلو اصحابو کرامو (رض) ته د توبې او استغفار د ځانګړيو کلمو لارښوونه هم کړې ده او رسول الله ﷺبه پخپله هم دغه لوستلې. په دې کې هيڅ شک نشته چې دغه کلمې ډيرې برکتناکې او ډيرې قبليدونکې او الله پاک ته ډيرې خوښې دي، له دغو کلمو څخه څو دلته ليکو تاسې يې زده کړئ او ددې په وسيله توبه او استغفار کوئ.

**١ـ استغفر الله الذی لآ اله الا هوالحی القيوم واتوب اليه.**

زه معافي او بښنه غواړم د هغه الله پاک څخه چې د هغه نه پرته بل هيڅوک د عبادت وړاو لايق نشته، هغه تل ژوندی او د ټول عالم انتظام کوونکی دی، زه هغه ته توبه کوم.

په حديث شريف کې راغلي دي چې:

**مَنْ قَالَ أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيَّ الْقَيُّومَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ غُفِرَ لَهُ وَإِنْ كَانَ قَدْ فَرَّ مِنْ الزَّحْفِ ((سنن أبي داود - (4 / 313)**

څوک چې ددې پورته کلمې په وسيله توبه او استغفار وکړي نو الله پاک به د هغه ګناه وبښي که چېرې هغه د جهاد له ډګر څخه د تيښتې ګناه هم کړې وي چې د الله په وړاندې ډيره لويه ګناه ده).

په يوبل حديث کې راغلي دي چې:

**مَنْ قَالَ حِينَ يَأْوِي إِلَى فِرَاشِهِ أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ غَفَرَ اللَّهُ لَهُ ذُنُوبَهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ رَمْلٍ عَالِجٍ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ عَدَدِ وَرَقِ الشَّجَرِ**

**((مسند أحمد - (22 / 197)**

(څوک چې د شپې د ويده کيدو په مهال ددې کلمې په وسيله درې ځله الله پاک ته توبه او استغفار وکړي نو الله پاک به د هغه ټول ګناهونه وبښي، که چېرې د هغه ګناهونه د سمندرد ځګ په اندازه، دسمندردشګوپه کچه

اویا دونودپاتوپه شمیروي.
۲- رسول الله ﷺکله کله یواځې (استغفرالله) زه د الله پاک څخه معافي غواړم (استغفرالله) زه د الله پاک څخه بښنه غواړم هم ویل. دا ډیر لنډ اومختصر استغفار دی چې هر وخت پر ژبه ویل او جاري ساتل پکار دي.
۳- سید الاستغفار: په حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺوفرمایل: سیدالاستغفار دا دی:

**اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ**

**(صحيح البخاري - (19 / 363)**

ای الله ! ته زما رب یې، ستانه پرته بل معبود نشته،تازه پیداکړی یم او زه ستا بنده یم او د خپل وس او توان تر بریده ستا پر ژمنه او وعده ټینګ ولاړ یم، پناه غواړم په تاسره له خپلو بدوکړنو څخه، زه پر خپل ځان ستا د نعمتونو اقرار کوم اوهم د خپلو ګناهونو اقرار کوم، نو ته ماته بښنه وکړې، بیشکه ګناهونه ستا نه پرته بل هیڅوک نشي بښلای.
ددې استغفارپه هکله رسول الله ﷺفرمایلي دي:

**عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَيِّدُ الِاسْتِغْفَارِ أَنْ تَقُولَ اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ قَالَ وَمَنْ قَالَهَا مِنْ النَّهَارِ مُوقِنًا بِهَا فَمَاتَ مِنْ يَوْمِهِ قَبْلَ أَنْ يُمْسِيَ فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَمَنْ قَالَهَا مِنْ اللَّيْلِ وَهُوَ مُوقِنٌ بِهَا فَمَاتَ قَبْلَ أَنْ يُصْبِحَ فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ ((صحيح البخاري - (19 / 363)**

(کوم بنده چې ددې کلمې په وسيله او ددې پر مضمون د غور او يقين سره الله پاک ته استغفار وکړي او په دغه ورځ له شپې راتلو څخه مخکې مړ شي نو هغه به جنت ته ولاړ شي او کوم بنده چې ددې کلمې پر مضمون د غور او يقين سره د الله پاک څخه د خپلو ګناهونو بښنه وغواړي او له سهار کيدو څخه مخکې د شپې مړ شي نو هغه به جنتي وي. دلته د استغفار يواځې دغه درې کلمې نقل کړای شوی، ددې يادول او زده کول څه ستونځمن او مشکل نه دی.

په حديث شريف کې راغلي دي چې (زيرې او خوښي ده د هغه چا لپاره چې د هغه په عملنامه کې استغفار ډير ليکل شوی وي).

## د الله پاک د رضا کيدو او جنت موندلو عوامي نصاب

ددې کوچنې کتاب په شلوڅپرکو کې چې څه ليکل شوي دي په دې عمل کول د الله پاک رضامندی او د جنت د حاصلولو لپاره انشاء الله په بشپړډول کافي دي،په اخرکې دا اړينه بريښي چې په څو کرښو کې يوځل بيا ددې لُب لباب او لنډيز وړاندې کړای شي:

د اسلام ترټولو لومړنی شرط دا دی چې د **(لا اله الا الله محمد رسول الله)** په کلمه ايمان راوړی (چې ددې تفصيل او تشريح په لومړي څپرکي کې تير شوی دی) بيا د ضرورت په اندازه د دين د احکامو معلومولو او يادولو فکر وکړئ، بيا کوښښ وکړئ چې د الله پاک فرايض او د بنده ګانو د حقونو، آدابو او اخلاقو په باره کې چې د الله پاک کوم احکام او د اسلام کومې لارښوونې دي (چې ددې تفصيل په ورستيو څپرکوکې شوی دی) پرځای راوړئ او عمل

وربانـدې وکـړئ او کـلـه چې نیمګړتیـا او سرغړونه وشي نو په ریښتوني زړه الله پاک تـه توبه وکړئ او بښنه وغواړئ او د راتلـونکی لپاره د خپلې اصلاح کوښښ وکړئ او که چېـرې له کوم بنده سره زیاتي وشي او تېری وربانـدې وکړئ نو له هغه نه معافي وغـواړئ یا هغه ته بدله او عوض ورکړئ. د الله پاک، د هغه د رسول ﷺ او د دین محبت بایـد د دنیـا له هر شي څخه زیات وي او په هرحال کې پـه کامله توګه ښه محکم او ټینګ په دین بانـدې و دریږئ او د دین پـه خدمت او بلنې کې هرومرو برخه واخلئ دا ډیره لویه نیکمرغـي او د پیغمبرانوυځانګړې وراثـت دی او پـه خاصه توګه په دې عصر کې ددې (د دین خـدمت او بلنه) درجه له نورو نفلي عبادتونو څخه په ډیرو درجو زیاته ده. او ددې پـه برکـت خپلې اړیکې او تړاو له الله، رسول ﷺ او دیـن سره زیاتیږي. که توان لرئ نو په نفلونـو کې پر تهجد (د شـپې لمـونځ) اداء کولـو د مداومت کوښښ وکړئ،ددې برکتونه ډیـر زیـات دي. له ټولو ګناهونو پـه ځـانګړې ډول لـه کبیره ګناهونو څخه تل ځان وساتئ لکه زنا، غلا، درواغ، د شرابو څښل پـه معـاملاتو کـې ټګي کول، او داسې نـور. هـره ورځ د ذکـر کولو لپاره هم وظیفه مقرر کړئ ، که چېـرې ډیر وخت او فرصت نـه وي نـو لـږ تـر لـږه دومره خو وکړئ چې سهار ماښام سل ځله کلمه تمجید ([1]) یا یواځې **(سبحان الله وبحمده)** او سل ځله استغفار ([2]) او سل ځله درود شریف و وایاست.

---

[1] **ـ سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر**

**2 – استغفر الله الذی لآ اله الا هوالحی القیوم و اتوب الیه، یـا یـو اځې استغفرالله، استغفرالله**

د قرآن شریف د تلاوت لپاره هم یو وخت وټاکئ او په پوره ادب او درناوي سره تلاوت وکړئ. د هر فرض لمانځه څخه وروسته اود دویده کیدو پر وخت تسبیحات فاطمه τ ولولئ او کوم مسلمانان چې له دې څخه د زیاتو اذکارو ویل غواړي نو هغوی دې د الله پاک داسې بنده ته رجوع وکړي او مشوره دې ورسره وکړي چې ددې کار اهلیت ولري او وروستنی خبره په دې لړ کې داده چې: د الله پاک د نیکو او صالحو بندګانو سره اړیکې، مینه او د هغوی ملګرتیا په دې لیاره کې ترټولو ښه علاج دی، که دا درته په برخه شي نو پاتې شیان به په تاسې کې پیداکیږي. الله پاک دې توفیق راکړي.

شو همدم پروانه تا سوختن آموزی
با سوختګان بنشین شاید که تو هم سوزی
له پتنګ سره ملګری شه چې سوزیدل زده کړې
له سویو سره کښینه ښایې چې ته هم وسوزیږې.

## د ورځې او شپې لوستلو لپاره د قرآن او احادیثو ځلوبښت دعاګانې

دا هغه څلویښت دعاګانې دي چې یادونه یې د اتلسم څپرکي (دعا) په آخره کې شوې وه.

١ - ﴿ بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝١ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝٢ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝٣ مَٰلِكِ يَوْمِ ٱلدِّينِ ۝٤ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝٥ ٱهْدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ۝٦ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ ٱلْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ۝٧ ﴾
الفاتحة: ١ - ٧

تولي ستاینې یوازې هغه الله لره دي چې د ټولو کایناتو پالونکی دی، ډیر زیات مهربان او ښه بښونکی دی، د حساب او کتاب د ورځې څښتن دی، مونږ یوازې ستا عبادت کوو او یوازې له تا څخه کومک غواړو، مونږ ته روغه او سمه لیاره وښایه ! د هغو خلکو لیار چې تا پرې لورینه کړې ده، رټل شوي نه دي او لیار یې نه ده ورکه کړې.

٢- ﴿ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِى ٱلْءَاخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿٢٠١﴾ ﴾ البقرة: ٢٠١

ای پالونکیه ربه ! مونږ ته په دنیا کې ښیګڼه راکړه او په آخرت کې هم او د اور له عذاب څخه مو وژغوره.

٣- ﴿ رَبَّنَآ إِنَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿١٦﴾ ﴾ آل عمران: ١٦

ای زمونږ ربه! مونږ ایمان راوړی دی، ګناهونه مو وبښه او د اور له عذاب څخه مو وژغوره.

٤- ﴿ رَبَّنَا ٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِىٓ أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿١٤٧﴾ ﴾ آل عمران: ١٤٧

ای زمونږ ربه! زمونږ ګناهونه او د ژوند په اوږدو کې له پولو څخه اوښتنه مو وبښه، زمونږ قدمونه کلک او پرکافرانو مو برلاسي کړه.

٥- ﴿ رَّبَّنَآ إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُنَادِى لِلْإِيمَٰنِ أَنْ ءَامِنُوا۟ بِرَبِّكُمْ فَـَٔامَنَّا ۚ رَبَّنَا فَٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّـَٔاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ ٱلْأَبْرَارِ ﴿١٩٣﴾

رَبَّنَا وَءَاتِنَا مَا وَعَدتَّنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ وَلَا تُخۡزِنَا يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ إِنَّكَ لَا تُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ ﴿١٩٤﴾

آل عمران: ١٩٣ - ١٩٤

ای زمونږ ربه! مونږ دیو بلونکي بلنه واوریدله چې بلنه یې کوله: په خپل رب ایمان راوړئ، مونږ ایمان راوړو نو ای زمونږ ربه! زمونږ ګناهونه وبښه او بدي راڅخه ورژوه او له نیکانو سره مو مړه کړه. ای زمونږ ربه! مونږ ته هغه څه راکړه چې تا راسره د خپلو رسولانو په خوله وعده کړې ده او د قیامت په ورځ مومه رسوا کوه بې شکه چې ته له وعدې څخه نه اوړې.

﴿ قَالَا رَبَّنَا ظَلَمۡنَآ أَنفُسَنَا وَإِن لَّمۡ تَغۡفِرۡ لَنَا وَتَرۡحَمۡنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴾ الأعراف: ٢٣

ای زمونږ ربه! مونږ په خپلو ځانو تیرې کړی دی، که ته راته بښنه ونه کړې او را باندې مهربان نه شې نو مونږ به خامخا له زیان کارانوڅخه وو.

٧- ﴿ رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةٗ لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٨٥﴾ وَنَجِّنَا بِرَحۡمَتِكَ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٨٦﴾ ﴾ يونس: ٨٥ - ٨٦

ای زمونږ ربه! مونږ د ظالمانو لپاره ازمېښت مه ګرځوه او په خپل رحمت سره مونږ ته له کافرانو نه نجات راکړه.

٨- ﴿ ۞ رَبِّ قَدۡ ءَاتَيۡتَنِي مِنَ ٱلۡمُلۡكِ وَعَلَّمۡتَنِي مِن تَأۡوِيلِ ٱلۡأَحَادِيثِۚ فَاطِرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ أَنتَ وَلِيِّۦ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ تَوَفَّنِي مُسۡلِمٗا

وَأَلۡحِقۡنِي بِٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٠١﴾ ﴾ يوسف: ١٠١

ای د اسمانونو او ځمکې پیداکوونکیه! همدا ته مې په دنیا او آخرت کې سرپرست یې، مسلمان مې مړ او د صالحانو سره مې یوځای کړه.

٩- ﴿ رَبِّ ٱجۡعَلۡنِي مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ وَمِن ذُرِّيَّتِيۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلۡ دُعَآءِ ﴿٤٠﴾ رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ يَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡحِسَابُ ﴿٤١﴾ ﴾

إبراهيم: ٤٠ ـ ٤١

ای زما ربه! ما لمونځ ودرونکې وګرځوه او زما اولادې ته هم همدا توان ورکړه ای زمونږ ربه! دعا مې ومنه! پروردګاره! ما، زما مور، پلار او ټول مومنان په هغه ورځ وبښه چې حساب کتاب روان وي.

١٠- ﴿ رَّبِّ ٱرۡحَمۡهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرٗا ﴿٢٤﴾ ﴾ الإسراء: ٢٤

پروردګاره! پر هغوی رحم وکړه څنګه چې یې په کوچنیوالي کې زه په مهربانۍ سره لوی کړی یم.

﴿ وَقُل رَّبِّ زِدۡنِي عِلۡمٗا ﴿١١٤﴾ ﴾ طه: ١١٤

ای زما ربه! زیات کړې علم زما.

١٢- ﴿ وَقُل رَّبِّ ٱغۡفِرۡ وَٱرۡحَمۡ وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴾ المؤمنون: ١١٨

ای زما ربه! ما وبښه او را باندې مهربان شه او ته له ټولو مهربانانو څخه غوره مهربان یې.

١٣- ﴿ رَبِّ أَوۡزِعۡنِيٓ أَنۡ أَشۡكُرَ نِعۡمَتَكَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَيَّ وَأَنۡ أَعۡمَلَ صَٰلِحٗا تَرۡضَىٰهُ وَأَصۡلِحۡ لِي فِي ذُرِّيَّتِيٓۖ إِنِّي تُبۡتُ إِلَيۡكَ وَإِنِّي مِنَ

ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿١٥﴾ ﴾ الأحقاف: ١٥

اى زما ربه! ماته الهام وكړه او وس راكړه چې ستا د هغو لورينو شكر پرځاى كړم چې پرما او زما پرمور او پلار دې كړي دي او هغه نيك كارونه وكړم چې ته يې خوښوې او زما اولاده نيكه كړه ما تاته پناه دروړې او په رښتيا چې زه له پوره غاړه ايښودونكو څخه يم.

١٤- ﴿ رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا وَلِإِخۡوَٰنِنَا ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلۡإِيمَٰنِ وَلَا تَجۡعَلۡ فِي قُلُوبِنَا غِلّٗا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٞ رَّحِيمٌ ﴿١٠﴾ ﴾ الحشر: ١٠

اى زمونږ ربه! مونږ وبښه او زمونږ هغه ورونه وبښه چې له مونږ نه وړاندې يې ايمان راوړى دى او زمونږ په زړونو كې د مومنانو كينې ته ځاى مه وركوه، اى زمونږ ربه! ته ډير زيات مهربان او رحم والا يې.

١٥- ﴿ رَبَّنَآ أَتۡمِمۡ لَنَا نُورَنَا وَٱغۡفِرۡ لَنَآۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿٨﴾ ﴾ التحريم: ٨

اى زمونږ ربه! زمونږ رڼا بشپړه كړه او بښنه راته وكړه بې شكه چې ته په هرڅه توانا يې.

**١٦ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَرَبَهُ أَمْرٌ قَالَ يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ (سنن الترمذي - (430 / 11)**

اى حى او قيوم ربه! ستا رحمت ته فرياد كوم زما ټول كارونه سم كړه.

١٧- **كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: اللَّهُمَّ أَصْلِحْ لِي دِينِي الَّذِي هُوَ عِصْمَةُ أَمْرِي وَأَصْلِحْ لِي دُنْيَايَ الَّتِي فِيهَا**

**مَعَاشِي وَأَصْلِحْ لِي آخِرَتِي الَّتِي فِيهَا مَعَادِي وَاجْعَلْ الْحَيَاةَ زِيَادَةً لِي فِي كُلِّ خَيْرٍ وَاجْعَلْ الْمَوْتَ رَاحَةً لِي مِنْ كُلِّ شَرٍّ ((صحيح مسلم - (249 / 13)**

رسول الله (ص) به داسي دعا کوله: ای الله! زما دین سم کړه چې په دي سره زما ټول کارونه تړلي دي او دنیا مې سمه کړه چې په دې کې مې د ژوند سامان دی او آخرت راته سم کړه چې هلته زما تګ او تل ترتله اوسیدل دي او زما ژوند د نیکی او ښیګڼې د زیاتوالي وسیله وګرځوه او مرګ راته له هرې بدی او شر څخه د نجات وسیله وګرځوه.

۱۸ – **اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ((سنن ابن ماجه - (9 / 31)**

ای الله! زه له تانه سوال کوم د ګناهونو د بښنې او د عافیت په دنیا او اخرت کې.

**۱۹- (اللهم انی اسئلک الهدی والتقی والعفاف والغنی)**

ای الله! زه له تانه سوال کوم د لارښوونې، هدایت، پرهیزګاری، پاک لمنی، عفت او دغنی (قناعت).

**۲۰- (اللهم انی اسئلک رزقا طیبا وعلما نافعا و عملا متقبلا)**

ای الله! زه له تانه سوال کوم د پاکې روزی او د فایده ورکوونکي علم او د قبلیدونکې عمل.

**۲۱- (اللهم افتح لنا ابواب رحمتک وسهل لنا ابواب رزقک)**

ای الله! زمونږ لپاره د خپل رحمت دروازي برسیره کړه او د روزی دروازي زمونږ لپاره اساني کړه.

**۲۲- (اللهم اکفنی بحلالک عن حرامک و اغننی بفضلک عمن سواک)** ای الله! ستا حلال کړي شیان زما لپاره پوره کړه او له حرامو څخه مې وساته او په خپل فضل او کرم سره مې پرته له تا له نورو ټولو څخه بې نیازه کړه.

**۲۳- (اللهم الهمنی رشدی وقنی شر نفسی)** ای الله! د نیکی او خیر ښیګڼې خبرې زما په زړه کې واچوی او د نفس له شر څخه مې وساته.

**۲۴- (اللهم اعنی علی ذکرک وشکرک وحسن عبادتک)** ای الله! ستا د ذکر او شکر او ښه عبادت په کولو کې له ما سره کومک او مرسته وکړه او ستا ذکر کوونکې شکر کوونکې او عبادت کوونکې بنده مې جوړ کړه.

**۲۵- (اللهم وفقنی لما تحب وترضی واجعل اخرتی خیرا من الاولی)** ای الله! د هغو کړو وړو او خبرو توفیق را کړې چې تاته خوښ وي او آخرت زما لپاره له دنیا څخه غوره وګرځوه.

**۲۶- (یا مقلب القلوب ثبت قلبی علی دینک)** ای د زړونو اړونکې ذاته! زما زړه پرخپل دین ټینګ او کلک وساته.

**۲۷- (اللهم احینی مسلما وامتنی مسلما)** ای الله! ما ته د اسلام سره ژوند په برخه کړی او د اسلام په حالت کې مې مړ کړی.

**۲۸- (اللهم انی اسئلک حبک وحب من یحبک وحب عمل یقرب الی حبک اللهم اجعل حبک احب الی من نفسی ومن اهلی ومن المآء البارد)**

ای الله! زه ستانه ستا د محبت سوال کوم او ستا کوم بنده ګان چې له تاسره محبت کوي د هغوی محبت مې په برخه کړې او کوم کړه وړه چې ستا محبت ته مانژدې کوي د هغو محبت راکړه، ای الله! ستا محبت ماته له خپل ځان، اهل اولاد او یخو اوبو څخه زیات محبوب او خوښ کړه.

**۲۹- (اللهم غشینی برحمتک وجنبنی عذابک)** ای الله! ما په خپل رحمت کې ونغاړه او د خپل عذاب څخه مې وژغوره.

**۳۰- (اللهم ثبت قدمی یوم تزل فیه الاقدام)** ای الله! په

هغه ورځ زما قدمونه ټینګ او کلک کړه چې د خلکو قدمونه ښویږي.

**۳۱- (اللهم حاسبنی حسابا یسیرا)** ای الله! د قیامت په ورځ راسره آسان حساب وکړه.

**۳۲- (رب اغفرلی خطیئتی یوم الدین)** ای الله! د قیامت په ورځ زما ګناه او خطاء وبښې.

**۳۳- (اللهم قنی عذابک یوم تبعث عبادک)** ای الله! ستا له عذاب څخه مې وساتې په هغه ورځ چې خپل بنده ګان را ژوندي کوی (یعنې د قیامت له عذاب څخه مې وساتې)

**۳٤- (اللهم ان مغفرتک اوسع من ذنوبی ورحمتک ارجی عندی من عملی)**

ای الله! ستا رحمت زما له ګناهونو څخه ډیر زیات پراخ او وسیع دی او د خپل عمل څخه زیات ستا رحمت ته هیله لرم.

**۳۵- (اللهم انی اسئلک رضاک والجنة و اعوذبک من غضبک والنار)** ای الله! زه ستا د رضا او جنت له تانه سوال کوم او پناه غواړم ستا له ناراضتیا او د دوزخ له عذابه.

**۳٦- (اللهم انی اعوذ برضاک من سخطک وبمعافاتک من عقوبتک و اعوذبک منک لا احصی ثنآء علیک انت کما اثنیت علی نفسک)**

ای الله! زه ستا له ناراضتیا څخه ستا په رضا سره پناه نیسم او ستا له عذاب څخه ستا په بښنې سره پناه نیسم او پناه غواړم په تاسره ستا له عذابه، زه ستا صفتونه بیانولای نشم لکه څنګه چې تا خپل صفتونه بیان کړي دي.

**۳۷- (اللهم اغفرلی وارحمنی وتب علی انک انت التواب الرحیم)** ای الله! ماته بښنه وکړې، پرما رحم وکړې، پرما لورینه او مهرباني وکړی، توبه مې قبوله کړی، بې شکه ته توبه قبلونکې او

مهربان يي.

**۳۸- (اللهم انت ربی لا اله الا انت انت خلقتنی وانا عبدک وانا علی عهدک و وعدک ماستطعت اعوذبک من شرما صنعت ابوءلک بنعمتک علی و ابوء بذنبی فاغفرلی ذنوبی انه لایغفر الذنوب الا انت)**

ای الله! ته زما رب يې، ستانه پرته بل هيڅوک د عبادت وړ نشته، زه دې پيدا کړي يم او زه ستا بنده يم او ترخپل وس او توانه ستا پر وعده او ژمنه ولاړ يم، زه له خپلو بدو کړنو څخه ستا پناه غواړم، پرخپل ځان ستا د نعمتونو اقرار کوم او د خپلو ګناهونو اقرارهم کوم، زما ګناهونه وبښې، بې له شکه ستا نه پرته د ګناهونو بښونکې بل هيڅوک نشته.

**۳۹- (اللهم انی اعوذبک من شر سمعی ومن شر بصری ومن شر لسانی ومن شر قلبی ومن شر منی و اعوذبک من عذاب جهنم ومن عذاب القبر ومن فتنة المسيح الدجال و اعوذبک من فتنة المحيا والممات)**

ای الله! زه پناه غواړم په تاسره د خپلو غوږونو له شر څخه او د خپلو سترګو له شر څخه او د خپلې ژبې له شر څخه او د خپل زړه له شر څخه او دخپل نفساني شهوت (منيو) له شر څخه او زه پناه غواړم په تاسره د دوزخ له عذاب څخه او د قبر له عذاب څخه او د دجال له فتنې څخه او پناه غواړم په تاسره د ژوند او مرګ له ټولو فتنو څخه.

**۴۰- (اللهم انی اسئلک من خير ماسئلک منه نبيک محمد صلی الله عليه وسلم و اعوذبک من شر مااستعاذ منه نبيک محمد صلی الله عليه وسلم)**

ای الله! زه له تانه د هغو ټولو ښيګڼو سوال کوم چې د هغو سوال ستا پيغمبر له

تانه کړی دی او زه له هغو ټولو بدیو او شرونو څخه په تا سره پناه غواړم چې ستا پیغمبر ورڅخه پناه غوښتې ده.

**۴۱- (اللهم صل علی محمد وعلی ال محمد کما صلیت علی ابراهیم وعلی ال ابراهیم انک حمید مجیدo اللهم بارک علی محمد وعلی ال محمد کما بارکت علی ابراهیم وعلی ال ابراهیم انک حمید مجیدo اللهم انزله المقعد المقرب عندک یوم القیامه و ابلغه الوسیلة والدرجة وابعثه مقاما محمود ن الذی وعدته وارزقنا شفاعته یوم القیمة انک لا تخلف المیعادo)**

ای الله! پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پر اهل اولاد رحمتونه نازل کړي لکه څنګه چې تا پر حضرت ابراهیمυ او د هغه پر اهل اولاد رحمتونه نازل کړي دي، ای الله! پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او دهغه پر اهل اولاد برکتونه نازل کړي لکه چې تا پر حضرت ابراهیمυ او دهغه پر اهل اولاد برکتونه نازل کړي دي، ته د ستاینې وړ او د بزرګی او لویوالي خاوند یې. ای الله! د قیامت په ورځ پخپل نژدې مقام کې ځای ورکړی او د وسیلې او درجې مقام ته یې ورسوې او مقام محمود یې په برخه کړې چې تا یې د هغه لپاره وعده کړې ده او د قیامت په ورځ زمونږ لپاره د هغه شفاعت نصیب کړې، بې له شکه ته د خپلې وعدې څخه خلاف نه کوې. آمین

## د ځانګړیو ختونو ځانګړې دعاګانې

رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځانګړیو وختونو او خاصو ځایونو لپاره د ډیرو دعاګانود لوستلو لارښوونه کړې ده، له هغو څخه هغه دعاګانې چې آسانې دي او هره ورځ لوستل کیږي دلته لیکل کیږي، د الله پاک په

توفيق او مرسته دغه دعاګاني زده کړئ او په خپل وخت او موقع يې ولولئ:

١- کله چې سهار شې نو ووایاست:

**(اللهم بک اصبحنا وبک امسينا وبک نحيى وبک نموت واليک المصير)**

اى الله! ستا په حکم سره موسهار کړ اوستا په حکم سره مو ماښام کړ او ستا په حکم ژوندي يو او ستا په حکم به مړه کيږو او ستا طرف ته درګرځيدل دي.

٢- همدارنګه چې کله ماښام شې نو ووایاست:

**(اللهم بک امسينا وبک اصبحنا وبک نحيى وبک نموت وإليک النشور)**

اى الله! ستا په حکم سره مو ماښام کړ او ستا په حکم مو سهار کړ او ستا په حکم مونږ ژوندي يو او ستا په حکم به مړه کيږو او بيا ستا طرف ته راپورته کيدل دي.

٣- کله چې د ويده کيدو په اراده پربستره ځملئ نو ووایاست:

**(اللهم باسمک اموت واحيى)** اى الله! ستا په نوم سره زما مړه کيدل او ژوندي کيدل دي.

٤- کله چې له خوبه را ويښ شئ نو ووایاست:

**(الحمد لله الذى احيانى بعد ما اماتنى واليه النشور)**

ټول صفتونه او ستاينې الله لره دي هغه ذات چې له مرګه پس يې زه ژوندي کړم او د هغه په لوري راپورته کيدل دى.

٥- کله چې د اودس ماتولو لپاره بيت الخلا ته ځئ نو ووایاست:

**(بسم الله اللهم انى اعوذبک من الخبث والخبائث)** د الله په نوم! اى الله! زه په تاسره پناه غواړم د نارينه او ښځينه شيطانانو څخه.

٦- کله چې له اودس ماتې څخه وزګار شئ او راوځئ نو

ووایاست:
**(الحمد لله الذی اذهب عنی الاذی وعافانی)** ټول صفتونه اوستاینې الله لره دي چې له ما څخه تکلیف (پلیتې) لرې شوه او عافیت یې راته راکړ.
۷- کله چې اودس کوئ:
نو په پیل کې **بسم الله الرحمن الرحیم** ولولئ او د اودس په مینځ مینځ کې دا دعاتکراروئ .
**(اللهم اغفرلی ذنبی ووسع لی فی داری وبارک لی فی رزقی)**
ای الله! زما ګناه وبښې او زما لپاره زما کور پراخ کړې او زما په روزی کې برکت واچوې.
۸- کله چې اودس پای ته ورسوئ نو ووایاست:
**(اشهد ان لا اله الا الله وحده لاشریک له واشهد ان محمدا عبده ورسوله اللهم اجعلنی من التوابین واجعلنی من المتطهرین)**
زه شاهدي ورکوم چې د الله نه پرته بل حقدار د بنده ګی نشته، هغه یو دی هیڅ شریک نلري او شاهدي ورکوم چې محمد (ص) د هغه بنده او رسول دی، ای الله! ما د توبه کوونکو او پاکانو څخه وګرځوې.
۹- کله چې جومات ته لاړ شئ نو لومړې ښې پښه دننه کړئ او ووایاست:
**(رب اغفرلی وافتح لی ابواب رحمتک)** زما پالونکیه ربه! ماته بښنه وکړې او زما لپاره د خپل رحمت دروازې برسیره کړې.
۱۰- کله چې له جومات څخه راوځئ نو کینه پښه لومړې را بهر کړئ او ووایاست:
**(رب اغفرلی وافتح لی ابواب فضلک)** ای زما ربه! ماته بښنه وکړې او زما لپاره دخپل فضل او کرم دروازې برسیره کړې.
۱۱- کله چې خوراک شروع کوئ نو ووایاست:

**(بسم الله وعلى بركة الله)** د الله په نوم او د هغه په برکت سره.

١٢- کله چې له خوراک څخه فارغ شئ نو ووایاست:

**(الحمدلله الذی اطعمنا وسقانا وجعلنا من المسلمین)**

ټول صفتونه او ستاینې الله لره دي چې خوراک او څښاک یې راکړ موږ ته او موږ یې له مسلمانانو څخه وګرځولو.

١٣- که دچا په کور کې د میلمستیا ډوډی وخورئ نو دا دعا هم وکړئ:

**(اللهم اطعم من اطعمنی واسق من سقانی)** ای الله! چا چې پرما خوراک وکړ هغه ته خوراک ورکړې او چا چې پرما څښاک وکړ څښاک ورکړې.

١٤- کله چې پرسورلۍ کښینئ نو دا دعا ولولئ:

**(الحمدلله ! سبحان الذی سخرلنا هذا وما کنا له مقرنین و انا الی ربنا لمنقلبون)**

ټول صفتونه او ستاینې الله لره دي، پاک دې هغه ذات چې دا سورلۍ یې زموږ لپاره مسخره کړې ده او موږ پخپله ددې په واک کې دراوستلو توان نلرو او موږ ټول خپل رب ته ورګرځیدونکي یو.

١٥- کله چې د سفر لپاره روانیږئ نو د الله پاک څخه داسې دعا وغواړئ:

**(اللهم هون علینا هذا السفر واطوعنا بعده، اللهم انت الصاحب فی السفر والخلیفة فی الاهل اللهم انی اعوذبک من وعثآء السفر وکابة المنظر وسوء المنقلب فی المال والاهل والولد)**

ای الله! په موږ باندې دا سفر اسان کړې او لرې والې یې لنډ کړې، ای الله! ته په سفر کې زما ملګرې یې او زما د کور حفاظت کوونکی او ساتونکی یې، ای الله! زه پناه غواړم په تا سره د سفر له کړاو څخه او ددې

حالت د لیدلو څخه او له بیرته راګرځیدو وروسته د بد حالت له لیدلو څخه په مال، او کور او اولاد کې.

۱٦- کله چې د سفر څخه راستانه شئ نو دا دعا ولولئ:

**(آئبون تآئبون عابدون لربنا حامدون)** مونږ له سفر څخه راستنیدونکي یو، توبه کوونکي یو، عبادت کوونکي یو او د خپل رب حمد او ثنا ویونکي یو.

۱۷- کله چې څوک رخصتوئ او خدای په امانې ورسره کوئ نو دا دعا وکړئ:

**(استودع الله دینک وامانتک وخواتم اعمالک)** زه الله پاک ته سپارم ستا دین او ستا دساتنې وړ شیان او ستا د عملونو خاتمې.

۱۸- کله چې کوم مصیبت وهلې ووینئ نو دا دعا ووایاست:

**(الحمد لله الذی عافانی مما ابتلاک به وفضلنی علی کثیر ممن خلق تفضیلا)**

ټول صفتونه او ستاینې الله لره دي چې زه یې په عافیت کې وساتلم له دې مصیبت څخه چې ته یې پکې اخته کړی یې او پر خپلو ډیرو مخلوقاتو یې ماته غوره والې را کړی، دا ټول د هغه فضل او کرم دی زما کوم کمال نه دی.

۱۹- کله چې کوم ښار ته ننوځئ نو دا دعا ووایاست:

**(اللهم بارک لنا فیها)** ای الله! زمونږ د پاره په دې ښار کې برکت واچوې او دا زمونږ لپاره نیمکرغه وګرځوې.

۲۰- کله چې له کوم مجلس څخه پاڅیږئ نو دا دعا ولولئ:

**(سبحانک اللهم وبحمدک لا اله الا انت استغفرک واتوب الیک)**

ای الله! زه ستا پاکې بیانوم، او ستا حمد

اوثـنـا وایـم، ستـانـه پـرتـه بـل هیڅوک د عبـادت لایـق نـشتـه، لـه تـانـه بـښنه غـواړم او تـاتـه تـوبـه کـوم.

**ومن الله التوفیق**